

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

سپاره نمبر 13

ډاکټر محمد عثمان نظامي

# بسم الله الرحمن الرحيم

۞ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾

۞ وَمَآ أُبَرِّئُ او زه نه بري کوم(او زه پاکي نه بیانوم) نَفۡسِيٓۚ د خپل ځان إِنَّ ٱلنَّفۡسَ بېشکه نفس لَأَمَّارَةُۢ یقیناً حکم کوونکۍ دی بِٱلسُّوٓءِ په بدی سره إِلَّا مَا پرته د هغه (نفس) څخه رَحِمَ چې رحم پرې کړۍ وي رَبِّيٓۚ رب زما إِنَّ رَبِّي بېشکه رب زما غَفُورٞ بخښونکۍ رَّحِيمٞ رحم کوونکۍ دی ﴿٥٣﴾

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ﴿٥٤﴾ قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ﴿٥٥﴾

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ او پاچا وویلې ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ چې ماته هغه علیه السلام راولۍ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ چې د خپل ځان دپاره یې(مشیر) خاص کړم فَلَمَّا خو کله یې چې كَلَّمَهُۥ د هغه علیه السلام سره خبرې وکړي قَالَ (نو ورته یې) وویلې إِنَّكَ بېشکه ته ٱلۡيَوۡمَ نن لَدَيۡنَا زمونږ سره مَكِينٌ أَمِينٞ د لوړې مرتبې والا،امانتګر یې(پا چا خو د دې څخه مخکې د یوسف علیه السلام معتقد شوۍ و،خو کله یې چې ورسره مخ په مخ خبرې وکړي،نو بیخي یې مخلص او معتقد شو،کله چې یوسف علیه السلام پاچا ته وویلې،چې اوس

تاسو ته ښايې چې په دې اوه کلونو کې غلې جمعه کړئ،بيا چې د قحط کلونه راشي،د اطرافو څخه به خلک راځي،او در څخه به يې اخلي،نو داسې خزانې به جمع کړئ چې بل هيڅ چا به هم نه وي جمعه کړي،نو پاچا ورته وويلې چه دا انتظام به څوک وکړي؟«کابلی تفسير») ﴿٥٤﴾ قَالَ هغه(يعني يوسف عليه السلام ورته)وويلې ٱجۡعَلۡنِي ما مقرر کړه عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ د ملک په خزانو باندې إِنِّي بېشکه زه حَفِيظٌ ښه ساتونکی عَلِيمٞ پوه يم ﴿٥٥﴾

وَكَذَٰلِكَ او داسې مَكَّنَّا مونږ قدرت ورکړو لِيُوسُفَ يوسف(عليه السلام ) ته فِي ٱلۡأَرۡضِ (د مصر) په ځمکه کې يَتَبَوَّأُ اوسيدلو به مِنۡهَا د هغې(ځمکې) حَيۡثُ کوم ځای يَشَآءُۚ چې به هغه غوښتل نُصِيبُ ورکوو مونږ بِرَحۡمَتِنَا رحمت خپل مَن نَّشَآءُۖ چا ته چې وغواړو وَلَا نُضِيعُ او مونږ نه بربادوو أَجۡرَ اجر(او ثواب) ٱلۡمُحۡسِنِينَ د نيکانو ﴿٥٦﴾ وَلَأَجۡرُ او يقيناً اجر ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت خَيۡرٞ ډېر بهتر دی لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړی وَكَانُواْ يَتَّقُونَ او پرهيزګار وي ﴿٥٧﴾

وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِن لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا تَقۡرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٦٢﴾

کله چې یوسف علیه السلام ته د مصر د حکومت اقتدار او اختیار
ورکول شو،نو د خوب د تعبیر مطابق اول اوه کلونه ډیر اباد وو،نو
ده علیه السلام په دې اوه ابادو کلونو کې لوی لوی ګودامونه او
ذخیرې جوړې کړې،بزګران یې وهڅول،او ډیرې زیاتې غلې یې
ذخیره کړې،بیا چې کله د قحطۍ کلونه راغلل،نو د خوا او شاه
ملکونو څخه به هم خلک د غلې د اخستلو دپاره مصر ته
راتلل،یوسف علیه السلام به د هر کس په سر یو معلوم مقدار غله په
ډیر مناسب او ارزان قیمت سره ورکوله،چې یوه ورځ داسې هم
راغله چې:د یوسف علیه السلام ورونه هم د کنعان څخه د غلې د
اخستلو دپاره راغلل!

وَجَآءَ او راغلل إِخۡوَةُ ورونه يُوسُفَ د یوسف علیه السلام
فَدَخَلُواْ او ورننوتل عَلَيۡهِ هغه علیه السلام ته فَعَرَفَهُمۡ نو هغه
علیه السلام دوی (یعنې خپل ورونه) وپیژندل وَهُمۡ او دوی لَهُۥ
مُنكِرُونَ هغه علیه السلام ونه پیژندلو.(ځکه چې یو خو تقریباً شل
کلونه په منځ کې تیر شوي وو،او بله دا چې د دوی عقل دا نه
منله،چې عزیز د مصر دې د دوی ورور یوسف علیه السلام وي)
﴿٥٨﴾
یوسف علیه السلام د ورونوډیره ښه میلمستیا او عزت وکړو،او د
سرې په سر یې یو اوښ بار غله ورکړه،ورونو یې چې د هغه
علیه السلام دومره عالي اخلاق او مهرباني ولیدله نو ورته یې
وویل چې:زمونږ یو میرنی ورور په کور کې د پلار خدمت ته
پاتې دی،که د هغه برخه غله هم راکړې نو دا به ستاسو ډیره
مهرباني وي،یوسف علیه السلام ورته وفرمایل:خو چې بل ځل
راځئ هغه میرنی ورور هم راولئ،چې ما ته ستاسو د خبرې

تصديق وشي،او كه را مو نه وستو،نو زه به پوه شم چې تاسو ما
ته د دې دپاره دروغ ويلي وو،چې يو اوښ غله زياته ويسئ،چې
په دې صورت كې به د جزا په ډول نه تاسو ته نوره غله دركول
كيږي،او نه به ما ته د راتلو اجازه دركول كيږي.
وَلَمَّا او كله چې جَهَّزَهُم هغه عليه السلام تيار كړل هغوى ته
بِجَهَازِهِمۡ سامان د سفر د هغوى(يعني د هر ورور په سر يې د
غلې يو اوښ بار وركړو،نو) قَالَ هغه عليه السلام (ورته)
وويلې(چې بيا راتلئ،نو) ٱئۡتُونِي ما ته راولئ بِأَخٖ لَّكُم ستاسو
هغه ورور مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ چې ستاسو د پلار نه دى(يعني ميرنى
ورور،د دې دپاره چې ورونه يې زړور شي او بيا راتلو ته زړه
ښه كړي،ورته وايي چې) أَلَا تَرَوۡنَ آيا تاسو نه ګورئ أَنِّيٓ چې
زه أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ پوره وركوم پيمانه(غله) وَأَنَا۠ او زه خَيۡرُ ښه
ٱلۡمُنزِلِينَ ميلمه پالونكى يم ﴿٥٩﴾ فَإِن خو كه چيرته لَّمۡ تَأۡتُونِي
بِهِۦ تاسو هغه رانه وستلو فَلَا نو بيا نشته كَيۡلَ پيمانه(يعني
غله) لَكُمۡ تاسو ته عِندِي زما سره وَلَا تَقۡرَبُونِ او(بيا) ما ته
مه رانيزدې كيږئ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ هغوى(يعني ورونو يې )وويلې
سَنُرَٰوِدُ مونږ به هڅه وكړو چې رضاء كړو عَنۡهُ أَبَاهُ د هغه
پلار(يعقوب عليه السلام چې راسره يې راپريږدي) وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ
او مونږ خامخا د دې كار كوونكي يو(چې هغه به د ځان سره
راولو،خو كله يې چې ورونه روانيدل،نو كوم مال چې دوى د غلې
د قيمت په بدل كې وركړئ وو،نو!) ﴿٦١﴾ وَقَالَ هغه عليه السلام
وويلې لِفِتۡيَٰنِهِ خپلو ملازمينو ته چې: ٱجۡعَلُواْ چې بيرته كيږدئ
بِضَٰعَتَهُمۡ د دوى(هغه)مال (چې د غلې د اخستلو دپاره يې مونږ ته
راكړئ دى) فِي رِحَالِهِمۡ د دوى په بارونو كې لَعَلَّهُمۡ د دې
دپاره چې دوى يَعۡرِفُونَهَآ وپيژني هغه(مال) إِذَا كله چې
ٱنقَلَبُوٓاْ دوى بيرته لاړ شي إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ خپلو كورونو ته(نو چې
خپل مال وګوري،خوشاله به شي،نو په دې توګه لَعَلَّهُمۡ شايد

دوی يَرۡجِعُونَ بيا راشي(د غلې پسې،او زما ورور هم راولي)
﴿٦٢﴾

فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا
نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿63﴾ قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ
أَخِيهِ مِن قَبۡلُ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿64﴾ وَلَمَّا فَتَحُواْ
مَتَٰعَهُمۡ وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ رُدَّتۡ إِلَيۡهِمۡۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبۡغِيۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا
رُدَّتۡ إِلَيۡنَاۖ وَنَمِيرُ أَهۡلَنَا وَنَحۡفَظُ أَخَانَا وَنَزۡدَادُ كَيۡلَ بَعِيرٖۖ ذَٰلِكَ كَيۡلٞ يَسِيرٞ
﴿65﴾ قَالَ لَنۡ أُرۡسِلَهُۥ مَعَكُمۡ حَتَّىٰ تُؤۡتُونِ مَوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأۡتُنَّنِي بِهِۦٓ إِلَّآ
أَن يُحَاطَ بِكُمۡۖ فَلَمَّآ ءَاتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿66﴾

فَلَمَّا او کله چې رَجَعُوٓا هغوی بيرته راغلل إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ خپل پلار (يعقوب عليه السلام ته نو ورته يې) قَالُوا وويلي يَٰٓأَبَانَا ای پلاره(که د يوسف عليه السلام ورور زمونږ سره عزيز د مصر ته لاړ نشي،نو د اینده لپاره) مُنِعَ مِنَّا الۡكَيۡلُ په مونږ غله بنده ده فَأَرۡسِلۡ نو ولیږه مَعَنَآ زمونږ سره أَخَانَا زمونږ ورور نَكۡتَلۡ چې غله راوړو وَإِنَّا او بيشکه مونږ به د لَهُۥ هغه لَحَٰفِظُونَ خامخا ساتونکي يو (٦٣)

قَالَ (يعقوب عليه السلام ورته) وويلي هَلۡ آيا ءَامَنُكُمۡ زه په تاسو اعتبار وکړم عَلَيۡهِ د ده په باره کې إِلَّا كَمَآ هغسې لکه څنګه أَمِنتُكُمۡ چې ما اعتبار کړئ ؤ په تاسو عَلَىٰٓ أَخِيهِ د ده د ورور(يوسف عليه السلام) په باره کې مِن قَبۡلُۖ مخکې د دې نه فَٱللَّهُ الله تعالی خَيۡرٌ ډېر ښه حَٰفِظٗاۖ ساتونکی دی وَهُوَ او

هغه جل جلاله أَرْحَمُ الرَّٰحِمِين تر ټولو زيات رحم کوونکی دی (۶۴)

وَلَمَّا او کله چې فَتَحُوا دوی خلاص کړل مَتَٰعَهُمْ بارونه خپل وَجَدُوا پيدا يې کړل(ويې ليدلو) بِضَٰعَتَهُمْ مال خپل(کوم چې دوی د غنمو د اخستلو په بدل کې عزيز مصر ته ورکړۍ وو) رُدَّتْ چې بيرته ورکول شوۍ وو إِلَيْهِمْ ۖ دوی ته(د عزيز د مصر د طرفه) قَالُوا دوی وويلي يَٰأَبَانَا اې پلاره مَا نَبْغِى ۖ مونږ نور څه غواړو هَٰذِهِۦ دا دی بِضَٰعَتُنَا زمونږ(هغه مال(چې د غلې په بدل کې مونږ ورکړۍ وو) رُدَّتْ بيرته راکول شوۍ دی إِلَيْنَا ۖ مونږ ته(نو ورور مونږ سره پريږده،مونږ بايد بيا لاړ شو) وَنَمِيرُ چې غله راوړو أَهْلَنَا خپل اهل ته وَنَحْفَظُ او مونږ به ساتنه کوو أَخَانَا د ورور خپل وَنَزْدَادُ او زياته به راوړو كَيْلَ غله بَعِيرٍ ۖ يو(بار)د اوښ(يعني د اوښ يو بار غله به زياته راوړو) ذَٰلِكَ دا(د اوښ يو بار) كَيْلٌ غله يَسِيرٌ به آسانه(لاس ته راشي) (۶۵)

قَالَ يعقوب عليه السلام ورته وويلي لَنْ أُرْسِلَهُۥ زه به هيڅکله هغه ونه ليږم مَعَكُمْ ستاسو سره حَتَّىٰ تر هغې پورې چې تُؤْتُونِ تاسو ما ته راکړۍ مَوْثِقًا کلکه وعده مِّنَ اللَّهِ د الله تعالى په نوم لَتَأْتُنَّنِى بِهِۦٓ چې هغه به خامخا ما ته بيرته راولئ إِلَّآ أَن مګر دا چې يُحَاطَ بِكُمْ ۖ تاسو(پخپله) محاصره شئ فَلَمَّآ نو کله چې ءَاتَوْهُ دوی ورکړه هغه ته مَوْثِقَهُمْ کلکه وعده(د الله تعالى په نوم سره چې حتماً به يې بيرته درته راولو) قَالَ نو

يعقوب عليه السلام وويلې چې اللَّهُ الله تعالی عَلَىٰ مَا په هغو (خبرو)باندې نَقُولُ چې مونږ يې کوو وَكِيلٌ شاهد دی. (۶۶)

وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدۡخُلُواْ مِنۢ بَابٖ وَٰحِدٖ وَٱدۡخُلُواْ مِنۡ أَبۡوَٰبٖ مُّتَفَرِّقَةٖۖ وَمَآ أُغۡنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍۖ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَعَلَيۡهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴿67﴾

يعقوب عليه السلام د يوسف عليه السلام وړور ته مصر ته د تللو اجازه ورکړه!

وَقَالَ او ځامنو ته يې وويلې يَٰبَنِيَّ ای ځامنو!( چې مصر ته ورسيدئ،نو!) لَا تَدۡخُلُواْ مه ننوځئ (مصر ته) مِنۢ بَابٖ وَٰحِدٖ د يوې دروازې نه(د داخليدلو ځلور دروازې وې) وَٱدۡخُلُواْ او داخل شئ مِنۡ أَبۡوَٰبٖ مُّتَفَرِّقَةٖۖ د مختلفو دروازو څخه وَمَآ أُغۡنِي او زه نه شم بچ کولای عَنكُم ستاسو نه مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍۖ د الله تعالی(د مصيبت) نه هيڅ شی إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ د الله تعالی د امر نه پرته د بل هيڅچا امر نه چليږي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ ما په هغه جل جلاله توکل کړئ وَعَلَيۡهِ او په هغه«جل جلاله» باندې فَلۡيَتَوَكَّلِ بايد توکل وکړي ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ توکل کوونکي. ﴿67﴾

وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِى عَنْهُم مِّنَ ٱللَّهِ ٦٧
مِن شَىْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِى نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَا ۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَٰهُ
وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٦٨ وَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ
أَخَاهُ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ٦٩

وَلَمَّا او كله چې دَخَلُوا داخل شول دوی(مصر ته) مِنْ حَيْثُ د هغه ځای نه(يعني د بيلابيلو دروازو څخه) أَمَرَهُمْ چې دوی ته حكم كړی و أَبُوهُم پلار خپل مَّا كَانَ (خو د پلار دې احتياطي تدبير)نه شو يُغْنِي لرې كولای عَنْهُم د دوی نه مِّنَ اللَّهِ د الله تعالی (د فيصلي نه) مِن شَيْءٍ هيڅ شی إِلَّا مګر (دا كار د ممكنه خطر د مخنيوي دپاره) حَاجَةً يو تدبير و فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ د يعقوب عليه السلام په زړه كې قَضَاهَا ۚ چې هغه پوره كړو(يعني يعقوب عليه السلام د ممكنه خطر د مخنيوي دپاره عقل او علم استعمال كړل،احتياطي تدبير يې جوړ كړو،او نور يې په الله تعالی توكل وكړو،او د دې تدبير نتيجه يې الله تعالی ته وسپارله،ځكه چې) وَإِنَّهُ بېشكه هغه عليه السلام لَذُو عِلْمٍ خاوند د علم و لِّمَا عَلَّمْنَاهُ هغه علم چې مونږ هغه ته وربښودلي و(يعني عقل او فكر يې استعمال كړل او د خطر څخه د بچ كيدلو تدبير يې جوړ كړو،دا په دې معنی چې د خطر د مخنيوي دپاره يې اسباب استعمال كړل،او نور يې توكل په الله تعالی وكړو،يعني نتيجه يې الله تعالی ته پرېښوده،ځكه هغه عليه السلام ته دا علم و چې زمونږ د اسبابو د استعمالولو او د ارادې حقيقي پوره كوونكی الله تعالی دی،دا په دې معنی كه مونږ هر څومره اسباب استعمال كړو او د يو كار د كولو اراده وكړو، ليكن زمونږ د ارادې د پوره كولو او نه پوره كولو ټول حقيقي اختيار د الله تعالی په لاس كې دی،يعني تر څو چې زمونږ اراده د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره نه شي هغه كار نه كيږي) وَلَٰكِنَّ ليكن أَكْثَرَ النَّاسِ زيات خلک لَا يَعْلَمُونَ (په دې حقيقت)نه پوهيږي.

نوټ:_دلته انسانانو ته درس وركول كيږي،چې:انسانان بايد د دنيا په ژوند او دنيايي معاملاتو كې خپله اراده،عقل،فكر او اسباب

استعمال کړي،او توکل په الله تعالی وکړي،یعنې نتیجه به یې الله
تعالی ته سپاري،ځکه چې د انسان د ارادې پوره کول او نه پوره
کول د الله تعالی د ارادې پواسطه کیږي،دا په دې معنی که الله
تعالی وغواړي د انسان اراده پوره کیږي،او که الله تعالی ونه
غواړي،د انسان اراده نه پوره کیږي،یعنې په غیرې مستقیم ډول
ټول کارونه پخپله الله تعالی کوي،ځکه چې زمونږ د وجود، کوم
چې زمونږ سره د الله تعالی امانت دی، یوه عضوه حتې یو اتوم
یې هم پرته د الله تعالی د ارادې څخه نه حرکت کولای شي،او نه
خوځیدلای شي.
مثلاً ـــــکه کور کې مالګه نه وي،نو د مالګې د حاصلولو دپاره
سړي ته د مالګې اخستلو اراده او د اسبابو استعمالول ضرور
دي،لیکن که د سړي د ارادې او اسبابو د استعمالولو سره سره د
الله تعالی د ارادې پواسطه د سړي د مالګې د اخستلو اراده پوره نه
شي،نو هیڅکله به یې مالګ کور ته رانشي،کیدای شي چې په لار
کې مریض شي او بیرته تش لاس کور ته راشي،کدای شي چې د
مالګې دکان بند وي،کیدای شي چې مالګه په دکان کې نه وي یا
پیسې ترې ورکې شوي وي،او د ارادې او اسبابو د استعمالولو
باوجود سړی بیرته تش لاسونه کور ته راشي،خو دا هم باید ذکر
شي چې د ارادې او اسبابو د استعمال څخه پرته به هم په ټول
عمر کې مالګه کور ته رانشي.)

اووَلَمَّا او کله چې دَخَلُواْ هغوی ورننوتل عَلَىٰ يُوسُفَ یوسف
علیه السلام ته (یوسف علیه السلام یې ډېر عزت وکړو،او)
ءَاوَىٰٓ او هغه(یعنې یوسف علیه السلام) ځای ورکړو إِلَيۡهِ د
خپل ځان سره أَخَاهُۖ خپل ورور ته(د میرنیو ورونو څخه یې
پټ د ځان سر کینولو،او ورته یې) قَالَ وویلې إِنِّىٓ أَنَا۠ بېشکه

زه أَخُوكَ ستا وړور يم(يوسف ع) فَلَا تَبْتَئِسْ نو(نور) مه
غمجن کيږه بِمَا په هغه څه چې كَانُواْ يَعْمَلُونَ دوی کول. ٦٩

فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِي رَحۡلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا
ٱلۡعِيرُ إِنَّكُمۡ لَسَٰرِقُونَ (70) قَالُواْ وَأَقۡبَلُواْ عَلَيۡهِم مَّاذَا تَفۡقِدُونَ (71) قَالُواْ
نَفۡقِدُ صُوَاعَ ٱلۡمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمۡلُ بَعِيرٖ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٞ (72)
قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ عَلِمۡتُم مَّا جِئۡنَا لِنُفۡسِدَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ (73)
قَالُواْ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمۡ كَٰذِبِينَ (74) قَالُواْ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِي
رَحۡلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ (75) فَبَدَأَ بِأَوۡعِيَتِهِمۡ قَبۡلَ
وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسۡتَخۡرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِۚ كَذَٰلِكَ كِدۡنَا لِيُوسُفَۖ مَا كَانَ
لِيَأۡخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلۡمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ
وَفَوۡقَ كُلِّ ذِي عِلۡمٍ عَلِيمٞ (76) ۞قَالُوٓاْ إِن يَسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ
مِن قَبۡلُۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفۡسِهِۦ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡۚ قَالَ أَنتُمۡ شَرّٞ مَّكَانٗاۖ
وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ (77) قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا
فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ (78) قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ
إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ (79) فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ
خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ
ٱللَّهِ وَمِن قَبۡلُ مَا فَرَّطتُمۡ فِي يُوسُفَۖ فَلَنۡ أَبۡرَحَ ٱلۡأَرۡضَ حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ
أَبِيٓ أَوۡ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ (80)

فَلَمَّا نو کله چې جَهَّزَ هغه عليه السلام تيار کړل هُم هغوی ته
بِجَهَازِهِمۡ سامان د هغوی جَعَلَ (نو)هغه عليه السلام کيښود
ٱلسِّقَايَةَ جام فِي رَحۡلِ په سامان کې أَخِيهِ د خپل وړور ثُمَّ

بیا أَذَّنَ غږ وکړو مُؤَذِّنٌ یو غږ کوونکي أَيَّتُهَا ٱلۡعِيرُ ای
قافلي والوو! إِنَّكُمۡ لَسَٰرِقُونَ بېشکه تاسو غله یئ.(په دي کي د
یوسف علیه السلام تدبیر وو،تر څو چي خپل سکنی ورور د قانون
د مخي ورسره پاتي شي،نه د زور او زبردستی د لاري،او بیا
وروسته به حقیقت ټولو ته ښکاره شي) (70) قَالُواْ وَأَقۡبَلُواْ عَلَيۡهِم
هغوی (یعني د یوسف علیه السلام ورونه راوګرځېدل هغوی ته او
پوښتنه یې وکړه مَّاذَا تَفۡقِدُونَ ستاسو نه څه شی ورک شوئ دی؟
(71) قَالُواْ دوی(یعني د باچا نوکرانو ورته) وویلي نَفۡقِدُ صُوَاعَ
ٱلۡمَلِكِ د باچا جام ورک شوي دی(او خانه سامان یي وویل)
وَلِمَن او د هغه چا دپاره جَآءَ بِهِۦ چي دغه(د باچا جام راوړي)
حِمۡلُ بَعِيرٖ د اوښ یو بار(انعام ورکول کیږي) وَأَنَا۠ بِهِۦ او زه د
دي(خبري چي یو بار د اوښ به انعام ورکول کیږي) زَعِيمٞ ذمه
وار یم. (72) قَالُواْ هغوی(یعني د یوسف علیه السلام ورونو
ورته)وویلي تَٱللَّهِ قسم په الله لَقَدۡ عَلِمۡتُم تاسو ښه پوهیږئ چي
مَّا جِئۡنَا لِنُفۡسِدَ مونږ د دي دپاره نه یو راغلي،چي فساد وکړو
فِي ٱلۡأَرۡضِ (د مصر) په ځمکه کي وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ او نه
مونږ غله یو. (73) قَالُواْ (نوکرانو ورته)وویلي فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ نو
څه سزا ده د هغه(چي غلا یي کړي وي) إِن كُنتُمۡ كَٰذِبِينَ که
چیرته تاسو درغجن ثابت شئ(یعني که ستاسو خبره دروغ شي او
غل په تاسو کي پیدا شي،نو بیا د هغه دپاره ستاسو په دین کي څه
جزا ده) (74) قَالُواْ هغوی(یعني د یوسف علیه السلام ورونو
ورته) وویلي جَزَٰٓؤُهُۥ د هغه جزا مَن وُجِدَ فِي رَحۡلِهِۦ د چا په
سامان کي چي(جام) پیدا شي فَهُوَ نو همهغه (سړی) جَزَٰٓؤُهُۥۚ د
دي بدله ده(یعني د غلاشوي شي په بدل کي به غلام کیږي)
كَذَٰلِكَ دغه شان نَجۡزِي مونږ جزا ورکوو ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو
ته(یعني د یعقوب علیه السلام په شریعت کي به غل ته داسي جزا
ورکول کیدله،چي د غلا شوي مال د مالک سره به یو کال د غلام

په حیث پاتې کیدلو) (75) فَبَدَأَ نو هغه(یعنې یوسف علیه السلام)
شروع وکړه(د لټولو) بِأَوۡعِيَتِهِمۡ د هغوی(یعنې د ورونو) د
بوجیو څخه قَبۡلَ وِعَآءِ أَخِيهِ مخکې د خپل سکه ورور د بوجۍ
څخه ثُمَّ بیا یې وروسته(د ورورر بوجۍ ولټوله او) ٱسۡتَخۡرَجَهَا
هغه (جام)یې راوویستلوو مِن وِعَآءِ أَخِيهِۚ د خپل سکه ورور د
بوجۍ څخه كَذَٰلِكَ كِدۡنَا لِيُوسُفَۖ مونږ د یوسف ع دپاره داسې
تدبیر وکړو مَا كَانَ او د یوسف ع دپاره ممکن نه وه، لِيَأۡخُذَ
چې ایسار کړي أَخَاهُ ورور خپل فِي دِينِ ٱلۡمَلِكِ (د مصر) د
باچا په قانون کې إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ مګر هغه چې الله تعالی
وغواړي(هغه کیږي) نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ اوچتوو درجې چا
ته چې زمونږ خوښه شي وَفَوۡقَ كُلِّ ذِي عِلۡمٍ عَلِيمٞ او د هر علم
لروونکي دپاسه یو بل لوی عالم شته دی (76) ۞قَالُوٓاْ
هغوی(ورونو یې)وویلې إِن يَسۡرِقۡ که دا(ورور یې) غلا
کوي(نو دا کومه نوې خبره نه ده) فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ یقیناً د ده
ورور هم غلا کړې وه مِن قَبۡلُۚ د دې نه مخکې فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ
خو یوسف علیه السلام(دومره غټه د تهمت خبره چې ورونو یې
ورباندې وویلې) پټه کړه فِي نَفۡسِهِۦ په خپل زړه کې وَلَمۡ يُبۡدِهَا
لَهُمۡۚ او هغوی ته یې ښکاره نکړه(چې زه یوسف یم،ما کله غلا
کړې،چې تاسو راباندې دومره لوی تهمت وتړلو،خو په زړه کې
یې!) قَالَ وویلې أَنتُمۡ شَرّٞ مَّكَانٗاۖ تاسو ډیر بد خلک یئ وَٱللَّهُ
أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ او الله تعالی ښه پوهیږي په هغه څه چې تاسو یې
وایاست(وایئ) (77) قَالُواْ هغوی(ورونو یې) وویلې يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ
ای عزیزه!(د مصر د خزانو مسؤله!) إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا
بېشکه د ده یو زوړ پلار دی،ډیر بوډا فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ نو د ده
په ځای یو زمونږ څخه ونیسه(او دا پریږده) إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ بېشکه مونږ ګورو تا د نیکانو څخه(یعنې مونږ وینو
چې ته ډیر نیک سړی یې،نو په مونږ دا احسان وکړه) (78) قَالَ

هغه(یعنې یوسف علیه السلام ورته) وویلې مَعَاذَ ٱللَّهِ د الله تعالی
پناه غواړو(د دې خبرې نه) أَن نَّأۡخُذَ چې مونږ(بل څوک) ونیسو
إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ غیر د هغه چا نه چې مونږ د هغه سره
خپل سامان موندلئ دی إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ (كه داسې مو ونه
كړل)بېشكه مونږ به په دغه وخت كې ظالمان یو (79) فَلَمَّا
ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خو كله چې دوی د هغه علیه السلام څخه نااميده
شول خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ (نو د خلكو نه) د مشورې دپاره جدا شول
قَالَ كَبِيرُهُمۡ د دوی مشر(ورور) وويل أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ آیا تاسو نه
پوهيږئ أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ چې پلار مو ستاسو
څخه سخته وعده د الله تعالی (په نوم) اخستې وه وَمِن قَبۡلُ مَا
فَرَّطتُمۡ فِي يُوسُفَۖ او د دې نه مخكې هم تاسو د یوسف علیه
السلام په باره كې تقصیر(كوتاهي) كړې وه فَلَنۡ أَبۡرَحَ ٱلۡأَرۡضَ نو
زه به د دې ځمكې څخه لاړ نشم حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ أَبِيٓ تر څو چې
پلار اجازه رانكړي أَوۡ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ یا الله تعالی زما په حق كې
فیصله وكړي وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ او هغه«جل جلاله»د تولو نه
بنه فیصله كوونكی دی،(۸۰)

ٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ فَقُولُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدۡنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا
وَمَا كُنَّا لِلۡغَيۡبِ حَٰفِظِينَ (81)

ٱرۡجِعُوٓاْ (مشر ورور ورته وایې) تاسو لاړ شئ إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ خپل
پلار ته فَقُولُواْ او ورته ووایئ يَٰٓأَبَانَآ ای پلاره إِنَّ ٱبۡنَكَ
بېشكه ستا ځوی سَرَقَ غلا وكړه(په مصر كې،او د غلا په جرم
كې ونیول شو) وَمَا شَهِدۡنَآ او مونږ شاهدي ورنكړه إِلَّا بِمَا
عَلِمۡنَا مګر څه چې مونږ ته معلوم وو وَمَا كُنَّا او نه وو مونږ
لِلۡغَيۡبِ حَٰفِظِينَ د غیبو حفاظت كوونكې(یعنې مونږ یوازې په هغه

څه شاهدي ورکړي چې مونږ پرې پوهیدو،او مونږ د غیبو«پټو چارو»ساتونکې نه وو.) (81)

وَسْئَلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِيٓ أَقْبَلْنَا فِيهَاۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ (82)

وَسْئَلِ او(که زمونږ په خبره باور نکوي،نو) پوښتنه وکړه ٱلْقَرْيَةَ د هغه کلي(د خلکو څخه) ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا په کوم کې چې مونږ (په مصر کې) اوسیدو وَٱلْعِيرَ او د هغې قافلې(د خلکو څخه هم پوښتنه وکړه) ٱلَّتِيٓ أَقْبَلْنَا فِيهَاۖ په کومه کې چې مونږ(د مصر څخه) راغلي یو وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ او بیشکه مونږ ریښتیني یو (82)

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًاۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ (83)

قَالَ هغه(یعقوب علیه السلام ورته) وویلې بَلْ (داسې نه ده) بلکې سَوَّلَتْ لَكُمْ ښایسته(اوآسانه) کړو تاسو ته أَنفُسُكُمْ ستاسو نفسونو أَمْرًاۖ یو کار فَصَبْرٌ جَمِيلٌۖ نو صبر بهتر دی عَسَى امید دی ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي چې الله تعالی به راولې ما ته بِهِمْ جَمِيعًاۚ دوی ټول(یعنې یوسف علیه السلام او د هغه سکنی ورور او د تولو مشر ورور چې په مصر کې پاتې شوئ وو) إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ بیشکه هم هغه«جل جلاله» ښه پوه او د حکمت خاوند دی. (83)

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ (84)

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ او د هغوی څخه يې مخ واړولو وَقَالَ او ويې ويل
يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ هَی هَی يوسفه! وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ او سترګې
يې سپينې شوې وې(د سترګو تور يې سپين شوي وو) مِنَ ٱلۡحُزۡنِ
د غمه فَهُوَ كَظِيمٞ او هغه عليه السلام د غمونو پټوونکی
وو.(غمونه يې زغمل) (84)

قَالُواْ تَٱللَّهِ تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوۡ تَكُونَ مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ (85)

قَالُواْ هغوی(ځامنو ورته) وويلې تَٱللَّهِ په الله قسم تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ
يُوسُفَ ته خو هميشه يوسف عليه السلام يادوې حَتَّىٰ تَكُونَ
حَرَضًا تر دې پورې چې(يا به وريسې) مريض شې أَوۡ تَكُونَ
مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ يا (به وريسې )مړ شې (85)

قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ (86)

قَالَ هغه(يعقوب عليه السلام ورته) وويلې إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي
وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ بېشکه زه خپل غم او خفګان يوازې الله تعالی ته

بيانوم وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ او زه د الله تعالى د طرف
څخه په هغه څه پوهيږم چې تاسو پرې نه پوهيږئ (86)

يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ
لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ (87)

او نور ورته وايې!

يَٰبَنِيَّ اى ځامنو ٱذۡهَبُواْ لاړشئ فَتَحَسَّسُواْ او لټون وکړئ مِن
يُوسُفَ د يوسف عليه السلام وَأَخِيهِ او د هغه د ورور وَلَا
تَاْيۡـَٔسُواْ او مه نااميده كيږئ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ د الله تعالى د رحمت
څخه إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ ببشكه نه نااميده كيږي مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ د الله
تعالى د رحمت څخه إِلَّا مگر ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ قوم د كافرانو (د
الله تعالى د رحمت څخه نااميده كيږي) (87)

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيۡهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئۡنَا بِبِضَٰعَةٖ
مُّزۡجَىٰةٖ فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ وَتَصَدَّقۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ
(88) قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ (89)
قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ
إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ (90)

د یعقوب علیه السلام د وینا سره سم د یوسف علیه السلام ورونه د دریم ځل دپاره بیا مصر ته لاړل.

فَلَمَّا نو کله چې: دَخَلُواْ عَلَيۡهِ دوی، هغه(یعني یوسف علیه السلام ته) ورننوتل قَالُواْ دوی وویلې يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ ای عزیزا (ای عزتمنده) ! مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا ٱلضُّرُّ مونږ او زمونږ کورنی ته (د شدید قحط په سبب سخت مصیبت) او تکلیف ورسیدو وَ او(د مالي مشکلاتو په سبب،دا ځل) جِئۡنَا بِبِضَٰعَةٖ مُّزۡجَىٰةٖ مونږ کم قیمته مال(یعني لږي پیسي د غلې د اخستلو دپاره) راوړي دي فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ خو ته مونږ ته پوره غله راکړه(څومره غله چې زمونږ حق وي،هغه هم راکړه) وَ او(نوره) تَصَدَّقۡ عَلَيۡنَآۖ خیرات راکړه(ځکه چې زمونږ اقتصادي او مالي حالت اوس دومره خراب دی،چې د خیرات مستحق یو) إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ بېشکه الله تعالی خیرات ورکوونکو ته بدل ورکوي. (88)
کله چې یوسف علیه السلام د ورونو زړه دردونکې او رقت امیزه خبرې واوریدلې،نور یې زړه ټینګ نه شو،سترګې یې د اوښکو څخه ډکې شوې،او فیصله یې وکړه،چې ځان ورته ښکاره کړي، نو ورته یې!
قَالَ وویلې هَلۡ عَلِمۡتُم آیا ستاسو یاد دي مَّا فَعَلۡتُم چې تاسو څه کړي بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ د یوسف او د هغه د ورور سره إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ هغه وخت چې تاسو نه پوهیدلئ(دلته ډېره مهمه نکته ده،هغه دا چې:یوسف علیه السلام نه غوښتل چې ورورنه یې ذلیل او ډېر زیات خفه شي،ځکه چې د ځان د ښکاره کولو سره سم یې، هغوی ته د جرم څخه د ځان د خلاصولو خبره هم په خوله کې ورکړه،یعني تاسو چې څه کړي،هغه صرف د جهالت او ناپوهۍ په سبب شوي دي،ورونو یې د یوسف علیه السلام (عزیز مصر)

په دې خبرو ،ټکان وخوړلو،ځکه چې دا خبرې خو صرف يوسف عليه السلام او هغوی ته معلومې وې،سمدستې يې هغه خوب را په زړه شو،چې يوسف عليه السلام ليدلئ وو،بس شکمن شو،نو ورته يې! ) (89) قَالُوٓاْ وويلې أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ آيا ته يوسف(ع) يې قَالَ يوسف عليه السلام (ورته) وويلې أَنَا۠ يُوسُفُ (هو) زه يوسف يم وَهَٰذَآ أَخِيۖ او دا مې وررور دی قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ بېشکه الله تعالی په مونږ رحم وکړو إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ يقيناً څوک چې پرهيزګارې او صبر کوي فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ نو پرته د شک څخه الله تعالی د نيکانو اجر نه ضايع کوي (90)

قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ (91) قَالَ لَا تَثۡرِيبَ
عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ (92) ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي
هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ بَصِيرٗا وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ أَجۡمَعِينَ (93)
وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ أَبُوهُمۡ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ لَوۡلَآ أَن تُفَنِّدُونِ
(94) قَالُواْ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلۡقَدِيمِ (95) فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ
عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ (96) قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ (97) قَالَ
سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ (98) فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ
يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ (99)
وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدٗاۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأۡوِيلُ
رُءۡيَٰيَ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا رَبِّي حَقّٗاۖ وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ
ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ مِنۢ بَعۡدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بَيۡنِي وَبَيۡنَ
إِخۡوَتِيٓۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ (100)

ۛقَالُواْ تَٱللَّهِ هغوی وویلې لَقَدْ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيْنَا ببشکه ته په
مونږ باندې الله تعالی غوره کړئ يې وَإِن كُنَّا لَخَٰطِئِينَ او پرته د
شک څخه مونږ مونږ خطاکار وو (91) قَالَ (یوسف علیه السلام
ورته) وويلې لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ نن په تاسو څه پېره نشته
دی يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ الله تعالی دې تاسو ته بخښنه وکړي وَهُوَ
أَرْحَمُ الرَّحِمِينَ هغه جل جلاله تر ټولو زيات رحم کوونکی
دی(۹۲) او ورونو ته وايې،چې کور ته لاړ شئ،او!
اذْهَبُوا بِقَمِيصِى هَٰذَا زما دغه کميس درسره ويسئ فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ
وَجْهِ أَبِى او زما د پلار په مخ باندې يې وغورځوئ يَأْتِ بَصِيرًا
بيرته به بينا شي وَأْتُونِى بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ او ستاسو ټوله کورنی
ماته راولئ (۹۳) وَلَمَّا او کله چې فَصَلَتِ ٱلْعِيرُ قافله (د مصر
څخه) روانه شوه قَالَ أَبُوهُمْ د هغوی پلار (يعقوب علیه السلام
په کنعان کې) وويلې إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ ببشکه زه د يوسف
علیه السلام بوی احساسوم لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ که تاسو يې(د زړښت
يا احساساتو له امله)زما تيروتنه نه ګڼئ (94) قَالُوا (د کور
خلکو ورته)وويلې تَاللَّهِ په الله قسم إِنَّكَ لَفِى ضَلَٰلِكَ الْقَدِيمِ ته لا
تر اوسه په پخوانی اشتباه کې يې(يعنې پخوا هم تا اشتباه کوله چې
يوسف علیه السلام دې ژوندی ګڼلو،او اوس هم د پخوا پشان اشتباه
کوې) (۹۵) فَلَمَّآ نو کله چې أَن جَآءَ الْبَشِيرُ زيری راوړونکی
راغئ(او د يوسف علیه السلام کميس يې راوړو) أَلْقَٰهُ عَلَىٰ
وَجْهِهِۦ هغه يې د هغه(يعقوب علیه السلام) په مخ باندې واچاوه
فَارْتَدَّ بَصِيرًا ۖ نو بيرته بينا شو قَالَ هغه(يعقوب علیه السلام د
کور خلکو ته)وويلې أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ آيا ما تاسو ته نه و ويلې إِنِّىٓ
أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ چې زه د الله تعالی د طرفه په هغه څه
پوهيږم چې تاسو پرې نه پوهيږئ (۹۶) قَالُوا هغوی(د يوسف

علیه السلام وروڼو)وویلې يَٰٓأَبَانَا ای پلاره ٱسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَآ
زمونږ دپاره(د الله تعالی نه) زمونږ د ګناهونو بخښنه وغواړه إِنَّا
كُنَّا خَٰطِـِٔينَ بېشکه مونږ خطاکاران وو (٩٧) قَالَ (یعقوب علیه
السلام) وویل سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ ۖ زر به د خپل رب څخه
ستاسو دپاره بخښنه وغواړم إِنَّهُۥ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ بېشکه
هغه«جل جلاله» بخښونکی او مهربان دی (٩٨) فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ
يُوسُفَ نو کله چې(یعقوب علیه السلام او کورنۍ یې) یوسف علیه
السلام ته ورسیدل ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ هغه علیه السلام خپل مور او
پلار د خپل ځان سره کښینول وَقَالَ او (خپلې ټولې کورنۍ ته
یې)وویل ٱدْخُلُواْ مِصْرَ ځئ،اوس مصر ته لاړ شئ إِن شَآءَ ٱللَّهُ
ءَامِنِينَ که د الله تعالی خوښه وي،نو په آمن او بې غمۍ سره به
اوسئ (99)
وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ نو یوسف علیه السلام خپل مور او پلار
(د درناوي او عزت په توګه)په اوچت تخت باندې کښینول
وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًاۖ او هغوی(ټولو مور،پلار او وروڼو) د هغه علیه
السلام په وړاندې د تعظیم سجده وکړه(د مخکینیو پیغمبرانو په
شریعتونو کې تعظیمي سجده جایز وه،خو د محمد صلی الله علیه
والسلم په شریعت کې مطلق حرام او ناجایز ده) وَقَالَ او یوسف
علیه السلام وویل يَٰٓأَبَتِ ای!پلاره هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰيَ مِن قَبْلُ دا د
هغه خوب تعبیر دی،چې ما د مخه درته بیان کړئ و قَدْ جَعَلَهَا
رَبِّي حَقًّاۖ بېشکه زما رب هغه رېښتیا کړو وَقَدْ أَحْسَنَ بِيٓ او
بېشکه هغه جل جلاله په ما احسان وکړ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجْنِ
کله یې چې زه د زندان نه راوېستم وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ او تاسو
یې د صحرا څخه راوستلئ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِي وَبَيْنَ
إِخْوَتِيٓۚ وروسته د هغې،چې شیطان زما او زما د وروڼو تر منځ
دښمني واچوله إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُۚ بیشکه زما رب د هغه
څه دپاره چې هغه«جل جلاله» یې غواړي،ډېر باریک تدبیر

کوونکی دی إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ بېشکه هغه جل جلاله ښه پوه او حکمت والا دی (100)

۞رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ (101)

اوس یوسف علیه السلام دعا کوي!

۞رَبِّ ای زما ربه! قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ بېشکه تا ما ته د سلطنت څخه برخه راکړه وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ او د خوبونو د تعبیر علم دي را زده کړ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ د آسمانونو او ځمکي خالق یي أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ په دنیا او آخرت کي ته زما سرپرست یي تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا نو وفات کړي ما په داسي حال کي چي فرمانبردار یم وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ او د صالحو بندهګانو سره مي یوځای کړه (101)

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ (102) وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ (103) وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ (104)

ذَٰلِكَ دا(کیسه) مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ د هغو غیبي خبرونو د جملي څخه ده نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ چي مونږ یي تا ته وحي کوو وَمَا كُنتَ

لَدَيۡهِمۡ  ته خو د هغوی(د يوسف عليه السلام د ورونو) سره نه وي
إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ  کله چي هغوی(يوسف عليه السلام ته د ضرر
رسولو په اړه) پټه مشوره وکړه  وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ  او مکر يې کاوه.
(102) وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ  خو ډېر خلک  وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ  که
څه هم ته ځومره زياته هڅه او مينه ورسره وکړې،ايمان نه
راوړي (103)
وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ  او ته د دې پيغام په بدل کې د هغوی
څخه هيڅ اجر نه غواړې  إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ  دا خو يوازې
يو يادوونکی پيغام دی،چې د ټول عالم دپاره دی(دلته اشاره ده،چې
قرآن يوازې د عربو دپاره نه دی بلکې د ټولې دنيا د پاره هدايت
دی (104)

وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ عَنۡهَا
مُعۡرِضُونَ (105) وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ (106)

وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ  او ځومره ډېرې نښانې  فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ  په
آسمانونو او ځمکه کې شته  يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا  چې دوی وربانديې
تيرېږي(ستورې،کهکشانونه،لمر،سپوږمی،مختلف
حيوانات،نباتات،غرونه،سيندونه،هوا،...و غيره ټول د الله تعالی
نښانې«کائناتي آيتونه»دي،خلک يې ګورې،خو غور وربانديې نه
کوي ،چې دا هر څه ولې او څنګه جوړ شوي دي،او څنګه
چليږي،پخپل ډی اين ای غور نه کوي،چې د مرګ د وخت
پورې،د انسان د جوړيدلو او ژوند کولو ټوله نقشه او پروګرام
پکې ليکل شوی دی،په روزمره ژوند کې چې هر څه کيږي،ټول د
همدې نقشې او پروګرام د مخې کيږي،البته په تشريعي کارونو کې
بالکل ازادي لرې،ليکن د ازادۍ سره سره بيا هم چې کوم کار

کوي،هغه هم مخکې د مخکې په دی این ای کې لیکل شوئ وي،لیکن خلک ،خصوصاً د یویشتمي پیړی انسان دا هر څه ګورې،خو بیا هم غور نکوي،چې دا هر څه څنګه،ولې او څوک کوي«که ښه ځان پوهول غواړئ،زما کتاب«اسلام،الحاد او سایس»کې د ساینس او تقدیر د عنوان لاندې بحث ولولئ ) وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ او (په بې اعتنایی سره) ترې مخ اړوي (105) وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ او اکثره د دوی په الله تعالی باندې ایمان نه راوړي إِلَّا مګر(که د دوی څخه څوک ایمان راوړي هم،هغه داسې وي، چې په ظاهره په الله تعالی ایمان راوړي،خو دا داسې ایمان وي،چې د شرک سره ګډ وي،لکه یهودیانو عزیر علیه السلام،عیسایانو عیسی علیه السلام،د مکې مشرکانو ملائیکې د الله تعالی اولاد او شریکان کړل،د محمد صلی الله علیه وسلم اکثره امتیانو چا نبي علیه السلام چا علي رضی الله عنه چا اولیاء او بزرګان چا پیران او قبرونه........و غیره وغیره د الله تعالی سره شریکان جوړ کړي دي،او ټول الله تعالی ته د رسیدو او د جنت دعوه کوي،) وَهُم مُّشْرِكُونَ حال دا چې دوی(ټول)مشرکان دی(نه به الله تعالی راضي کړي،او نه به د الله تعالی د جنت مستحق شي) (106)

أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأْتِيَهُمْ غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (107)

أَفَأَمِنُوٓاْ آیا دوی ځانونه خوندي ګڼي أَن تَأْتِيَهُمْ غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ د دې څخه،چې ناڅاپه،یو هر اړخیز عذاب د الله تعالی د لورې پرې راشي أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ یا دا چې قیامت راورسي،

بَغۡتَةٗ ناڅاپه وَهُمۡ په داسې حال کې چې دوی لَا يَشۡعُرُونَ هيڅ احساس نلرې (107) ای انسانه!که د الله تعالی د عذاب نښې نادیده نیسي،که د قیامت د راتلو څخه سترګې پټوي،که د دعوت اوریدل،او نیک عمل کول درته درانه ښکاري،نو دا مه هیروه،چې حقیقت ناڅاپه او بې خبره راځي،د دنیا په لنډ ژوند کې که غافلان د عذاب څخه بچ دي،دا د هغوی د هوښیارتیا او حقانیت نښه نه ده،چې ګڼي دوی په حقه دي،ځکه عذاب پرې نه راځې،بلکې دا صرف مهلت دی.

قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ (108)

قُلۡ ووایه(ای محمد«صلی الله علیه و سلم» هَٰذِهِۦ دا ده سَبِيلِيٓ زما لار أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ زه او هغه څوک چې زما پیروي کوي،د پوره بصیرت سره خلک د الله تعالی لورې ته رابولو(د چا ړوند تقلید نه کوو،بلکې د علم،حکمت او یقین سره،نه د ځان دپاره،نه د قدرت دپاره ،نه د شهرت دپاره او نه د کومې ډلې دپاره،بلکې یوازې د الله تعالی طرف ته خلکو ته دعوت او بلنه ورکوو) وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ او پاک دی الله تعالی(د هر ډول شریک څخه سپیڅلی دی) وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ او زه د هغو کسانو څخه نه یم،چې څوک د الله تعالی سره شریک نیسي. (108)

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ أَفَلَمۡ
يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ
ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ (109)

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ او ستا څخه مخکې مونږ نه دي
لیږلي(پیغمبران) إِلَّا رِجَالٗا مګر سړي پیغمبران(مو لیږلي دي)
نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مونږ هغوی ته وحي کوله مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ د
ښارونو د اوسیدونکي څخه(یعني په ملائیکو،پیریانو او ښځو کې
پیغمبر نه دی تیر شوئ،ټول د همدغو ښارونو او ولسونو خلک
وو،انسانان وو،کوم نااشنا او نابلده بل کوم مخلوق نه وو. ) أَفَلَمۡ
يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ آیا دوی په ځمکه کې نه ګرځې فَيَنظُرُواْ
چې وګورې كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ چې د دوی څخه د
مخکینیو خلکو انجام څنګه شو وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ او
د آخرت کور د هغه چا دپاره ډیر غوره دی،چې تقوا کوي أَفَلَا
تَعۡقِلُونَ نو آیا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ (109)

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا
فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ (110) لَقَدۡ كَانَ
فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ
ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ (111)

حَتَّىٰٓ (د پخوانیو پیغمبرانو سره هم همداسې شوي دي،چې هغوی
ډیر وخت نصیحت وکړ،خو خلکو وانه وریدو،غور یې ونکړو)
تر دې پورې إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ کله چې پیغمبران(د هغوی د

ایمان راوړلو څخه) نااميده شو وَظَنُّوٓاْ او خلکو هم دا وانګیرله
أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ چې(د عذاب په په حقله) هغوی ته درواغ ویل
شوي وو جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا نو پیغمبرانو ته زمونږ مرسته
ورسیدله(کله چې داسې وخت راځي،نو زمونږ قانون دا دی)
فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ چې چا ته مو خوښه شي نو نجات ورکوو وَلَا
يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ او په مجرمانو زمونږ د عذاب د
راتلو مخه نشي نیول کیدلای. (110) لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ
لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ د مخکینیو خلکو په دغو کیسو کې د پوهانو دپاره
عبرت دی (دا څه چې په قرآن کې بیانیږي) مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ
دا د ځانه جوړي شوي خبرې نه دي وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ
بلکې دا د هغه (وحې شوو کتابونو) تصدیق دی چې د دې څخه
مخکې نازل شوي وو وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ او دا د هر څه مفصل
بیان دی وَهُدٗى او هدایت دی وَرَحۡمَةٗ او رحمت دی لِّقَوۡمٖ
يُؤۡمِنُونَ د هغو خلکو دپاره چې ایمان راوړي (١١١)

# سورة الرعد

## بسم الله الرحمن الرحيم

الٓمٓر ۚ تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱلْكِتَـٰبِ ۗ وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ١

الٓمٓر ۚ د دې په معنی يوازې الله تعالی پوهيږي تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱلْكِتَـٰبِ ۗ دا (د الله تعالی) د كتاب آيتونه دي وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ او هغه څه چې تا ته ستا د رب د طرف نه نازل شوي دي ٱلْحَقُّ ريښتيا دي وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ خو ليكن اكثره خلک ايمان نه راوړي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ يُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ ٢

ٱللَّهُ ٱلَّذِى الله تعالی هغه(ذات) رَفَعَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ چې آسمانونه يې اوچت كړي دي بِغَيْرِ عَمَدٍ په غير د ستنو تَرَوْنَهَا ۖ چې تاسو يې وينئ (يعني ټول آسماني اجرام لكه لمر،سيارې او

کهکشانونه،ټول الله تعالی د ثقل د قوي،ډارک متر او ډارک انرجي پواسطه په فضاء کې په معلومو فاصلو کې،په منظم ډول په خپلو مدارونو کې ټینګ کړي دي،

د الله تعالی د قوانینو څخه یو د ثقل(ګرایویټي) قانون دی،ثقل یا جاذبه یوه قوه ده،چې سپوږمۍ د ځمکې سره نښلوي،ځمکه د لمر شاوخوا تاووي،او حتی کهکشانونه یو د بل سره په ارتباط کې ساتي.

ډارک متر یا تیاره ماده په سترګو نشو لیدلای،خو تاثیر یې احساسوو،دا ماده د کهکشانونو په ثبات کې ډېر مهم رول لري،دا په دې معنی چې تیاره ماده یا ډارک متر هم نه لیدل کیدوونکې ستنه ده.

ډارک انرجي یا تیاره انرجي! دا هغه پټ طاقت دی چې کائنات پراخوي.

دا هم د الله تعالی یو امر دی،چې فضاء هر وخت پراخیږي.

ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ بیا یې پر عرش استوا وکړه(الله تعالی اسمانونه او ځمکه او هر څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي،پیدا کړل،خو د پیدا کولو څخه وروسته یې همداسې پخپل سر پرې نه ښودل،او نه یې بل مخلوق ته حواله کړل،او نه یې څوک د ځان سره شریک کړل،بلکې،د ټولو موجوداتو واک،نظم او اداره یې پخپله غاړه واخسته) وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ او لمر او سپوږمۍ یې مسخر کړل(الله تعالی لمر او سپوږمۍ د داسې نظام تابع کړل،چې د انسان د نظم،بقا او محاسبې خدمت کوي،مثلاً د لمر پواسطه د

انرجي او رڼا جوړيدل،او د فوتوسنتيز عمل(يعنې د نباتاتو پواسطه غذا جوړول.او د سپوږمۍ پواسطه د شپې رڼا،د بحرونو مد او جزر«ښکته کيدل او جګيدل»، د ورځو او مياشتو حساب) كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ هر يو(لمر او سپوږمۍ په خپلو مدارونو «يا لارو»کې) د يو ټاکلي وخت پورې روان دي(يعنې لمر او سپوږمۍ د يو ټاکلي وخت پورې کار کوي،د الله تعالی دا قانون د ټول مخلوق دپاره دی،انسانان،حيوانات،نباتات،ستورې او کهکسانونه ټول په دنيا کې د يو محدود او معلوم وخت پورې چليږي ، کار کوي،خو د وخت او مهلت د ختميدو سره سم،دوی هم ختميږي) يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ هغه«جل جلاله» د کارونو تدبير کوي(الله تعالی د ټولو کارونو منظم اداره کوونکی،تنظيموونکی او پلان جوړوونکی دی،د کائناتو د وړو ذرو نه تر لوړو آسمانونو پورې،ټول د هغه«جل جلاله» د تدبير لاندې دي،دا په دې معنی چې هيڅ شی اتفاقاً نه پيښيږي،الله تعالی هر کار ته يوه حکمتناکه نقشه لرې،که څه هم مونږ نتيجه ژر نه ګورو،خو الله تعالی ټول حالات سنبالوي،يعنې کله چې ته نه پوهيږي،چې ولې يو کار وشو،نو په ياد ولره!چې د هر څه شا ته الله تعالی دی،او دا کار بې حکمته نه دی.) يُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ هغه«جل جلاله»(د خپل وحدانيت او قدرت نښې او) دلايل واضحه بيانوي(ټول فزيکي قوانين چې په کائناتو کې کار فرما دي،دا ټول د الله تعالی د وجود،وحدانيت او قدرت نښې دي،چې الله تعالی د کائناتو د چلولو دپاره جوړ کړي،او همهغه«جل جلاله يې په کائناتو کې تطبيقوي) لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ (دا بيانول) د دې دپاره دي چې تاسو د خپل رب سره د ملاقات کولو يقين پيدا کړئ (يعنې دا هرڅه لمر، سپوږمۍ،ژوند ،مرګ،طبيعت.....د الله تعالی د شتون او

قدرت نښې دي،الله تعالی يې مونږ ته بيانوي،تر څو د غفلت د خوب نه راويښ شو،او پوه شو چې:ژوند هدف لرې.پای ته رسيږي،او يوه ورځ به د خپل رب سره مخامخ شو،نو بايد د هغه«جل جلاله»اطاعت وکړو،او د قيامت دپاره چمتو شو ٢

وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنْهَـٰرًا ۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ٣

وَهُوَ ٱلَّذِى او الله تعالی هغه ذات دی مَدَّ ٱلْأَرْضَ چې ځمکه يې هواره کړې (داسې چې انسان په کې ژوند سفر او کار کولای شي،زراعت،کورونه،ښارونه او لارې پکې جوړيږي.دا مبارک آيت د انسان د ظاهري مشاهدې مطابق دی،قران د فطرت مطابق خبرې کوي،نه دا چې د حقيقي ساينس ضد،ځکه چې دواړه د وحې او د ساينس علمونه د الله تعالی د طرفه دي،وحې د الله تعالی قول،او حقيقي ساينس د الله تعالی د فعل يعني د کائناتو مطالعه ده ،ځمکه کروي ده،فلټ نه ده،خو دومره لويه ده،چې مونږ ته هواره ښکارې،تاسو پوهيږئ چې د اوبو سطحه هواره ده،که د بحر په غاړه کښينئ،او يوه کشتۍ روانه شي،نو لږ وروسته به نه يوازې کوچنۍ ښکاري،بلکې ورو ورو به د سترګو پټه شي،حتی که دوربين هم استعمال کړئ،بيا يې هم نشئ ليدلای،دا حادثه د ځمکې انحنا ثابتوي،که ځمکه فلټ وای،نو کشتۍ به صرف وړه شوئ وای،نه دا چې د سترګو څخه پټه شي،ساينس هم وايې چې ځمکه کروي شکل لرې،خو د استوا يا مرکزي برخه کې لږ پراخه

ده«استوا هغه خيالي خط دی،چې د دواړو قطبونو تر منځ،د ځمکې د محيط څخه تاو شوي دی»،او د ځمکې سطحه شاوخوا ۸ کيلو مترو کې ۵ متره ښکته ګيږي،

يوه مهمه نکته:«مد»،پراخوالي،او غځولو ته هم وايي،ساينس هم اوس وايي چې د ځمکې د استوا قطر يا د استوا د خط د خيالي دايرې قطر ۱۲۷۵۳ کيلو متره دی،او د قطبينو تر منځ قطر ۱۲۷۱۴ کيلو متره دی،،يعنې استوايي قطر د قطبينو تر منځ قطر څخه ۴۲ کيلو متره زيات دی،دا په دې معنی چې ځمکه په استوايي يا مرکزي برخه کې ۴۲ کيلو متره پراخه شوي ده،په «مد» کې د ځمکې استوايي پراخوالي ته هم اشاره ده،چې ساينس د شلمې پيړۍ څخه مخکې پرې نه پوهيدو، دا د قران علمي اعجاز دی،انسان د ډېرو کوششونو او تجربو څخه وروسته هغه څه پيدا کوي چې قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې ورته اشاره کړې ده .) وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ او غرونه يې پکې جوړ کړل(ساينس اوس ثابته کړې چې:د ځمکې د سطحې لاندې پليټونه يا خوځيدونکې تختې دي،د دې تختو يا پليټو د حرکت يا ټکر،يا يوبل باندې د خوييدو له امله زلزلې پيداکيږي،غرونه يوازې دا نه چې د ځمکې د سطحې دپاسه دي بلکې،ريشې يې د ځمکې د سطحې لاندې هم دي،چې د ځمکې د پليټونو د حرکت کنټرول او د زلزلو مخنيوئ کوي،خو دا حقيقت د ساينسي تحقيق څخه د مخه ۱۴۰۰ کاله مخکې قرآن بيان کړئ دی«و القى فى الارض رواسى ان تميد بكم-النحل-۱۵»ترجمه!او هغه جل جلاله په ځمکه کې د غرونو ميخونه ټکوهل،چې په تاسو باندې ونه ښوريږي،چې دا هم د قران علمي معجزه ده ) وَأَنْهَـٰرًا ۖ او سيندونه (يې په ځمکه کې جوړ کړل،تر څو انسان او نور

موجودات پرې ژوند وکړي،سيندونه د هايدرولوجيکل سايکل( يو
مهمه  مرحله ده،هايدرولوجيکل سايکل د اوبو فطري دوران
دی،اوبه د لمر د تودوخي پواسطه د بخار په شکل د
بحرونو،جهيلونو،او سيندونو څخه پورته خوا ته ځي،وريځې ترې
جوړيږي،کله چې وريځې درني شي د باران،واورې او ګلۍ په
شکل ځمکې ته راځي،څه جذبيږي او څه سيندونه او سيلابونه
جوړي او بحرونو ته ځي،او سايکل يا دوران بيا تکراريږي)
وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ   او د هر قسم ميوو نه يې
په دې(ځمکه کې) دوه دوه جوړي(يعنی مذکر او مونث) پيدا کړي(د
ساينس پوهانو د خوا نه په ۱۹۰۰ م کالونو کې د نباتاتو جنسي
جوړښت تثبيت او تشريح شو،پوهانو وموندل چې:نباتات هم د نارينه
او ښځينه برخو څخه جوړ شوي دي، د ميوو توليد د نر يا مذکر ګل
د ګردې«پولن» او د ماده يا مونث ګل د تخمدان تر منځ تعامل ته
اړتيا لري،دا ساينسي کشف هغه څه وو،چې قرآن ۱۴۰۰ کاله
مخکې دا علمي حقيقت بيان کړئ وو،دا د قرآن د معجزې د ښکاره
نښو څخه ده،چې د الله تعالی کتاب د هرې زمانې مخکې د علم
حقايق ښکاره کړي دي  يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ   شپه په ورځ
خوروي(په دې کې د ځمکې کروي شکل او حرکت ته اشاره
ده،ځکه د شپې خوريدل په ورځ باندې په هغه صورت کې ممکن
دي،چې ځمکه کروي،او د لمر مخې ته په خپل محور
تاويږي،بالکل،که تاسو د فضاء څخه ځمکې ته وګورئ،د قرآن د
تعبير مطابق ښکارې،ځمکه د لمر مخې ته په خپل محور
تاويږي،کومه سطحه يې چې د لمر خواته راځي هلته ورځ کيږي،او
کومه سطحه يې چې د لمر نه پناه کيږي هلته شپه کيږي،او کټ مټ

د قرآن د وینا مطابق دا منظر د فضاء څخه داسې ښکاري،لکه یو تور څادر چې په تدریجي توګه په یو سپین جسم خوریږي،یعنې شپه په ورځ خوریږي،

د فضاء نه ځمکه داسې ښکاري



## يُغْشِى الَّيْلَ النَّهَارَ

<u>په ورځې باندې شپه خوروي</u>

سبحان الله! دا د قرآن ډېره لويه علمي معجزه ده!صرف په شلمه پيړۍ کې ساينس پوهانو د علمي او عيني شواهدو په اساس دا د يو علمي حقيقت په حيث ثبوت او قبوله کړه،چې ځمکه کروي،او په خپل محور د لمر مخې ته ګرځې،حال دا چې قرآن عظيم الشان ۱۴۰۰ کاله مخکې دا خبره د اخرني علمي حقيقت په حيث بيان کړي ده) إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍۢ لِّقَوْمٍۢ يَتَفَكَّرُونَ (دا چې ذکر شو) بيشکه په دې(ټولو)کې (د الله تعالی د شتون،وحدانيت او قدرت) نښې دي د هغو خلکو دپاره چې فکر کوي(د الله تعالی په قراني او کائناتي اياتونو کې،يعني هغه څوک چې د الله تعالی په آيتونو غور او فکر کوي صرف هغوی فايده اخستئ شي،ليکن هغوی چې ټول غور او فکر يې د دنيا او پيسو په باره کې،۵ دقيقی په ۲۴ ساعتو کې نه د ځان نه د الله نه د قران او نه د کائناتو په باره کې غور او فکر کوي هغوی ته فايده نه کوي) ۳

وَفِى ٱلْأَرْضِ قِطَعٌۭ مُّتَجَـٰوِرَٰتٌۭ وَجَنَّـٰتٌۭ مِّنْ أَعْنَـٰبٍۢ وَزَرْعٌۭ وَنَخِيلٌۭ صِنْوَانٌۭ وَغَيْرُ صِنْوَانٍۢ يُسْقَىٰ بِمَآءٍۢ وَٰحِدٍۢ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍۢ فِى ٱلْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍۢ لِّقَوْمٍۢ يَعْقِلُونَ ٤ ۞

وَفِى ٱلْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَٰوِرَٰتٌ په ځمکه کې(داسې) څنګ په څنګ پټي دي وَجَنَّٰتٌ مِّنْ أَعْنَٰبٍ (چې په يو پټي کې) د انګورو باغونه دي وَزَرْعٌ او (په بل پټي کې) فصلونه دي(لکه غنم،جوار،اوربشي....) وَنَخِيلٌ او(په بل کې)د کجورو ونې دي صِنْوَانٌ (چې ځنې، څو ونې د يو تخم يا) يوې ريښې څخه راوتلي وي وَغَيْرُ صِنْوَانٍ او ځينې ونې،(هره يوه ونه د بيل بيل تخم يا)بيلي ريشي نه راوتلي وي يُسْقَىٰ بِمَآءٍ وَٰحِدٍ (او دا ټول انګور،فصلونه او د کجورو ونې) په يو قسم اوبو خړوبه کيږي(يعني يو قسم خاوره او يو قسم اوبه) وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِى ٱلْأُكُلِ ۚ خو مونږ په هغوی کې ځينو ته په ځينو نوروباندې په ميوه(او خوند) کې فضيلت ورکوو(يعنې نږدې پټي چې ممکن د فزيکي يا طبيعي لحاظه مشابه شرايط ولري،خو حاصل يې فرق لري،دا فرق د خالق تخليقي قدرت دی،نه د موادو تصادفي بدلون. إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (دا په يو قسم شرايطو کې د مختلفو حاصلاتو ورکول) په دې کې(د الله تعالی د شتون،وحدانيت او قدرت)نښې دی،د هغو خلکو دپاره چې عقلونه استعمالوي(يعنې په دې خبره غور او فکر کوي،چې دا ولې داسې کيږي،او د ولې د جواب د پيدا کولو کوشش کوي.) ٤ ۞

په دې مبارک آيت کې قرآنکريم انسان ته د غور،فکر او تحقيق دعوت ورکوي.

د ښه پوهيدلو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ډېر ضرور دي،هيله ده چې ښه په غور سره يې ولولئ!

تر اوسه چې ساینس پوهانو کشف کړي دي،په دنیا کې ټول ۱۱۸ عناصر دي،چې د دې جملې څخه ۹۲ طبیعي او ۲۶ په مصنوعي ډول په لابراتوار کې جوړ شوي دي،همدغه محدود عناصر یا مواد دي،چې نامحدود ډیزاینونه ترې جوړیږي،دا په دې معنی،چې د یو قسم موادو څخه مختلف شیان جوړیږي!

مثلاً: یوه طیاره هم د المونیم،اوسپنی،کاربن،مس،کروم،نکل،سیلیکان،

او لیتیم څخه جوړه شوي ده.

او یو موټر هم د همدې موادو څخه جوړ شوئ دی،سوال پیدا کیږي،چې:مواد یو قسم دي،نو تولیدات ولې مختلف دي؟

جواب:خبره د یو قسم موادو نه ده،بلکې خبره د بیلو بیلو کارخانو ده،د طیارو جوړولو کارخانه د همدې موادو څخه طیاره جوړوي،او د موټر جوړولو کارخانه د همدې موادو څخه موټر جوړوي،

دا په دې معنی چې د طیارو جوړولو کارخانه داسې ډیزاین او جوړه شوي ده،چې همدغه مواد په داسې ترتیب،تناسب او مقدار استعمالوي،چې طیاره ترې جوړیږي،او د موټر جوړولو کارخانه داسې ډیزاین شوي ده چې همدغه عناصر یا مواد په داسې ترتیب،تناسب او مقدار استعمالوي،چې موټر ترې جوړیږي.د دې ځای پورې مونږ.یوه شو چې:عناصر یا مواد محدود او معلوم دي،لیکن تولیدات اوډیزاینونه یې لامحدود دي،چې د انسانانو او مختلفو کارخانو پواسطه د نومړو عناصرو د خاص ترتیب،تناسب

او خاص مقدار د استعمالولو پواسطه جوړیږي،لکه موبایل،کمپیوټر،ساعتونه.........و غیره وغیره.

اوس لږ مخکې ځو!

لکه چې ذکر شو، د دې ۹۲ طبیعې عناصرو د جملې څخه صرف ۲۵ طبیعې عناصر چې عبارت دی د

C,H,O,N,P,S,K,Na,Ca,Mg,Cl,F,Zn,Cu,Mn,I,Se,MoCo, Ni,Cr,B,F,Si,Vڅخه،

د انسانانو،حیواناتو، نباتاتو او مایکروبونو په جوړښت کې په مشترک ډول استعمالیږي،یعنې په ټولو ژوندیو موجوداتو کې همدغه ۲۵ عناصر یا مواد کاریږي،خو بیا هم هماغه مخکینی سوال:چې ټول جوړیدونکې مواد یې یو قسم دي،نو بیا ژوندي موجودات مختلف ولې دي؟یعنې د یو قسم موادو څخه هم انسان جوړیږي،هم حیوان،هم نبات هم مایکروب،دا ولې؟

جواب:په غور یې ولولئ!

الله تعالی د تخلیق په لومړیو څلور ورځو کې،د ځمکې د جوړولو سره سره،پکې د ټولو ژوندیو مخلوقاتو د ضرورت وړ عناصر هم پیدا کړل.د دې تر څنګ،الله تعالی د هر ژوندي موجود د جوړښت دپاره جلا جلا فطري کارخانې(یعنې لومړنی حجرې) هم جوړې کړې،دا فطري کارخانې داسې ډېزاین شوي دي،چې دي این ای پکې اصلي نقش او رول لرې،یعنې د دې کارخانو ټول ماشینونه صرف د ډي این ای د پروګرام او هدایت په اساس کار کوي،

ډی این ای یوه الهامې برنامه ده،چې هماغه محدود شاوخوا ۲۵ طبیعي عناصر په یو خاص ترتیب،تناسب،او اندازه سره تنظیموي،او یو خاص ژوندې موجود(انسان،حیوان،نبات یا بکتریا) منځ ته راځې .الله تعالی د هر نسل دپاره ځانګړی ډي این ای او لومړنی حجره پیدا کړه،د هر ژوندې موجود په ډی این ای کې د قیامت پورې د نوموړي موجود د راتلونکې نسل ټول معلومات د جنیټیکي کلاک مطابق واچول شو،دا په دې معنی،چې د قیامت پورې،چې د دې موجود څومره افراد(اولاد)منځ ته راځې،ټول د همدې لومړني ډي این ای د پروګرام شوي الهامې معلومات په اساس،د جینیټیک کلاک مطابق د زمانو په معلومو وختونو کې پیداکیږي،او فنا کیږي.(جنیټیک کلاک د قیامت پورې د وخت هره لحظه ښیې،چې زمونږ په ډي این ای کې الله تعالی ایښئ دی.)

باید واضح شي!چې دا ټول په میلیونونو میلیونونو انواع او نسلونه د ژوندیو موجوداتو،چې څنګه اوس موجود دي،په همدې ډول پرته د کوم تغیر څخه الله تعالی د تخلیق په اول وخت کې پیداکړي وو،یعنې د تخلیق په لومړنیو ۴ ورځو کې الله تعالی په ځمکه کې د ټولو ژوندیو مخلوقاتو د هرې نوعې بیل بیل ډي این ای او لومړنۍ حجرې جوړې کړي،چې د هرې نوعې مختلف نسلونه د قیامت پورې د همدې ډی این ای د پروګرام او هدایت په اساس په مختلفو زمانو کې د جینیټیک کلاک مطابق پیدا کیږي او فنا کیږي.

داسې نه ده چې دا ټول ژوندې موجودات په خټو کې د یوې تصادفي حجرې د ړندې ارتقا پواسطه منځ ته راغلي دي،بلکې انسان د اول

 څخه انسان پیدا شوئ،اوبښ داول څخه اوبښ پیدا شوئ،د منې ونه د اول نه د منې ونه پیدا شوي..........

یعنې لومړی الله تعالی د ټولو ژوندیو موجوداتو د ټولو انواعو ډي این ای او لومړنۍ حجرې په خپل کامیل قدرت سره پیدا کړي،او بیا یې د تولد او تناسل په طریقه د قیامت پورې نسلونه پیدا کوي او فنا کوي .

اوس موضوع ته راځو!

لکه چې مخکې اشاره وشوه،چې:د بې شمیره ژوندیو مخلوقاتو د جوړیدو دپاره،الله تعالی د هر یو لپاره ځانګړی(یونیک) ډی این ای جوړ کړئ دی.هر ډی این ای د یو خاص مخلوق تفصیلي نقشه ده،او الله تعالی ورته یوه فطري کارخانه یا حجره ورکړي ده،چې دا نقشه په عمل بدلوي.جالبه دا ده چې دا بې حساب او لامحدوده فطري کارخاني،صرف تقریباً ۲۵ مشترک طبیعي عناصر یا مواد استعمالوي(نومونه یې مخکې ذکر شوي)،لیکن تولیدات یې ټول مختلف او یو د بل سره فرق لرې،مثلاً تاسو به هیڅکله هم دوه انسانان ونګورئ،چې سل فیصده یو قسم وي،حال دا چې ټول صرف د همدې ۲۵ عناصرو یا موادو څخه جوړ شوي دي،ډېره عجیبه او حیرانوونکې نه ده،چې یو قسم مواد انسان هم جوړوي،حیوان هم جوړوي،نبات هم جوړوي،بکتریا هم جوړوي؟دا ولې؟

جواب: خبره د مشابه موادو د استعمالولو نه ده،خبره په هغو فطري کارخانو(حجرو) او هغو نقشو(ډي این ای) کې ده چې نوموړي کارخانې د هغوی د پروګرام او هدایت په اساس کار کوي،هره

کارخانه(حجره) د خپلې نقشې(ډي این ای) د هدایت په اساس نوموړي محدود(شاوخوا ۲۵) عناصر یا مواد په یو خاص ترتیب،تناسب،او اندازه سره تنظیموي،او یوخاص ژوندی موجود(انسان،حیوان،نبات یا بکتریا) جوړوي.چې د نورو ټولو سره فرق لري،یعنې ټول ژوندې موجودات د یو قسم مشترک تعمیرې موادو څخه د جلا جلا نقشو(ډي این ای) پواسطه په جلا جلا کارخانو(حجراتو) کې جوړیږي،دا په دې معنی چې د مختلفو ډي این ای(یا جنیټیکي نقشو)پواسطه مختلف ژوندې موجودات جوړیږي،نه د موادو د اختلاف په اساس.او د ټولو ژوندیو موجوداتو ډي این ای (یا جنیټیکي نقشې) یو د بل سره فرق لري،ځکه ټول ژوندي موجودات یو دبل غوندې نه دي او سره فرق لري،مثلاً د ټولو انسانانو تر منځ د ډی این ای جوړښت ۹۹.۹ فیصده مشابه دی،(یعنې د جوړیدو نقشې یې ۹۹.۹ فیصده مشابه دي) او ۰.۱ فیصد فرق لري،چې همدا ۰.۱ فیصده فرق کافي دی چې دوه انسانان یو د بل پشان نه وي،مِثلاً قدونه،اوازونه،د پوستکې رنګ،اندامونه،استعدادونه،ویښتان،شخصیتونه...........یې سره فرق ولري،تاسو به وایې چې د ۰.۱ فیصد فرق سره ټول انسانان څنګه یو دبل څخه مختلف دي،دا نو د بنده نه،بلکې د الله تعالی خلاقیت دی،هر ډي این ای د ۳.۲ بیلیون بیس پایر(یعنې پرزو) څخه جوړ شوئ دی،چې په دې حساب ۰.۱ فیصد هم، تقریباً په درې میلیونو پرزو کې بدلول رابد لول کیږي،چې د ټولو انسانانو د قدونو،اوازونو استعدادونو شخصیتونو...........د اختلاف دپاره کافي دي.

اوس راځو دې موضوع ته چې:ځنګ په ځنګ پټيو کې چې:
يوقسم خاوره هم لرې،په يو قسم اوبو هم خړوبه کيږي،هوا هم يو قسم وي،يعني ټول شرايط يو قِسم دي،خو توليدات مختلف دي،يعني په يو پټي کې د انګورو باغونه،په بل کې د غنمو فصل،په بل کې د کجورو ونې،په کار خو دا وه چې يو قسم مواد دي،او يو قسم شرايط دي،نو توليدات هم بايد يو قِسم وو،خو مونږ ګورو چې داسې نه ده،دا ولې؟نو قرآن مونږ ته دعوت راکوي چې تحقيق وکړئ،او د ولې جواب پيدا کړئ،او کله چې د ولې جواب پيدا کړئ،نو د خپل رب لامحدود،علم،قدرت او لويې به درته معلومه شي،خو د بده مرغه مونږ په يو باغ کې سل قِسمه ونې،ګلان او ميوې ګورو،وجود او شتونه يې منو،خو دا فکر نکوو چې:ولې په يوه هوا،يو پټي،يو قسم اوبو او يوقِسم شرايطو کې بوټي ،ونې او ګلان مختلف دي،په داسې حال کې چې په هر بوټي کې هماغه مواد استعمال شوي،کوم چې په بل بوټي کې استعمال شوي دي (تقريباً۲۵ طبيعي عناصر) راځئ چې د دې ولې د جواب پيدا کولو کوشش وکړو.

لږ مخکې ذکر شو چې: ژوندې موجودات که انسان دی که حيوان که نبات، د ډي اين اې(يا جينيټيکې نقشې) د پروګرام او هدايت په اساس د يوې فطري کارخانې(يا حجرې)پواسطه جوړيږي،په نباتاتو کې دا فطري کارخاڼې د نباتاتو تخمونه دي،هر تخم يوه القاح شوي حجره ده،چې خپل مستقل ډبل ډی اين اې لرې،يا په بل عبارت هر تخم يوه کارخانه ده چې د ډي اين اې(يا جينيټيکې نقشې) د پروګرام او هدايت په اساس يو خاص نبات د هماغو موادو څخه جوړوي،د کومو څخه چې نور مختلف نباتات جوړيږي(تقريباً ۲۵ طبيعي عناصر دي)دا په دې معنی چې د انګورو د ونې جوړولو

کارخانه(تخم)،همدغه مواد یا ۲۵ عناصر په داسې ترتیب،تناسب او اندازه تنظیموي،چې د انګور ونه جوړوي.د غنم د جوړولو کارخانه(تخم) همدغه مواد یعنې ۲۵ عناصر په داسې ترتیب،تناسب او اندازه تنظیموي،چې د غنم بوټی جوړوي.د کجورو د جوړولو کارخانه(تخم)همدغه ۲۵ عناصر په داسې ترتیب،تناسب او اندازه تنظیموي،چې د کجورو ونه جوړوي.

باید ذکر شي چې د سورةالرعد په څلورم آیت کې،قرآن انسان ته د علم،فکر او ژورې څیړنې دعوت ورکوي،په خاص ډول د جنیټیک او کائناتي نظام د ژورې مطلعې او تحقیق د لارې،انسان کولای شي چې د الله تعالی د لامحدود علم،حکمت او قدرت درک وکړي،او د خالق عظمت او لویې وپیژني.

خو د بده مرغه!زمونږ د دیني تعلیم په رسمي نصاب کې د کائناتو د آیاتونو مطالعه -یعني هغه علم چې نن سبا ساینس بلل کیږي- د دیني چوکاټه لرې شوی دی.دا علم چې قرآنکریم انسان ته د تدبر،تفقه او تحقیق د لارې فرض ګڼلی،زمونږ دیني زده کوونکو ته پردی پاتې شوی دی.

دا یوه لویه خلا ده، چې باید اصلاح شي،ځکه چې علم د دین او دنیا تر منځ بیل نه دی،بلکې دواړه د یو حقیقت دوه اړخونه دي-او همدا د اسلام کامل پیغام دی.

وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلْأَغْلَـٰلُ فِىٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ٥

وَإِن تَعْجَبْ او که ته تعجب کوي فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ نو د هغوی دا
خبره عجیبه ده(چې وايي) أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا آيا کله چې مونږ خاوري
شو أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ نو بیا به د سره پیدا کیږو؟ أُوْلَـٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ دا هماغه خلک دي كَفَرُواْ بِرَبِّهِمْ ۖ چې پخپل رب باندې
کافران شوي دي وَأُوْلَـٰٓئِكَ ٱلْأَغْلَـٰلُ فِىٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ او دا هماغه خلک
دي چې په غاړو کې به یې د اور طوقونه وي وَأُوْلَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ
ٱلنَّارِ ۖ او دا هماغه خلک دي چې دوزخیان دي هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ
(او)دوی به تل هغه(دوزخ) کې اوسیدونکې وي. ٥

په دې مبارک آیت کې داسې یو لوی حقیقت ته اشاره ده،چې پرته د ضدیانو او جاهلانو څخه،نه هیڅ یو عالم او نه هیڅ یو علم ترې انکار کوي.نه یې کولای شي،ځکه چې:

الله تعالی انسان ته شعور،عقل،وجدان،عدالت غوښتونکی طبیعت او د حق درک ورکړی دی.دا هر څه دا تقاضاء کوي چې انسان یو بې هدفه،عبث او یوازې تر مرګه محدود مخلوق نه دی.که ژوند یوازې تر مرګه وي،نو دا ټول استعدادونه،احساسات،قرباني ،اخلاق،عدالت غوښتنه او شعوري درک بې معنی کیږي.چې دا بې معنایي د فطرت،عقل او فلسفې ضد ده.

په انسان کې یو ژور احساس دی چې هر عمل باید حساب ولري.که یو ظالم قاتل پرته د جزا ورکولو ژوند وکړي او مظلوم پرته د بدل اخستلو مړ شي،دا د وجدان دپاره نه زغمل کیدوونکی ظلم دی.نو د حساب او انصاف دپاره دپاره باید یو دوهم ژوند وي،چیرته چې حق

راشي،باطل ختم شي،او انصاف وشي، چې دا د وجدان،عقل او فطرت غوښتنه ده.

د علمي پلوه،ساينس هم دا منلې ده،چې معلومات د منځه نه ځې،فقط د يو شکل څخه به ته انتقاليږي،د انسان د بدن بيولوژيک معلومات د ډي اين ای په شکل هره حجره کې خوندې دی،او دا معلومات يا ډي اين ای د مرګ وروسته هم د کوکسيجس(لکه لمي) په هډوکي کې پاتې کيږي.ساينس ثابته کړي چې د يوه ډي اين ای څخه د کلونينګ د لارې بيرته انسان جوړيدل عملي امکان لرې،يعنې که د يو ژوندې موجود يا انسان ډي ای ای محفوظ وي،بيرته د همدې معلوماتو د مخې راژوندی کيدی شي.او دا خبره چې د انسان ډي اين ای محفوظ دی او د منځه نه ځې، يعنې د کوکسيجس په هډوکي کې محفوظ ساتل کيږي،ساينس هم وايې،او د بخارې د(۴۸۱۴) او د مسلم د(۲۹۵۵) حديث شريف مفهوم هم دی، چې پرته د عَجْبُ الذَّنَبِ(د ستون فقرات اخرنی هډوکی يا کوکسيجس) څخه د انسان ټول بدن خاورې کيږي،چې د قيامت په ورځ الله تعالی د همدې هډوکې څخه دوباره انسان جوړوي (يعنې په دې هډوکي کې د محفوظ شوي ډي اين ای څخه).

ساينس هم وايې:چې دا د انسان د وجود ډېر کلک هډوکی دی،چې د ټولو هډوکو د خاوري کيدو څخه وروسته هم پاتې کيږي.

عقل هم دا تائيدوي،ځکه که يو خالق(الله تعالی) د انسان وجود د هيڅ او يوې ناچيزې نطفې څخه د اول ځل دپاره پيدا کوي،نو د مرګ څخه وروسته د دوهم ځل دپاره پيدا کول ورته څه سخت کار

دی؟بلکې ډېر آسانه دی.قرآنکریم هم دا دلیل راوړي! وَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَيهِ(الروم:۲۷) یعنې بیرته پیدا کول الله تعالی ته ډېر آسان دي.

مثلاً که یو انجینر یو موټر د صفر څخه جوړ کړي،نو دوباره جوړول یې ورته ډېر ساده کار دی.

په سورة النبیا ۱۰۴ آیت کې فرمایې! كَمَا بَدَأْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهُ-(لکه څنګه چې مو اول ځل پیدایښت پیل کړی و همداسې به یې بیا راژوندې کړو.

نو دا چې فلسفه یې ضروري ګڼي،ساینس یې ممکن بولي،عقل یې تائیدوي،وجدان یې غواړي،او وحې یې اعلانوي——نو بیا ژوند نه یوازې یو دیني اصل دی،بلکې یو عقلي،علمي،وجداني او فطري حقیقت دی.

همدا حقیقت هغه دروازه ده چې انسان د مادي قفسه راوباسي،د خپل رب سره د ملاقات یقین ورکوي،او د مسؤلیت احساس وربښي

{وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ ٱلۡمَثُلَٰتُۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ} (6)

{وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ دوی غوښتنه کوي ستا څخه ډېر زر بِٱلسَّيِّئَةِ د بد(عذاب) قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ مخکې د نیکی(یا رحمت څخه) وَقَدۡ خَلَتۡ حال دا چې پرته د شکه تیر شوي دي مِن قَبۡلِهِمُ له دوی نه مخکې ٱلۡمَثُلَٰتُۗ عبرتناکه عذابونه(چې د نورو خلکو دپاره عبرت جوړ شوي) وَإِنَّ رَبَّكَ او بېشکه ستا رب لَذُو مَغۡفِرَةٖ خامخا د ډېرې بخښنې څښتن دی لِّلنَّاسِ د خلکو دپاره عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ د دوی د

ظلمونو سره سره(كه د مرګ نه مخكې توبه وباسي،او كه توبه ونه باسي،نو!) وَإِنَّ رَبَّكَ بېشكه ستا رب لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ يقيناً ډېر سخت عذاب وركوونكی دی.} (۶)

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ٧

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ او هغه كسان چې كفر يې كړئ،وايي چې: لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ولې نه نازليږي په ده(صلی الله عليه وسلم)باندې(داسې) ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ يوه معجزه د ده د رب د طرف څخه(چې په ليدلو سره يې مونږ سمدستې د هغه عليه السلام په پيغمبری يقين وكړو.مثلاً چې يا د مكې غرونه د سروزرو كړي،يا د مكې په وچو دښتو كې د اوبو سيندونه روان كړي.....) إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ (اوس الله تعالی نبي عليه السلام ته فرمايي،چې ته دا تشويش مه كوه چې دا خلک څه قسم مطمئين كړي،چې ايمان راوړي،ستا كار د هر يو مطمئين كول نه دي،بلكې) حقيقت دا دی چې ته خو صرف خبرداروونكی يې(چې خلک د جنت،دوزخ،د الله تعالی د عذابونو،او د جنت او دوزخ د لارو نه خبر كړي) وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ او د هر قوم دپاره يو(الهي ټاكل شوی) لاربنود شته.(الهي رحمت ته اشاره ده،چې هيڅ قوم بې لاربنوده نه پاتې كيږي.هر قوم ته الله تعالی يو هادي،يو ناصح او دعوت ګر راليږي) ٧

ٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَىْءٍ عِندَهُۥ بِمِقْدَارٍ ٨

ٱللَّهُ يَعْلَمُ الله تعالى پوهيږي مَا په هغه څه تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ چې هره ښځه يې حمل كوي ( مخكې د دې څخه چې پخپله ښځه يا ډاكټر په حمل پوه شي،الله تعالى د اولې لحظې څخه پوهيږي چې هلک دی كه جلی،يو ماشوم دی كه ډېر؟اوس د ساينس د علم په مرسته د دې وضاحت داسې كوو،چې الله تعالى پوهيږي چې كوم سپرم(يعنې د پلار نطفه) په رحم كې د مور اوم(هګی)ته داخليږي،يا په بل عبارت،د ميليونونو سپرمونو د جملې څخه د وای يا نارينه جنسي كروموزوم لرونكی سپرم،د مور اوم(هګی)ته داخليږي،او هلک جوړوي،او كه د ايكس يا ښځينه جنسي كروموزوم لرونكی سپرم د مور اوم(هګی) ته داخليږي،او جلۍ جوړوي،يعنې ايكس يا وای كروموزومونه هګی ته داخليږي،او د هلک يا جلۍ القاح شوي هګۍ،لومړنۍ حجره يا زايګوټ جوړوي،بايد ووايو چې د مور په هګی كې يوازې ايكس ايكس كروموزمونه دي،او د پلار سپرمونه دوه قسمه دي،يو قسم يې يوازې ايكس كروموزوم او بل قسم يې وای كروموزوم لرې،نو كه د پلار ايكس كرومزوم د مور د ايكس كروموزوم سره يوځای شي نو جلۍ جوړيږي،او كه د پلار وای كروموزوم د مور د ايكس كروموزوم سره يوځای شي نو هلک جوړيږي،نو الله تعالى پرته د وسايلو نه مخكې د مخكې څخه پوهيږي ،چې د پلار ايكس به د مور د ايكس سره او كه د پلار وای به د مور د ايكس سره يوځای كيږي،او هلک يا جلۍ به

جوړیږي،دلته په ډېر وضاحت سره معلومیږي،چې د ماشوم د جنس تعین د پلار د ایکس او وای کروزمونو پورې اړه لري ،نه د مور،یعني که د پلار د ایکس کروموزوم لرونکی سپرم د مور هګۍ ته داخیل شي،جلی جوړیږي،او که د پلار وای کروموزوم لرونکی سپرم د مور هګۍ ته داخل شي نو هلک جوړیږي،چې دلته د قرآنکریم یو لوی علمي اعجاز ته اشاره ده،قرآن فرمايي: وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ (45) مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ (۴۶)(بېشکه الله تعالی دوه جوړې ښځه او نر د نطفې د یو څاڅکي څخه پیدا کړي دي کله چې (په رحم کې)وڅڅول شي،) پوهیږو چې د مور نطفه(هګۍ) خو په رحم کې وي،یوازې د پلار نطفه رحم ته څڅول کیږي،چې هګۍ ته د ایکس او وای د کروموزمونو په ورکولو سره هلک یا جلۍ جوړوي،خو بدبختانه زمونږ په ټولنه کې که د چا نارینه ماشوم نه کیږي،تهمت په ښځه لږوي،او دوهم واده کوي،یعنې خبره په نارینه کې وي او جزا ښځې ته ورکوي.

وَ او(الله تعالی پرته د وسایلو څخه مخکې د مخکې پوهیږي چې:) مَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ څه شی رحمونه کموي(یعنې د ماشوم ضایع کیدل«سقط» یا د وخت څخه مخکې زیږیدل...) وَ او(الله تعالی د مخکې څخه پوهیږي چې:) مَا تَزۡدَادُۖ څه شی زیاتوي(د حمل د مودې زیاتوالی،د ماشوم د وزن زیاتوالی،غبرګونکي یا زیات ماشومان.....) وَ او(دا هر څه چې کیږي دا کوم تصادف نه دی،بلکې) كُلُّ شَيۡءٍ هر شی عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ د هغه«جل جلاله» سره په مقدار(اندازه)دی[یعنې دا هرڅه چې کیږي،د الله تعالی د علم او حکمت مطابق کیږي،لکه چې وویل شو چې د پلار نطفه یعنې سپرم چې د مور هګۍ یا اوم ته داخل شي نو زایګوټ یا لومړنې

حجره يا القاح شوي هګۍ جوړوي،په القاح شوي هګۍ يا زايګوټ
کې نيم يا سينګل ډي اين ای د پلار د خوانه او نيم يا سينګل ډي اين
ای د مور د خوانه سره يوځای کيږي او يو مکمل يا ډبل ډي اين ای
جوړوي،چې په نوموړي ډي اين ای کې الله تعالی په رحم کې د
ماشوم د جوړلو او دنيا کې د ژوند کولو،حتی د قيامت د ورځې
پورې د بيا راژوندې کيدلو پورې ټول الهامې معلومات ايښی دی،يا
په بل عبارت ډي اين ای هغه سفټوير دی،چې الله تعالی د قيامت د
ورځې پورې يو انسان پکې پروګرام کړی دی،کله چې يو مکمل يا
ډبل ډي اين ای په لومړنۍ حجره يا زايګوټ کې جوړشي،دا په دې
معنی کله چې د ډی اين ای سپټوير د زايګوټ په هارډوير کې
واچول شي،نو د همدې ډي اين ای د پروګرام مطابق زايګوټ
تقسيميږي،د يوې څخه دوه حجرې د دوه حجرو څخه
څلور........بلاخره علقه جوړيږي،او بيا د همدې پروګرام په اساس
د علقي څخه مضغه(د غوښي ټوټه)جوړيږي،او بيا د همدې پروګرام
مطابق عظام(هډوکي)جوړيږي،او د ډي اين ای د پروګرام او هدايت
په اساس د هډوک څخه غوښې تاويږي،داخلي او خارجي اعضاء
جوړيږي،او بيا د همدې پروګرام مطابق يو انساني شکل او صورت
نيسي،او بيا د همدې ډي اين ای د پروګرام او هدايت په اساس د
زمان او مکان مطابق دنيا ته راځې،او د همدې الهې الهامي
معلومات په اساس يې لحظه په لحظه
وزن،قد،رنګ،قواره........تاکل کيږي،او د همدې پروګرام د مخې
څوک په کوچنيوالي،څوک په ځوانۍ او څوک په زوړ عمر کې
مړکيږي،او برزخ ته ځې،او دقيامت په ورځ بيا د همدې ډي اين ای
د پروګرام او هدايت په اساس د ځمکې په خيټه کې بيرته انسان لکه

ځنګه چې مخکې په دنیا کې وو،هماغسې جوړیږي،څکه چې د انسان ټول بدن پرته د لکه لمې یا کوکسیکس د هډوکي ځخه خاوري کیږي په کوم کې چې د انسان ډي این ای محفوظ وي،او ان شاءالله چې د همدې ډی این ای سره به د حشر میدان ته ځې،فلهذا هیڅ شی تصادفي نه کیږي بلکې د الله تعالی د علم او حکمت مطابق کیږي.)
٨

عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْكَبِيرُ ٱلْمُتَعَالِ ٩ سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ١٠

عَٰلِمُ (الله تعالی) عالم دی ٱلْغَيْبِ په پټو (هغه څه چې د انسانانو ځخه پټ او په حواسو یې نشي درک کولای،لکه برزخ،آخرت،راتلونکي حالات،د زړونو پټې ارادې او خبرې........) وَٱلشَّهَٰدَةِ او په ښکاره (هغه څه چې انسانانو ته ښکاره دي،ټول د الله تعالی په علم کې دي) ٱلْكَبِيرُ ډېر لوی دی(د ټولو مخلوقاتو ځخه د الله تعالی ذات،قدرت،عظمت او حاکمیت بې حسابه لوی دی) ٱلْمُتَعَالِ ډېر لوړ دی(د هر عیب او نقص ځخه پاک دی،او په کائناتو کې هیڅ شی ورسره نشي مقایسه کیدلی،او نه الله تعالی ته ورسیدلی شي) ٩ سَوَآءٌ (الله تعالی ته) یو برابر دي مِّنكُم د ستاسو ځخه مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ هغه څوک چې پټې خبرې کوي وَمَن جَهَرَ بِهِۦ او هغه څوک چې په زوره یې کوي وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ او هغه څوک چې هغه د شپې(په تیاره کې) پټ وي وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ او(هغه څوک چې هغه په سپین میدان کې

د ورځې روان وي(ټول الله تعالی ته ښکاره او حاضر دي،ټول ګوري،او ټول اوري.) ١٠

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ١١

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ ده ته(يعني انسان ته) تعقيب كوونكي (فريښتي يو د بل پسي راځي) مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ د هغه د مخي څخه وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ او د هغه د شاه څخه يَحۡفَظُونَهُۥ چې دوی د هغه ساتنه كوي مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ د الله تعالی په حكم سره (انسان خبر نه دی،خو د هرې خوا څخه داسې وژونكي شيان ورته راروان دي،كه هر يو ورته راورسيږي،او دفعه نشي،انسان وژلای شي،ليكن د خالق په حكم داسې ناليدونكي طاقتونه،قوانين او سيستمونه كار فرما دي،چې هر وژونكی شی،مخكی انسان ته د رارسيدلو څخه د منځه وړي،او يا يې د انسان په وجود كې د منځه وړي،نو دا آيت مونږ ته ښايي،چې دا ناليدونكي طاقتونه،فطري قوانين او سيستمونه هسې تصادف نه دی،بلكې خالق جوړ كړي دي،او د هغه«جل جلاله» په حكم د انسان حفاظت او ساتنه كوي،مثلاً اسماني تيږې په ځمكه د راغورځيدلو څخه مخكې د اتموسفير پواسطه سوځول كيږي،د فضاء منفي دوه سوه اويا درجې(٢٧٠-) وژونكي يخني ځمكې ته نه راپريږدي،او همدارنګه د وژونكو شعاګانو،ځمكې ته د راتلو څخه مخ نيوی كوي،انسان يې نه ګوري،خو لحظه په لحظه د داسې بكټرياوو او ويرسونو سره په ټكر كې دی،كه چيرته يې دفاع

ونشی،انسان وژلای شي،لیکن خالق داسې دفاعي سیستمونه د انسان
دننه او دباندې جوړ کړي،چې انسان خبر هم نه وي،خو هغوی د ده
د ژوند د ساتلو دپاره د داخلي او خارجي دښمنانو یعني
ویرسونو،بکتریاوو او سرطاني حجراتو سره جنګونه کوي،قرباني
ورکوي،انسانه ستا د ژوند د ساتلو دپاره خپله هم وژل کیږي،او ستا
د ژوند دښمنان هم د منځه وړي،او کله که هم ستا دفاعي سیستم ستا
د د ښمنانو په مقابل کې ناکام شو او نوره یې دفاع نشوه کولای،نو
بیا ستا ژوندې پاتي کیدل هم نور مشکل دي،لکه چې وویل شول،دا
دومره طاقتور او حساس سیستمونه هسې تصادفي نه دي جوړ
شوي،بلکې الله تعالی جوړ کړي دي،او د هغه(جل جلاله) په حکم د
انسان ساتنه او حفاظت کوي) إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی لَا يُغَيِّرُ
نه بدلوي مَا بِقَوۡمٍ هغه څه چې په یو قوم کې دي حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ
تر هغې پورې چې دوی بدل(نه) کړي مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ هغه څه چې د
دوی په نفسونو کې دي (یعني د الله تعالی د خوا ښځه بدلون یوازي
هغه وخت راځي،چې خلک خپله هڅه وکړي،که زړونه،نیتونه،یا
عملونه بدل نه شي،حالت نه بدلیږي) وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ او کله چې الله
تعالی اراده وکړي بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا په یو قوم د بد(عذاب یا مصیبت)
فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ نو نشته بیرته ګرځونکی د هغه(قوم) دپاره(چې الهي
عذاب یا مصیبت ورڅخه بچ کړي) وَمَا لَهُم او نشته د هغوی
دپاره مِّن دُونِهِۦ پرته د هغه(الله) څخه مِن وَالٍ کوم
سرپرست،محافظ یا کومک کوونکی (١١)

هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ١٢

هُوَ ٱلَّذِى  الله تعالی هغه ذات دی  يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ  چې درښيي تاسو ته بريښنا(رعد،برق)  خَوۡفًا  د ويرې دپاره(بريښنا خلک ويرولی شي-ځکه د هغې وروسته ممکن طوفان،باران،تندر يا افت راشي،نو دا خوف دی)  وَطَمَعًا  او د اميد دپاره(خو خلک پکې طمعه او اميد هم لرې ځکه چې:باران د فصلونو،بوټو او ژونديو موجوداتو دپاره ژوند دی او د رحمت نښه ده)  وَيُنشِئُ  او راپورته کوي(راولاړوي،پيدا کوي)  ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ  درنې وريځې( ثقال درون او وزن لرونکي ته وايې.چې ۱۴۰۰ کاله مخکې د دې اصطلاح استعمالول د قران حقانيت ښيي،ځکه چې دا خو د اوسني ساينس او ټيکنالوژي پواسطه معلومه شوه چې لويې توري وريځې چې لس کيلومتره قطر ولرې،تقريباً ۵۰۰۰۰۰ پينځه لاکه ټنه اوبه لرې،آيا د عربو په صحرا کې داسې يو کس چې ليک او لوست يې هم نه وي کړی،داسې خبره کولای شي،هيڅکله نه،نو دا د دې ثبوت دی چې قرآن د الله تعالی کلام دی.او محمد«صلی الله عليه وسلم» د الله تعالی رسول دی)  ۱۲

وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعۡدُ بِحَمۡدِهِۦ وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ مِنۡ خِيفَتِهِۦ وَيُرۡسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمۡ يُجَـٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلۡمِحَالِ ۱۳

لفظي ترجمه

وَيُسَبِّحُ  او تسبيح وايې  ٱلرَّعۡدُ  رعد (د بريښنا غر،د تندر غر) بِحَمۡدِهِۦ  د هغه جل جلاله د ستاينې سره  وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ  او فريشتې  مِنۡ  د  خِيفَتِهِۦ  هغه«جل جلاله» د ويرې  وَ  او  يُرۡسِلُ  هغه«جل جلاله» ليږي  ٱلصَّوَٰعِقَ  تندرونه  فَيُصِيبُ  نو لړيږي  بِهَا  په دې(تندرونو)  مَن  هغه څوک  يَشَآءُ  چې هغه«جل جلاله»يې

غوا ړي وَ او هُمْ دوى يُجَٰدِلُونَ جګړه کوي فِى ٱللَّهِ د الله
تعالى په باره کې وَ او هُوَ هغه«جل جلاله» شَدِيدُ سخت
ٱلْمِحَالِ نيوونکى دى ١٣

ترجمه او تفسير

وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ او رعد(د برېښنا،يا تندر وروسته غږ) د هغه«جل جلاله» تسبيح او حمد وايي(دلته اشاره ده چې:حتى طبيعي پيښې يا پديدې هم د الله تعالى د اطاعت اوستاينې په حالت کې دي،خو اناسانان د هغوى په تسبيح نه پوهيږي-الله تعالى فرمايې:

تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا (الاسراء ۴۴)

تفسير:دا مبارک آيت فرمايي:چې هر مخلوق يعني ژوندې موجودات،نباتات،غرونه،دريابونه،باد،ژوندې حجرات،واړه زرات،دا ټول د الله تعالى د ذات او د صفاتو ستاينه کوي،خو انسان پرې نه پوهيږي،چې دا شيان څنګه د الله تعالى ستاينه کوي،دا تسبيح انسان نشي درک کولاى.

وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ او فرېښتي(هم) د هغه «جل جلاله» د ويرې(د هغه «جل جلاله» تسسبيح او حمد وايي)

وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ او الله تعالى صاعقې(تندرونه) ليږي،او چاته چې الله تعالى غواړي،هغه پرې لږيږي(دا ښيې چې:ټولې طبيعي پيښې لکه زلزلې،سيلابونه،بارانونه ،طوفانونه وغيره،دا يوه پيښه هم تصادفي او بې هدفه نه ده،بلکې ټولې د الله تعالى د ارادې لاندې د يو قانون تابع دي،چې تر شاه يې

د الله تعالی علم او حکمت دی،دا په دې معنی چې په کائناتو کې هره پيښه«پديده» د يو لوی نظام تابع ده،دا نظام تصادفي نه دی،بلکې د الله تعالی د تدبير برخه ده )

وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ او دوی د الله تعالی په باره کې جګړه کوي(يعنې د الله د دومره قدرتونو او نښو د ليدلو سره سره بيا هم دوی د الله تعالی د ذات او قدرت په اړه شخړې او جګړې کوي)

وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ او هغه«جل جلاله»ډېر سخت نيوونکی دی(يعنې الله تعالی داسې کافرانو لره سخت نيونکی او سخت عذاب ورکوونکی دی.کله چې طبيعي پيښې لکه زلزله،طوفان او تندر سر کشانو ته زيان رسوي،ساينس خو ورته نيچرل ډيزسټر وايې،ليکن قرآن دا د الهي نيونې وسايل بولي.چې د الله تعالی په حکم واقع کيږي) ١٣

لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ ۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ١٤

لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ ۖ يوازې هغه «جل جلاله» ته بلنه(دعاء،او يوازې د هغه«جل جلاله» څخه حاجتونه غوښتل)رواه دي(يعنې حق دا دی،چې دعاء،عبادت،اوحاجت غوښتنه يوازې الله ته وشي.الله تعالی ته اواز کول د توحيد غوښتنه ده)

وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ او هغه خلک چې د الله نه پرته نورو ته اواز کوي(دعا کوي او حاجتونه ترې غواړي،لکه

اولیاوو،پیرانو،بتانو او مړو ته اوازونه کوي،او خپل حاجتونه پوره کول ورڅخه غواړي،نو دا بتان،مړي،پیران او اولیاء،نه د دوی خبرې اورې،او نه اختیار لرې،او!)

لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ نه دوی ته د هیڅ شي جواب ورکوي

إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ (د دې خلکو مثال داسې دی) لکه څوک چې خپل دواړه لاسونه د اوبو خواته وغځوي.

لِيَبْلُغَ فَاهُ د دې دپاره چې اوبه يې خولې ته ورسيږي

وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦٓ ۚ خو هغه(اوبه)یې خولې ته نه رسیږي (ځکه چې اوبه نه د ده خبرې اوري،او نه د ده د لاسونو په اشارو پوهیږي،او نه ورسره دا اختیار او قدرت شته چې د سړي خولې ته ورشي،او تنده یې ماته کړي.همدارنګه لکه چې اوبه نه د سړي په اشاره پوهیږي،نه یې خبرې اورې،نه یې خولې ته ورتلای شي،نه یې تنده ماتولای شي،په همدې ډول بتان،مړي اولیاء او پیران هم نه د چا خبرې اورې،نه یې په حاجتونو پوهیږي،او نه ورسره دا قدرت او اختیار شته چې د چا غوښتنو ته جواب ووایې،او حاجتونه یې پوره کړي،نو لکه څنګه چې اوبه د چا په اشارو او خبرو چا ته فایده نشي ورکولای،همداسې د الله نه پرته نور مخلوق هم د چا په چغو او اشارو چا ته هیڅ فایده او ګټه نشي رسولی،یعنې که ټول عمر د بتانو او غیرالله په دربارونو کې څوک ولوغړیږي،او چغې ورته ووهي هیڅ ګټه ورته نشي رسولی.) وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ او د کافرانو دعا پرته د ګمراهۍ نور څه نه ده ١٤

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ
وَٱلْـَٔاصَالِ ۩ ١٥

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ او يوازې الله تعالی ته سجده کوي.

مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ هر څه چې په اسمانونو کې دي.

وَٱلْأَرْضِ او(هر څه چې) په ځمکه کې دي.

طَوْعًا که په خوښه وي.

وَكَرْهًا او که په زور.

تفسير!

ټول
موجودات،انسان،ملايکې،حيوانات،جمادات،سيارې،کهکشانونه.....ا
لله تعالی ته سجده کوي،که په خوښه وي او که په زور.

پخپله خوښه سجده کوونکي څو مؤمنان دي،دا په زوره سجده کوونکي څوک دي؟

په زوره سجده کوونکي کافران او منافقان دي.

خو سوال پيدا کيږي چې کافران څنګه سجده کوي؟

دلته سجده د تکويني اطاعت معنی لرې،نه د عبادت.

سجده دوه ډوله ده،

تعبدي سجده ---(د الله تعالی عبادت)

تکویني سجده ---(د الله تعالی د نظام تابع کیدل)یعنې د مخلوق اختیار نشته که خوښه یې وي او که نه د الله تعالی د نظام مطابعت به کوي.

کافر تکویناً الله تعالی ته سجده کوي،داسې چې:

بدن یې د الله تعالی تابع دی.

زړه یې د الله تعالی په امر لب ډب کوي(یعنې حرکت کوي)

د بدن ټول حجرات،مغز،حرکت،مرګ،ضعف،ناروغي،ضرورت – دا ټول د هغه جل جلاله د نظم لاندې دي.کافر که څه هم په شعوري ډول سجده نه کوي،خو: د ده بدن،عقل،عمر،قدرت –ټول د الله تعالی نظام ته ټیټ سر تابع دي،دا په دې معنی چې د کافر ژبه انکار کوي،خو بدن یې په خوښه یا ناخوښه،اطاعت کوي.

باید ذکر شي چې:ستورې سیارې او کهکشانونه ټول د الله تعالی په حکم حرکت کوي،حتی حیوانات او نباتات د خپلو فطري غریزو د مخې د الله تعالی په حکمونو عمل کوي.

وَظِلَـٰلُهُم او د دوی سیورې.

بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْـَٔاصَالِ سهار او ماښام ( الله تعالی ته سجده کوي) ۩ ١٥

دا مبارک ایت د سیورو طبیعي حرکت ته د ځمکې د دوران په اساس اشاره کوي،سیورې د ځمکې د دوراني حرکت په سبب بدلیږي،ځمکه د مغرب څخه د مشرق خواته په خپل محور د لمر مخې ته تاویږي،کله چې سهار لمر د افق څخه پورته شي(یعنې کله چې سهار لمر راوخیژي) نو د شیانو سیورې د مغرب خواته ډېر اوږده وي،بیا کله چې ځمکه د مشرق خواته څومره تاویږي ،لمر د

مغرب خواته په آسمان کې ځې(دا د لمر ظاهرې حرکت دی چې
مونږ ته داسې ښکارې لکه لمر چې روان دی،لیکن اصلي حرکت
ځمکه د مشرق خواته کوي،خو مونږ دا سې احساس کوو،لکه لمر
چې مغرب خواته ځي)په هر ترتیب ځومره چې لمر د مغرب خواته
ځي سیوري لنډیږي،حتی د غرمي په وخت کې ډیر لنډ یا نږدې
ورکیږي،خو د غرمي نه وروسته بیرته سیوري د مشرق خوا ته
اوږدیږي،چې د ماښام په وخت کې کله چې لمر مغرب ته
ځي،سیوري بیا د مشرق خواته ډېر اوږدیږي،دا په دې معنی چې
سهار او ماښام د سیورو بدلیدل د ځمکې د ګرځیدلو په سبب د خپل
محور په شاوخوا باندې منځ ته راځي.نو دا خبره چې سیوري سهار
او ماښام د ځمکې د دوراني حرکت پواسطه بدلیږي،دا دومره وړه
خبره نه ده،ځکه چې د ۱۹ پیړۍ نه مخکې ساینس ته دا معلومه نه
وه چې ځمکه په خپل محور ګرځي،او دا د
ځمکپوهني(جیوفزکس)یو مهم اصل دی،چې قران ۱۴۰۰ کاله
مخکې دا حقیقت ذکر کړی دی.

ساینس د قرآن تشریح کوي،او قرآن د ساینس لارښوونه کوي،خو
افسوس چې اکثره ساینسدانان په قرآن نه پوهیږي،او اکثر دیني علما
په ساینس نه پوهیږي،یو د الله تعالی په قول(وحې) کې تخصص
اخلي،بل د الله تعالی د فعل مطالعه کوي،او تخصص په کې اخلي،یو
د الله تعالی په قول اعتراضونه کوي،بل دالله تعالی په فعل
اعتراضونه کوي،دا په دې معنی چې یو د قرآن په ایتونو کې
تخصص اخلي او بل د الله تعالی په کائناتي ایتونو کې تخصص
اخلي،یو په قرآن اعتراضونه کوي،او بل د الله تعالی په کائناتي

ایتونو اعتراضونه کوي،لیکن یو هم په خپله کم علمۍ اقرار نه کوي.............

په اخر کې باید ووایوو چې:سیوري او د کائناتو زره زره الله تعالی ته تکویني سجده کوي، او د هغه جل جلاله د جوړ شوي نظام او قانون تابع دي.

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ ١٦

قُلْ ته ووایه(مشرکانو ته)

مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ چې د اسمانونو او ځمکې رب څوک دی؟

قُلِ (ورته) ووایه

ٱللَّهُ ۚ الله تعالی«د ځمکې او اسمانونو رب» دی.(په مناظره،تعلیم یا دعوت کې دا طریقه ډېره استعمالیږي،چې یو عالم او پوه کس هم پوښتنه وکړي،او هم پخپله سم جواب ورکړي-ځکه مخاطب یا خو جواب نلري، یا غلط جواب ورکوي،یا چوپ شي،نو الله تعالی امر کوي چې ته ورته ووایه چې:الله دی.)

قُلْ (بیا ورته) ووایه (چون مشرکان بنه پوهیږي،چې حقیقي رب الله تعالی دی،نو پوښتنه ترې وکړه!چې خالق الله دی،پالونکی الله دی،ژوند او مرګ ورکوونکی الله دی!)

أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ نو ولې تاسو د هغه«جل جلاله» څخه پرته(داسې)دوستان(او کومک کوونکي) نیولي دي،چې هغوی خپلو ځانونو ته (هم) د خیر او شر اختیار نلرئ(یعني حقیقي دوست او کومک کوونکی مو پریښئ دی،او د غیرالله لمن مو نیولي ده،حال دا چې هغوی د خپلو ځانونو سره هیڅ ښه او بد نشي کولای نو تاسو ته به څه خیر او شر دروړسوي،)

قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ (او ورته) وو ایه! چې آیا ړوند او لیدونکی سره برابر دي؟(د ړوند څخه مراد هغه کس دی چې په کائناتو کې هر طرف ته د الله تعالی د وجود او وحدانیت بې شماره شواهد او ثبوتونه موجود دي،خو په ده د دنیا لالچونو داسې سترګي پټي کړي وي.چې ورته نه ښکاري.او د لیدونکي څخه مراد هغه کس دی،چې هر طرف ته په هر شي او هره پاڼه کې ورته د الله تعالی معرفت ښکارې،یعني مؤمن او کافر.)

أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ یا، آیا تیاري(باطل،جهل) او رڼا (حق) یو شان دي؟

او که داسې نه ده نو الله فرمایي!

أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ آیا د دوی جوړو شوو شریکانو هم د الله تعالی غوندې څه شی پیدا کړی دی،چې د هغه په سبب په دوی د پیدا کولو موضوع د اشتباه وړ وګرځیدله؟(د دې سوال مطلب دا دی!چې که چیرته په دنیا کې څه شیان الله تعالی پیدا کړي وو.او څه شیان نورو یعني غیرالله پیدا کړي وو،او د دې معلومول سخت وو چې د الله تعالی تخلیقي کار

ځنګه دی او د غیرالله تخلیقي کار څنګه دی،نو بیا هم د شرک دپاره به یو څه معقول دلیل کیدلای شو،لیکن مشرکین پخپله دا مني چې د دوی د معبودانو څخه چا یو ویښته هم نه دی پیدا کړئ،نو کله چې مشرکین پخپله دا قبلوې چې په خلق«پیدا کولو»کې د دوی د جعلي معبودانو د زرې په اندازه هم څه حصه نشته،نو بیا په کوم اساس دوی خپل جعلي معبودان د خالق په اختیاراتو او حقوقو کې شریکوي؟)

قُلِ ٱللَّهُ خَـٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّـٰرُ وواېه:الله تعالی د هر شي خالق دی،او هغه یوازینی،زورور واکمن دی. ١٦

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ
وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى ٱلنَّارِ ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَـٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ
يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَـٰطِلَ ۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ
فَيَمْكُثُ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ١٧

أَنزَلَ هغه«جل جلاله» نازل کړي مِنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه مَآءً اوبه فَسَالَتْ نو وبهیدل أَوْدِيَةٌۢ خوړونه(لښتي،درې ګاني) بِقَدَرِهَا د خپل ظرفیت په اندازه(او بیا تول لښتي یا خوړونه سره یو ځای شو،او یو لوی سیلاب یې جوړ کړو!) فَٱحْتَمَلَ بیا ویوړو ٱلسَّيْلُ سیلاب زَبَدًا ځګ رَّابِيًا ۚ لوړ(د اوبو یا سیلاب دپاسه.یعني باران وشو،د باران اوبه په درو یا لښتیو کې څومره چې د هر لښتي ظرفیت وو.رواني شوي،بیا د درو یا لښتیو اوبه سره یو

ځای شوي،او يوطاقتور سيلاب ترې جوړ شو،نو سيلاب ټول بې فايدې شيان د ځګ په شکل ويوړل.د دې تمثيل نه مراد دا دی چې:قرآن عظيم الشان نازل شو،د هر مؤمن زړه ته د هغه د استعداد او ظرفيت په اندازه د قرآن هدايت داخل شو،ټولو مؤمنانو په يو قرآن منګولې ولږولې،او يو قوي او متحد امت ترې جوړ شو،او لکه د سيلاب غوندې يې مشرکان او کافران لکه د ځګ پشان د منځه ويوړل،او خالص اسلام يعنې خالصې پاکې اوبه پاتې شوې.او يو بل مثال هم الله تعالی بيانوي!) وَمِمَّا او د هغه(فلز) يُوقِدُونَ چې دوی اور بلوي عَلَيْهِ په هغه باندې فِى ٱلنَّارِ په اور کې(يعنې په اور کې يې ويلې کوي) ٱبْتِغَآءَ د طلب(او تر لاسه کولو دپاره د!) حِلْيَةٍ ګاڼې(زيور) أَوْ مَتَـٰعٍ يا د سامان(يعنې کله چې زرګران سره زر يا سپين زر د ګاڼې د جوړولو دپاره اوبه کوي،يا خلک اوسپنه د مختلفو سامانونو د جوړولو دپاره اوبه يا ويلې کوي،نو د دوی د ويلې شوو اوبو دپاسه هم) زَبَدٌ ځګ وي مِّثْلُهُۥ ۚ د هغه ځګ پشان(کوم چې د سيلاب د اوبو دپاسه وي) كَذَٰلِكَ همدارنګه يَضْرِبُ بيانوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلْحَقَّ حق وَٱلْبَـٰطِلَ ۚ او باطل (د اوبو او فلزاتو نه مراد حق،او د سيلاب دپاسه ځګ او د ويلې شوو فلزاتو دپاسه ځګ نه مراد باطل دی) فَأَمَّا نو دا ٱلزَّبَدُ ځګ فَيَذْهَبُ خو د منځه ځې جُفَآءً ۖ بې ګټې(لکه چټلې) وَأَمَّا او هغه مَا څه چې يَنفَعُ ګټه رسوي ٱلنَّاسَ خلکو ته فَيَمْكُثُ نو پاتې کيږي فِى ٱلْأَرْضِ ۚ په ځمکه کې(يعنې باطل«کفر او شرک» به ان شاءالله خامخا د منځه ځي،او د کفر او شرک ښځه به پاک د الله تعالی دين په ځمکه کې پاتې کيږي،لکه څنګه چې د سيلاب دپاسه زګ د منځه ځي او پاکې خالصې اوبه پاتې کيږي،او يا لکه

ځنګه چې د ویلې شوو سرو او سپینو زرو ځخه بې فایدې شیان د ځګ په شکل د منځه ځې او خالص سره او سپین زر پاتې کیږي،انشاء الله یو وخت به د الله تعالی دین هم همداسې د کفر او شرک ځخه پاک د ځمکې په مخ پاتې شي) كَذَٰلِكَ همداسې يَضْرِبُ بیانوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلْأَمْثَالَ مثالونه(دا ټول مثالونه د دې دپاره دي چې خلک فکر وکړي،پوه شي،او حق د باطل ځخه جدا کړي.) ۱۷

کله چې قرانکریم نازل شو،نو دا الهي باران وو،چې د آسمان ځخه د رحمت،هدایت او نور په توګه نازل شو.

هر زړه لکه یوه دره یا خوړ یا لښتی د خپل ظرفیت تقوا،او اخلاص د مخې د دې اوبو ځخه برخمن شو،ځینې زړونه لوی وو،ځینې تنګ،ځینې ژور وو،ځینې کمزوري.

دا زړونه د وحې او هدایت اوبو وخوځول،حرکت یې وکړ.

د بیلابیلو خوړونو(لښتیو یا زړونو) ځخه یو مشترک سیلاب یعنې یو مشترک امت جوړ شو.

همدا دیني سیلاب چې د مؤمنو زړونو د یوځای کیدلو ځخه جوړ شوی وو،د باطل،شرک،فریب،ظلم او منافقت ځګونه یې د ځان سره ویوړل،او حق غالب شو.

د رسول الله «صلی الله علیه وسلم په زمانه کې اصحابو کرامو داسې زړونه درلودل چې قرآن یوازې د ژبې خبره نه وه،بلکې د زړه،فکرر،او عمل خبره وه.

خو اوس څه شوي؟

نن ورځ هم قرآن شته،مسلمانان هم ښه ډېر دي،خوړونو یا لښتیو(زړونو)ته هم اوبه راکوزیږي،خو څګ د منځه نه ځي،باطل هره ورځ غښتلی کیږي،برعکس ځګ غالب شوی!باطل راولاړ شوی،او امت لاندې شوی،مسلمان د مسلمان په وړاندې ولاړ دی، د امت یووالی یوازې په تاریخ کې پاتي دی، ولې؟ ځکه چې زړونه بند دي،

د بندونو مشکل دی.

د هرخوړ د هر لښتي(زړه) په سر کې بندونه ایښي دي.اوبه نازلیږي خو سیلاب نه جوړیږي.

د انانیت بندونه(یعنې ځان د نورو غوره ګڼل،خپل فکر په هر چا صحیح ګڼل،خپله ډله،مدرسه،ګوند،مفکوره تر نورو برتره ګڼل ځان په نورو مخکې منل،دا هغه مزاج دی چې مشوره نه مني،تواضع نلرې،او بل ته ځای نه ورکوي)،همدارنګه د قومي تعصب ،فرقه یې بغض،نفس پرستی بندونه،همداسې د سیاسي تمې بندونه یعنې دین د قدرت،واک شهرت یا مقام دپاره استعمالول:مثلاً دیني حرکت پیلوي،خو مقصد یې قدرت ته رسیدل وي.

د مسجد خطیب کیږي،خو نیت یې ټاکنو ته ځان چمتو کول وي.

اسلامي شعارونه کاروي،خو نیت یې وزارت،واک یا څوکۍ وي.

.دې ته وایې د دین جامه،د دنیا دپاره اغوستل.

دا هغه بندونه دي چې د هدایت او ایمان د اوبو مخه نیسي.چې په نتیجه کې زړونه وچ دي، که څه هم ژبې د ایمان خبرې کوي.ایمان د ژبې په سر دی،نه د زړه په تل کې،ایمان نن سبا د شهرت،سیاسي

امتیاز،او دنیایي دسیسو دپاره کاریږي،قرآن د مشاعرې ماده شوي،نه د اصلاح سرچینه.امت د الفاظو امت دی،نه د افکارو او اعمالو.

قرآن تلاوت کیږي،خو د شهرت یا دنیا دپاره،دیني اصطلاحات کاریږي،خو د عزت او قدرت دپاره.

## ای مسلمان امته!

د بدر صحابه هم انسانان وو،او تاسو هم انسانان یئ!خو هلته ایمان د زړونو راپورته شوئ وو-دلته یوازې د ژبو!هلته زړونه سره یو وو-دلته سره جلا دي،هغوی د هدایت ښخه سیلاب جوړ کړئ وو-خو تاسو.....،هغوی ځګ ورکولو-خو تاسو د ځګ نه ویریږئ.

حل څه دی؟

د دې آیت پیغام ښکاره دی. بندونه باید لرې شي،زړونه خلاص شي،درو(زړونو)ته دې د وحې او هدایت اوبه داخل شي،ټول مسلمانان دې سره یو شي،سیلاب دې جوړ شي،هغه وخت چې ایمان په عمل بدل شی،باطل به ځګ شي،او بیا به سیلاب راځي.

لِلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُۥ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْحِسَابِ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ١٨

۞أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ
أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ (19) ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ (20)
وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ
سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ (21) وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ
عُقۡبَى ٱلدَّارِ (22) جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ
وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ (23) سَلَٰمٌ
(24) عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ

لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ چې د خپل رب بلنه يې ومنله(ايمان يې راوړو،او نيک اعمال يې وکړه) ٱلۡحُسۡنَىٰۚ ډېر ښه(بدل،د الله تعالی رضاء او جنت دی) وَٱلَّذِينَ او هغه خلک لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ چې د هغه «جل جلاله» بلنه يې ونه منله(ايمان يې رانوړ،او بد اعمال يې وکړل،نو!) لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا که چيرته دوی ته د ځمکې ټوله شتمني وای وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ او دومره نوره هم ورسره وای(که د ټولې د نيا دوه چنده مال او دولت ورسره وای،اول خو داسې ناممکن دي،خو که فرضاً ممکن هم وو،نو داسې خلکو به دا ټول مال او دولت !) لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ خامخا په فديه کې ورکړی وو(چې د الله تعالی د عذاب څخه خلاص شي،ليکن بيا به هم د الله تعالی دعذاب څخه خلاص شوي نه وو) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَهُمۡ د همدوی دپاره سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ سخت حساب دی(ډېر دقيق زره په زره حساب به ورسره کيږي،او عفوه او رحم به پرې نه کيږي) وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ او د دوې ځای به دوزخ وي وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ او(دوزخ) د اوسيدلو ډېر خراب ځای دی ۱۸

محمد(صلی الله علیه وسلم) ته خطاب دی!

۞أَفَمَن نو آیا هغه څوک يَعۡلَمُ چې پوهیږي أَنَّمَآ چې پرته د
شک نه، دا(قرآن) أُنزِلَ چې نازل شوی دی إِلَيۡكَ تا ته مِن
رَّبِّكَ ستا د رب د طرف نه ٱلۡحَقُّ حق(ریښتیا) دی(او ایمان پرې
لرې)، كَمَنۡ (نو ایا دا کس) د هغه چا پشان کیدای شي هُوَ
چې هغه أَعۡمَىٰٓۚ ړوند وي(د سر یا فزیکي سترګې یې وي،خو د
زړه یا معنوي سترګې یې ړندې وي،نه په قرآن ایمان لرې ،او نه د
قرآن په حقانیت فکر کوي،۲۴ ساعته د نفسي خواهشاتو په پوره
کولو کې مصروف وي،خو قرآن ته ۵ دقیقې وخت هم نه لرې)
إِنَّمَا بیشکه حقیت دا دی. يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ چې یوازې د
خالصو عقلونو خاوندان نصیحت قبلوي (یعني چې عقلونه یې د
تعصب او نفسي خواهشاتو د ګندګۍ څخه پاک وي) (19) ٱلَّذِينَ
دغه(د خالصو او پاکو عقلونو خاوندان)هغه خلک دي يُوفُونَ
چې پوره کوي بِعَهۡدِ ٱللَّهِ د الله تعالی سره کړي وعدې (په هر
لمونځ کې د الله تعالی سره وعده کووْ! ایاک نعبد.«یا الله خاص ستا
بندګي کوو،خاص ستا پاچاهي منو،خاص ستا حکومت منو،خاص
ستا قانون او حکمونه منوو،د طاغوت قانون نه منو،خاص ستا
غلامان یوو،خاص ستا عبادت کوو.» و ایاک نستعین.«او خاص
ستا نه کومک غواړو،د تکلیف په وخت کې خاص تا ته رجوع کوو
او خاص ستا نه د ضرورتونو پوره کول غواړو،نو د خالص عقل
خاوندان چې څه وایي،عمل او وفا هم پرې کوي») وَلَا يَنقُضُونَ
او نه ماتوي ٱلۡمِيثَٰقَ تړون (۲۰)(خو:د الله تعالی په حکومت کې د
مخلوق شریکول د تړون ماتول دي،د غیرالله په دربارونو کې سر
ټیټول او مدد غوښتل د تړون ماتول دي،د الله تعالی د قانون په ځای

د طاغوت په قانون فیصله کول د ترون ماتول دي، الله تعالی فرمايي: وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(کتاب،قانون)باندې فیصله ونکړه،همدوی کافران دي. (المائدة 44) وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(کتاب،قانون) باندې فیصله ونکړه،همدوی ظالمان دي. (45 المائدة ) وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(کتاب،قانون) باندې فیصله ونکړه،نو همدوی فاسقان دي.
(المائدة ۴۷)

وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ (21) وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ (22) جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ (23) سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ۲۴ )

وَٱلَّذِينَ او(دا د خالص عقل خاوندان) هغه خلک دي يَصِلُونَ
چې هغوی جوړوي(وصلوي) مَآ هغه (اړيکي) أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ
چې الله تعالی پرې حکم کړی أَن يُوصَلَ چې وصل شي(دلته
هر هغه پيوستون او اړيکې ته اشاره ده چې:الله تعالی پرې تاکيد
کړی،د مور او پلار سره احسان،د خپلوانو،ورونو،ترونو،خپلوانو
ګاونډيانو او مسلمانانو سره اړيکې،مرسته او نرمي.د ټولنې د خير
اړيکې،چې د ټولنيز نظم اساس جوړوي،لکه:د فقيرانو حقونه،د
مظلومانو ملاتړ،او د مؤمنانو تر منځ د محبت او وحدت اړيکې.د الله
تعالی سره ديني اړيکې،د ذکر،د دين د ساتنې او په عبادتونو سره)
وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ او د خپل رب څخه ويريږي(د الله تعالی څخه د
ادب،درناوي او معرفت په اساس ويريږي،نه يوازې د عذاب په
سبب) وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ او د سخت عذاب نه
ويريږي(دلته اشاره د قيامت ورځې ته ده،چې هلته به ټول اعمال
زره زره په ډېر تفصيل او دقيقه توګه حسابيږي،نو دا د عقل
خاوندان د قيات د دې دقيق حساب څخه ويريږي او په خپل عمل
کنټرول لري) (21)

وَٱلَّذِينَ او (دا د عقل خاوندان ) هغه خلک دي صَبَرُواْ چې
صبر يې کړی ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ د خپل رب د رضا دپاره(دا
صبر يوازې د درد،فقر او کوم مشکل باندې صبر نه دی.بلکې دا د
نفس د مهارولو او کنټرولولو،د حرامو څخه د ځان ساتلو،او د الله
تعالی په لار کې په تکليفونو صبر دی.په خالص نيت صرف د الله
تعالی د رضا دپاره،نه د شهرت يا کتې دپاره) وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ او
لمونځ يې قايم کړی(پوره لمونځونه يې په خپل وخت په پور خشوع
سره ادا کړي وي) وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ او خرڅ کوي د هغه

څه نه چې مونږ ورکړي سِرّٗا پټ(د رياء نه د ځان ساتلو دپاره) وَعَلَانِيَةٗ او ښکاره(د نورو خلکو د تشويقولو دپاره) وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ او بدي په نيکى دفع کوي(کله چې د دوی سره بد چلند وشي،دوی په نرمی،ښه سلوک،او بخښنې سره جواب ورکوي،او دا د رسول الله «صلى الله عليه وسلم سنت هم دي) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَهُمۡ د دوی دپاره عُقۡبَى ٱلدَّارِ د آخرت ښه انجام دی.(د الله تعالی رضاء،جنت او هميشه خوشالي) (22) جَنَّٰتُ عَدۡنٖ (ځوک چې دا مخکې ذکر شوي صفتونه ولري د دوی دپاره الله تعالی) تل پاتي جنتونه (جوړ کړي،چې نه هلته مرګ شته، ،نه مريضي شته،نه زوړوالی شته،نه غريبي شته،نه غم او خفګان شته،هميشه ژوند،هميشه ځواني،هميشه خوشالي...... وي) يَدۡخُلُونَهَا دوی به دې(تل پاتي) جنتونو ته ورننوځي وَمَن او هغه ځوک(به هم ورننوځي) صَلَحَ چې نيک وي مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ د دوی د پلرونو څخه وَأَزۡوَٰجِهِمۡ او د دوی د ښځو څخه(او د خاوندانو څخه،ځکه زوج يا جوړه ښځې او خاوند دواړو ته وايې) وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ او د دوی د اولادونو څخه(يعني هلته به نه يوازې دوی داخليږي،بلکې د دوی نيک پلرونه،ميرمنې،او اولادونه هم که ايمان او صالح عمل ولرې،د دوی سره به يوځای جنتونو ته ننوځي.دا د الله تعالی د طرف نه د رحمت يوه لويه نښه ده:که يو مؤمن ډېر لوړ مقام ته ورسيږي،او د هغه خپلوان هم نيک وي،نو الله تعالی به د مؤمن د مقام په وجه هغوی هم لوړ کړي چې سره يو ځای شي.ای مسلمانه!ايمان او صالح عمل يوازې ستا نجات نه دی،بلکې ستا د کورنۍ د اتحاد سبب هم دی.کوشش وکړه چې خپل اولادونه،ميرمن،او کورنۍ دې هم الله تعالی ته نيږدې کړي،ځکه دا

آخرت کې هم د يوځايوالي وسيله ده.نيکي يوازې ستا نه ده:که ته نيک اوسې،نو ستا عمل د نورو ژوند هم روښانولی شي) وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ او ملايکې به يَدۡخُلُونَ ورننوځي عَلَيۡهِم دوی ته مِّن كُلِّ بَابٖ د هرې دروازې څخه(د مؤمنانو د عزت،درناوي،سلام او خوشالۍ دپاره.) (23)

سَلَٰمٌ (او مؤمنانو جنتيانو ته به وايي) سلام دې وي عَلَيۡكُم په تاسو باندې بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ د هغه صبر په بدل کې چې تاسو کړی دی فَنِعۡمَ نو ډېر ښه دی عُقۡبَى ٱلدَّارِ د آخرت کور(دا آيت د مخکيني آيت دوام دی.کله چې مؤمنان جنت ته ننوځي،او فرښتې د هرې دروازې راشي،نو هغوی به د دوی د ښه عمل، په خاص ډول د صبر په بدل کې ورته دا مبارکي وايي:«سلام عليکم بما صبرتم»يعنې:تاسو صبر وکړ،ايمان مو وساته،نفسي خواهشاتو ته تسليم نه شوئ،د ګناهونو مو ځان وساتلو،اوس دا سلام او جنت ستاسو بدله ده.«فنعم عقبى الدار»يعنې:څومره ښکلی او بهتر دی دا انجام ،دا کور يعني جنت چې تاسو ته درکړل شو. (24)

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ (25)

وَٱلَّذِينَ او هغه کسان يَنقُضُونَ چې هغوی ماتوي عَهۡدَ ٱللَّهِ عهد(وعده،تړون) د الله تعالى مِنۢ بَعۡدِ وروسته د مِيثَٰقِهِۦ کلکوالي د هغه

( پوښتنه: دا وعده یا«مثاق» څنګه شوی؟

جواب:-په دريِ طریقو!

اول:- فطري مثاق:-مخکې د دې نه چې مخکې لاړ شو باید فطرت وپیژنو!

«فطرت هغه پيدايشي احساس دی،چې انسان يې د پيدا کيدلو سره لرې-یعنې: د حق او باطل فرق،دا چې ظلم بد دی،رحم ښه دی،دا چې یو خالق شته.........» موضوع ته راځو:

فطري مثاق د پیدا کیدلو څخه مخکې د ټولو انسانانو څخه اخستل شوی :

الله تعالی ټولو انسانانو ته دنیا ته د راتګ څخه مخکې وفرمایل:
اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ صلی قَالُوْا بَلَی «اعراف ۱۷۲» ترجمه:آیا زه ستاسو رب نه یم؟هغوی وویل:هو! ته (زمونږ رب)يې!

دا یو فطري عهد دی،چې د انسانانو د نفسونو سره شوی دی،دا عهد د انسان په فطرت کې ایښودل شوی چې: ته به زما بنده يې،زه به ستا رب یم،ته به زما اطاعت کوې.

زمونږ نفسونو دې ته هو«بلي» وویلي،خو اوس زمونږ په یاد نه دي،لیکن اغیزه او تاثیر يې زمونږ په فطرت کې ژوندی ده،یعنې:دخالق احساس،د حق سره مینه،د ظلم څخه نفرت.........،نو دا لومړی عهد وو،او الله تعالی ورته «مثاق»یعنې کلک عهد وايې.

دوهم:- عقلي مثاق:-د عقل د لارې عهد یا تړون یا وعده!

انسان د حيوان سره په دې فرق لرې،چې:عقل لرې،عقل انسان ته دا ورزده کوي: چې ښه او بد شته،ظلم غلط دی او انصاف ښه دی،-دروغ،خيانت،حرام خوړل-ټول غيراخلاقي دي،او هر د سالم او خالص عقل خاوند د خالق په شتون اقرار کوي،نو دا عقلي شعور هم يو الهامي مثاق دی،ځکه چې عقل هم الله تعالی انسان ته ورکړی،نو که چيرته يو انسان د دين ځخه هيڅ خبر نه وي،يعني د پيغمبر او قرآن په باره کې يې د چا ځخه هيڅ اوريدلي هم نه وي،خو بيا هم عقل يې مکلف کوي.نو دا هم د انسان سره د الله تعالی يوه پټه وعده ده،چې ته مسؤل يې.

دريم:- وحيې مثاق:-د شريعت د لارې عهد يا وعده.

کله چې يو انسان، د پيغمبر د لارې د الله تعالی دين واورې،ايمان راوړي،او دا ومني چې:الله تعالی زما رب دی،محمد«صلی الله عليه وسلم»زما پيغمبر دی،او قرآنکريم زما لار ده.

نو دلته هغه يوه واضحه وعده کوي:چې زه به د الله تعالی اطاعت کوم،حکمونه به يې منم،او د منکراتو به ځان ساتم.

دا وعده د هغو خلکو په اړه ده چې:دين يې اوريدلی او منلی وي - دوی وعده کړې،حتی که يې دا په الفاظو نه وي ويلې،ليکن اقرار،عمل يا ايمان پخپله يو عهد يا وعده ده.

پوښتنه:

دا وعده يا ميثاق چا د چا سره کړې؟

آيا انسان د الله تعالی سره کړې؟

آيا الله تعالی د انسان سره کړې؟

که دواړو یو دبل سره کړي؟

دا یو دوه طرفه تړون یا وعده یا میثاق دی،خو ابتکار د الله تعالی د خوانه پیل شوی،او منل یې د انسان کار دی.یعني: الله تعالی د انسان سره عهد کړی،او انسان منلی -نو دواړو یو دبل سره عهد کړی،خو پیل کوونکی الله تعالی دی.

تفصیلي تشریح:

ا:- الله تعالی د انسان سره میثاق کړی دی

الله تعالی د فطرت،عقل،او وحې د لارې دا میثاق یا عهد مطرح کړ:

الله تعالی انسان ته وفرمایل: زه ستا رب یم،ته زما بنده یې،ته به زما اطاعت کوې.

دا دعوت،مسؤولیت،او عهد د الله تعالی د طرف څخه پیل شو.

اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ صلی قَالُوْا بَلٰی «اعراف ۱۷۲» ترجمه:آیا زه : ستاسو رب نه یم؟هغوی وویل:هو! ته (زمونږ رب)یې.نو د میثاق یا عهد پیشنهاد د الله د طرفه راغی.

۲:-انسان د الله تعالی سره دا میثاق ومنلو

کله چې انسان دا ومنله«فطري،عقلي او یا د وحې په اساس»:

هو،زه به اطاعت کوم

هو،زه به الله تعالی پیژنم

هو،زه به ایمان راوړم.........نو دلته انسان هم عملاً وعده وکړه – (یا په فطرت،یا عقل یا اقرار سره).او دا میثاق یې قبول کړ.

## نو آیا دا دوه طرفه دی؟

هو دا یو دوه طرف عهد یا میثاق دی:خو پیل کوونکی،مسؤلیت سپارونکی،دعوت کوونکی،او وعده اخستونکی الله تعالی دی.او د دعوت قبلوونکی،اطاعت کوونکی،او وعدې پوره کوونکی انسان دی.

## د بنه یوهیدلو دپاره دی مثال ته توجه وکړئ!

لکه څنګه چې یو حاکم د خپل رعیت(یا خپلو خلکو) سره معاهده کوي:

حاکم وايي:زه به تاسو ته سهولتونه،او امنیت برابر کړم،د تعلیم دپاره به درته مکتبونه جوړ کړم............

رعیت(یعني خلک)وايي:مونږ به نظام ته وفادار یوو،او قانون به منو.

دا یو دوه طرفه عهد،یا تړون یا میثاق دی،لیکن پیل د حاکم د خوا څخه کیږي.

نو دالله تعالی او انسان تر منځ هم دا ډول دوه طرفه وعده یا میثاق شوی :

الله تعالی وفرمایل:زه رب یم،زه درته دین درلیږم،جنت درکوم

انسان وویلي:مونږ به اطاعت کوو،بندګي به کوو،ایمان به راوړو.

په آخر کې یو ځل بیا باید ذکر شي چې:عهد الله یو دوه طرفه معاهده یا تړون دی،چې الله تعالی یې پیل کړئ،او انسان منلی دی،نو دواړو

یو د بل سره میثاق کړی،خو د الله تعالی د خوانه تفضلي عهد دی او د بنده د خوانه وجوبي عهد دی.

وَيَقۡطَعُونَ او(هغه کسان) چې پرې کوي(قطع کوي) مَآ هغه څه أَمَرَ ٱللَّهُ چې الله تعالی امر کړی بِهِۦٓ په هغه باندې أَن يُوصَلَ چې پیوست(وصل) وساتل شي(صله رحمي یا د دوستانو سره اړیکي باید قطع نشي،لکه د خپلوانوتر منځ مینه،احترام،مرسته،لیدنه،مهرباني.......،د الله تعالی سره اړیکه، یعني دالله تعالی اطاعت او عبادت کول،او د حکمونو منل باید قطع نشي،د مؤمنانو تر منځ د وحدت،یووالي،او ورور ولی اړیکې باید قطع نشي،الله تعالی امر کوي چې مؤمنان باید یو دبل سره محبت،همکاري،او اخوت ولري.څوک چې دا اړیکې قطع کوي،تفرقه خپروي،د خلکو تر منځ کرکه اچوي دا هم قطع کول دي، دا خلک د الله تعالی د امر څخه سر غړونه کوي،او دوی د الله خوښ نه دي.) وَ او (هغه کسان) يُفۡسِدُونَ چې فساد کوي فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې(په ځمکه کې فساد خپروي:ظلم کوي،فتني جوړوي،ګناهونه خپروي،حق باطلوي،خلک د الله تعالی څخه لیرې کوي) أُوْلَٰٓئِكَ دغه کسان(چې ذکر شو) لَهُمُ همدوی ته ٱللَّعۡنَةُ لعنت دی(همدا خلک د الله تعالی د لعنت مستحق دي،یعنې د الله د رحمت نه لیرې دي) وَلَهُمۡ او دوی دپاره سُوٓءُ ٱلدَّارِ ډېر خراب استوګنځی دی(په آخرت کې یعني جهنم کې به اوسیږي) (٢٥)

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ (26)

ٱللَّهُ الله تعالی يَبۡسُطُ پراخوي ٱلرِّزۡقَ رزق لِمَن چا ته يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» غواړي وَيَقۡدِرُۚ او هغه«جل جلاله» تنګوي(رزق چا ته چې هغه «جل جلاله» غواړي.دنیا د امتحان ځای دی،الله تعالی امتحان اخلي،او بنده امتحانورکوي،کله الله تعالی بنده ته رزق پراخه کوي،د دې دپاره چې د شکر امتحان ترې واخلي،او کله یې رزق کموی،د دی دپاره چې د صبر امتحان ترې واخلي،نو د رزق پراخوالی او کموالی د انسان د هوښیاری،کوشش او نصیب خبره نه ده،بلکې دا دالله تعالی پلان دی) وَفَرِحُواْ او دوی خوشاله شو بِٱلۡحَيَوٰةِ په ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنیا (یعنې غافلان یوازې د دنیا په ژوند داسې خوشال او مطمئین دي،لکه بالکل چې ترې ځي نه،او آخرت یې هیر کړی دی) وَ او حال دا چې مَا نه دی ٱلۡحَيَوٰةُ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنیا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت په مقابل کې إِلَّا مګر مَتَٰعٞ یو موقتي شی دی( د دنیا د ژوند وخت ډېر لنډ دی،خو د آخرت ژوند تل پاتي او همیشه دی) (۲۶)

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ (27)

وَ او يَقُولُ وایي ٱلَّذِينَ هغه (خلک) كَفَرُواْ چې کافران دي ( د مکې مشرکانو او هغو خلکو چې د نبي علیه السلام دعوت یې نه منلو،دوی به ویلي چې) لَوۡ ولي لَآ نه ده أُنزِلَ نازل شوي عَلَيۡهِ په هغه«صلی الله علیه وسلم» باندې ءَايَةٞ

يوه معجزه مِّن رَّبِّهِۦۚ د هغه د رب د طرف څخه (دا د مشركانو
او د حق څخه د منكرانو بهاني دي،چې د نبي عليه السلام په زمانه
كې يې هم كولي،او اوس يې هم كوي،ځكه چې د ټولو څخه لويه
معجزه خو قرآن دي،چې نه يې په هغې وخت كې چا چلنج مات
كړى،او نه اوس او نه به يې د قيامت پورې څوک ماته كړي) قُلۡ
ووايه إِنَّ بېشكه ٱللَّهَ الله تعالى يُضِلُّ گمراه كوي مَن
هغه څوک يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» يې غواړي(الله تعالى
هغه څوک گمرا كوي چې د گمراهۍ مستحق وي،الله تعالى د ټولو
انسانانو په فطرت كې د خالق او ښو او بدو تصور اچولى،پيغمبران
او كتابونه يې ورته رالیږلي دي،يعني هر چا ته الله تعالى خپل پيغام
ورسولى،او ورسوي يې،نو د انسانانو خپله خوښه ده چې پيغام
مني،او كه نه،كه چا ومنلو نو د هدايت لار يې ونيوله،او كه چا ونه
منلو نو د گمراهۍ لار يې ومنله،يعني منل او نه منل انسان په خپل
اختيار كوي،دا په دې معنى چې الله انسان ته د هدايت او گمراهۍ
لارې، اسباب او د دواړو لارو انجام د فطرت،عقل،پيغمبرانو او
اسماني كتابونو پواسط انسان ته ښودلى،نور يې اختيار وركړى،چې
كومه لار انتخابوي پخپله خوښه او اراده يې اختيار كړه،الله تعالى
پكې مداخلت نه كوي.د ښه پوهيدلو دپاره دې مثال ته توجه وكړئ!
استاد ټولو شاگردانو ته يو شان درس وايي،خو كوم شاگرد چې د
استاد خبرو ته غوږ ږدي، په غور سره يې اورې،او د استاد د
هدايت مطابق هر درس زده كوي او عمل كوي،نو كله چې استاد
امتحان اخلي نومړى شاگرد كاميابيږي،د دې مطلب دا نه دى چې
استاد په كاميابيدلو كې ورسره همكارې وكړه،بلكې شاگرد پخپله
ځان كامياب كړو،ځكه چې سوالونه يې صحيح حل كړي وو،خو كه

د همدې صنف بل شاګرد چې نه يې درس ته غوږ اېښودلو،او نه يې درس زده کولو،ناکامېږي،د دې مطلب دا نه دی چې استاد ناکام کړو،او نه په استاذ اعتراض کولی شي،چې تا ناکام کړی يم،بلکې پخپله يې ځان ناکام کړو،ځکه چې:سوالونه يې غلط حل کړي وو،دا په دې معنی چې کامیابول او ناکامول دواړه استاذ کړي،لیکن د شاګردانو د جوابونو د نتايجو په اساس،نه دا چې:یو ته يې سوالونه صحيح کړي او کامياب کړی يې دی،او بل ته يې سوالونه غلط کړي،او ناکام کړی يې دی،نه هيڅکله هم يو ښه معلم يا استاذ داسې نکوي، نو همدارنګ الله تعالی هم ټولو انسانانو ته خپل کتابونه د پيغمبرانو په لاس راليږلي،پغمبرانو د الله تعالی پيغام انسانانو ته رسولی،نو چا چې دا الهي پيغام قبول کړی،او عمل يې پرې کړی،نو د هدايت لار يې نيولي، د الله تعالی په امتحان کې کامياب،او د جنت مستحق دی.مګر چا چې الهي پيغام نه دی منلی،د پيغمبرانو او د دين د داعيانو توهين يې کړی دی،د الحاد او او شرک لار يې نيولي،نو دوی پخپله د ګمراهی په لار روان دي،د الله تعالی په امتحان کې ناکام،او د جهنم مستحق دي.نو که خلک د یو معلم يا استاذ څخه د داسې بې انصافۍ توقع نکوي،نو بيا په عادل او منصف الله باندې ولې دومره لوی تهمت وايې:چې الله تعالی د انسانانو څخه په امتحان اخستلو کې مداخله کوي،څوک کامیابوي،او څوک ناکاموي؟ وَيَهْدِيٓ او هغه«جل جلاله» لاره ښيې إِلَيۡهِ خپل طرف ته مَنۡ هغه چا ته أَنَابَ چې رجوع وکړي(چې توبه وباسی) (27)

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ (28) ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ (29)

ٱلَّذِينَ (الله تعالی ته رجوع کوونکي)هغه خلک دي ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړی وَتَطۡمَئِنُّ او مطمئن کیږي(تسکین کیږي) قُلُوبُهُم زړونه د هغوی بِذِكۡرِ په ذکر سره ٱللَّهِۗ د الله تعالی أَلَا خبردار بِذِكۡرِ په ذکر سره ٱللَّهِ د الله تعالی تَطۡمَئِنُّ مطمئن کیږي(تسکین کیږي) ٱلۡقُلُوبُ زړونه

(ذکر څه ته وایې؟

قرآنکریم د سورة الحج په ۹ آیت کې فرمایې:

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ(۹) ترجمه: بېشکه مونږ قرآن نازل کړی،او بېشکه مونږ د هغه حفاظت کوونکي یو.

یعنې څوک چې ایمان راوړي،او د قرآن د قانون مطابق نظام جوړ کړي،او نوموړی قانون په ټولنه کې نافذ شي،نو د هر چا زړه به تسکین او ارام وي.ځکه چې د اسلامي نظام مشر مسؤل دی:چې د رعیت(خلکو) اساسي ضرورتونه پوره کړي ــ لکه خوارې،لباس،کور،او نور د ژوند لومړني وسایل، د عدل،انصاف او امنیت تأمینول.

نو چې د کور،لباس،خوراک مشکل حل وي،عدالت او امنیت تأمین وي،او د سړي دا یقین وي چې غل ته جزا ورکول کیږی،قاتل قصاص کیږي، ظالم ته سزا ورکول کیږي،او عدالت او امنیت تأمین دی،نو خامخا به د داسې ټولنې د خلکو زړونه ارام او مطمئین وي.او قرآن تاکیداً فرمایې:خبردار!چې: قلبي اطمنان او سکون

یوازې په هغو نظامونو کې خلکو(رعیت) ته پیدا کیږي،چې هلته قانون صرف د ذکر یعنې د قرآن عظیم الشان وي،او نافذوونکي او تطبیقوونکي اداري یې د دې ذکر یعنې قرآن حق پرست علماء وي.او صرف د قرآن په قانون فیصلې کوي.او که داسې نه وي،یعنې د قرآن د قانون په ځای د انسانانو په لاس جوړ شوی قانون د نظام اساسي قانون وي،قرآن صرف د ثواب او وبال دپاره د یوڅو عبادتونو د کتاب په نوم د مسجدونو او کورونو پورې محدود شوی وي،او په حکومت او سیاست کې  د قرآن د قانون په ځای، د انسانانو په لاس لیکلی قانون ځای ونیسي،یعنې قرآن د سیاست او حکومت څخه بیل شي،او په مسجدونو او کورونو کې ورڅخه صرف د ثوابونو،دمونو او وظیفو کتاب جوړ شي نو د داسې نظام رعیت(خلک) به هیڅکله هم نه ښه ورځ وګوري، او نه به یې زړونه سکون او اطمنان پیدا کړي،او نه به د قیامت په ورځ دا خلک الله تعالی ته د دې ظلم او خیانت جواب ورکړي،چې  د هغه «جل جلاله» قانون یې د حکومت او سیاست څخه بیل کړئ و، او صرف د دمونو،ثوابونو او وظیفو کتاب یې ترې جوړ کړئ و.څکه چې الله تعالی فرمای:

: وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(قانون)باندې فیصله ونکړه،همدوی کافران دي.(المائدة 44)

وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(قانون) باندې فیصله ونکړه،همدوی ظالمان دي.(45 المائدة  )

وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ.-او چا چې د الله تعالی په نازل شوي(قانون) باندې فيصله ونکړه،نو همدوی فاسقان دي.
(المائدة ۴۷)

کافر خو کافر دي،ليکن افسوس د هغو مسلمانانو په حال چې په شعوري يا غيري شعوري ډول د طاغوت دپاره کار کوي،او ځان ته مسلمانان هم وايي.د داسې خلکو په باره کې قرآن فرمايي!

يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ

دوی ادعا کوي،چې مونږ مسلمانان يو،او په قرآن او مخکينيو آسماني کتابونو مو ايمان راوړی دی(خو دا ايمان يې په عمل کې دروغ وي،کله چې د عمل ځای راشي)

يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ

دوی غواړي چې فيصلې يې د طاغوت( باطلو د انسان په لاس جوړو شوو قوانينو،مشرانو يا قاضيانو)د لارې وشي

وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ حال دا چې: الله تعالی دوی ته امر کړی،چې د طاغوت نه انکار وکړی(يعنې رد يې کړی،نه پرې اعتماد وکړی،او نه پرې فيصله وکړی)

وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا(النساء ۶۰) او شيطان غواړي چې دوی بې لارې کړي،په ډېره لېرې ګمراهی سره.

«څوک چې ځان مسلمان ګڼي،خو د الله تعالی په ځای د بشر قانون،سیکولر محکمو،یا غیري اسلامې نظام ته مراجعه کوي،دا د ایمان خلاف عمل دی»

دا آیت مونږ ته دا پیغام راکوي،چې ایمان یوازې په ژبه نه دی،بلکې په عمل هم دی. څوک چې د الله تعالی قانون پرېږدي،او د طاغوت فیصلې مني،هغه په خطرناکه ګمراهۍ کې دی .طاغوت څو ډوله دی،

اول:-باطل مشران!دوی د الله تعالی د قانون څخه سرکشي کوي،لکه فرعون،نمرود یا اوسني استبدادې فاسد مشران.

دوهم:- غیرې اسلامې قوانین! د انساني عقل په اساس جوړ شوي قوانین،لکه سیکولر قوانین«چې دین د دولت څخه بیلوي،بشر پاله قوانین چې د شریعت خلاف فیصله وکړي،

دریم:- باطله محکمه یا نظام،هغه عدالت یا محکمه چې د الله تعالی د قانون په ځای د انسان قانون تطبیقوي،

څلورم:- شیطان او د هغه پیروان:هغه څوک یا وسایل چې انسان د الله تعالی له اطاعت څخه اوباسي.

نو د آیت د تطبیق د مخې چا ته طاغوت وایې؟

څوک چې د الله تعالی شریعت پرېږدي،او د غیر اسلامي قانون،سیستم،یا عدالت نه فیصله غواړي،یا پرې راضي وي،یا یې مشروع ګڼې،نو دا کس د طاغوت د پیروانو څخه دی؟

څوک چې طاغوت مني،هغه څنګه دی؟

که پوهيږي،چې د طاغوت قانون د الله تعالى د قانون خلاف دى،خو بيا يې هم مني يا پرې راضي وي،نو دا سې شخص !

يا منافق دى«ظاهراً مسلمان،باطناً د حق مخالف».

يا ظالم دى.

يا كافر دى - : وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ.-او چا چې د الله تعالى په نازل شوي(قانون)باندې فيصله ونكړه،همدوى كافران دي. (المائدة 44)

پس هر مسلمان مكلف دى،چې طاغوت ته به نه مراجعه كوي،نه به پرې راضي كيږي،نه به ورته رايه وركوي،نه به يې ملاتړ كوي.)

(28) ٱلَّذِينَ هغه (خلک) ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړى وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک اعمال يې كړي طُوبَىٰ خوشالي ده لَهُمۡ دوى ته وَحُسۡنُ او ښايسته مَـَٔابٖ ځاى د واپسى دى(د دوى دپاره په آخرت كې يعنې جنت دى) (29)

كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ (30)

خطاب محمد«صلى الله على وسلم» ته دى!

كَذَٰلِكَ ( لكه څنګه چې مو پخواني رسولان ليږلي) همداسې أَرۡسَلۡنَٰكَ مونږ ليږلى يې ته فِيٓ أُمَّةٖ داسې يو امت ته قَدۡ چې يقيناً خَلَتۡ تير شوي دي مِن قَبۡلِهَا مخكې د دې

(امت)ښځه أُمَمٞ (نور) امتونه(يعنې، د دې ښځه مخکې هم نورو امتونو ته رسولان ليږل شوي،) لِّتَتۡلُوَاْ تر څو چې ته تلاوت کړې(يعنې دې قوم ته مونږ ته د دې دپاره وليږلې،چې تلاوت کړې) عَلَيۡهِمُ دوی ته ٱلَّذِيٓ هغه څه(يعنې قرآن) أَوۡحَيۡنَآ چې مونږ وحي کړې إِلَيۡكَ تا ته وَ په داسې حال کې چې: هُمۡ دوی يَكۡفُرُونَ کفر کوي بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ په رحمن باندې (يعنې دوی د الله تعالى د «الرحمن» د صفت څخه انکار کوي.د مکې قريشو يا «رحمن» نه پژندو،او يا يې انکار کولو) قُلۡ ورته ووايه چې هُوَ هغه«جل جلاله» رَبِّي زما رب دی لَآ نشته إِلَٰهَ لايق د عبادت إِلَّا مګر هُوَ هغه«جل جلاله»دی عَلَيۡهِ په هغه «جل جلاله» باندې تَوَكَّلۡتُ ما توکل کړی وَإِلَيۡهِ او هغه«جل جلاله» ته مَتَابِ ورګرځيدل دي (30)

وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ (31)

کافرانو ويلي!چې مونږ به قرآن هلته ومنو،چې د دې پواسطه د مکې نه غرونه لرې شي،يا ځمکه څيرې شي او د اوبو چينې ترې راووځي،او يا مړي خبرې وکړي،دا په دې معنى چې د قرآن آيتونه

که په مړي شف شي ،باید ژوندی شي،او خبرې وکړي،او که په ځمکه شف شي باید ځمکه څیرې شي او د اوبو چینې ترې راوځې.نو د ځینو مؤمنانو په زړونو کې هم راغلل که داسې یو ناشنا کار الله تعالی وکړي،ډېر به ښه وي،ځکه چې الله تعالی ته خو دا کوم ګران کار نه دی،خو کافران به ایمان راوړي ،حق ته به ورسیږي او مونږ به یې هم د لانجو څخه خلاص شو.آیت ته توجه وکړئ! الله تعالی د دوی په جواب کې فرمايي:

وَ او لَوۡ که أَنَّ بېشکه چې قُرۡءَانٗا قرآن(داسې وای) سُيِّرَتۡ چې روانیدل بِهِ په ده سره ٱلۡجِبَالُ غرونه أَوۡ یا قُطِّعَتۡ څیرې کیدله بِهِ په ده سره ٱلۡأَرۡضُ ځمکه أَوۡ یا كُلِّمَ خبرې کولې بِهِ په ده سره ٱلۡمَوۡتَىٰۗ مړو(یعنې که قران کې دا تاثیر وو، چې د هغه په دمولو باندې مړي راژوندې کیدل،او خبرې یې کولې،یا ځمکه څیرې کیدله او د اوبو چینې ترې راوتلې،یا غرونه د خپل ځای څخه بې ځایه کیدل،او کافرانو لیدل،لیکن بیا به یې هم ایمان نه وو راوړی،او په عوض د دې چې ایمان یې راوړی وای،برعکس نورې خبرې به یې هم کولې چې :نعوذبالله دا د جادو کتاب دی،او نبي علیه السلام ته به یې ساحر ویلې.) بَل بلکې لِّلَّهِ د الله تعالی دی ٱلۡأَمۡرُ واک(اختیار) جَمِيعًاۗ ټول («ټول واک خاص د الله تعالی دی»الله تعالی څوک په زور ایمان راوړلو ته نه مجبوره کوي،که څوک پخپله هدایت غواړي،الله تعالی ورته توفیق ورکوي،چې د هدایت په لار لاړ شي،قرآن زده کړي،او عمل پرې وکړي،او که څوک پخپله د

ګمراهۍ په لاره تلل غواړي،الله تعالی یې په ګمراهۍ کې
پرېږدي،ځکه چې دواړو ته یې اختیار ورکړی،هر څوک بد او ښه
پخپله خوښه کوي) أَفَلَمۡ نو آیا نه دي يَاْيۡـَٔسِ پوه شوي
ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُوٓاْ چې ایمان یې راوړی دی(نو آیا
مؤمنان تر اوسه په دې پوه شوي نه دي) أَن چې لَّوۡ که
يَشَآءُ غوښتلی ٱللَّهُ الله تعالی (که الله تعالی غوښتلی،نو!)
لَهَدَى خامخا به یې هدایت کړئ وو ٱلنَّاسَ خلکو جَمِيعًاۗ
ټولو ته(نو ټولو انسانانو ته به یې هدایت کړئ وو.لیکن چون دنیا د
امتحان کوټه ده،هر چا ته یې ښه او بده لار ښودلې،او ازاد اختیار او
اراده یې ورکړې ده،نور د هر چا خپله خوښه ده ،چې ښه کوي،که
بد ،او که د امتحان خبره نه وه ،نو بیا خو الله تعالی ته دا کومه
سخته خبره نه ده،که وغواړي په یوه لحظه کې به ټول انسانان
مؤمنان کړي،او یو کافر به هم په دنیا کې پاتې نشي) وَ او لَا
يَزَالُ همیشه ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران دي
تُصِيبُهُم رسیږي هغوی ته بِمَا په سبب د هغه څه صَنَعُواْ
چې دوی کړي قَارِعَةٌ سخت مصیبتونه( طبیعي افتونه،لکه
زلزلې،طوفانونه،مرضې وباګانې. یا نظامي عذا بونه.یعنې څوک
چې د الله تعالی د قانون مطابق په دنیا کې ژوند نه کوي،د خواهشاتو
حکومت او قانون منې،د الله تعالی غلامي پرېږدي او د تیږو او
انسانانو غلامي کوي،د واحد لاشریک القهار الجبار الله څخه نه
ویرېږي،نه شرمیږي او نه یې حیا ترې کیږي،او د مخلوق څخه هم
شرمیږي،او هم ویرېږي،نو دا که هر څوک وي،همیشه به وربانديې
د الله تعالی د عذابونو وسایل لکه،طوفانونه،زلزلې،اورلړیدنه،سخت
سیلابونه،د مختلفو امراضو وباګانې،او نظامي عذابونه یو په بل

پسي راروان وي،ځومره د افسوز خبره ده چې خلک دې ته طبيعې افتونه وايې،ليکن حقيقت دا دی،چې طبعت هم د الله تعالی مخلوق دی،او د الله تعالی د حکم تابع دی،دا ټول الهې عذابونه دي،چې د هغه جل جلاله د پلان او حکم مطابق راځې،دا چې خلک يې په ځان نه راوړي دا نو بيله خبره ده،بس خپلو ځانونو ته دوکه ورکول دي.

) أَوۡ يا تَحُلُّ راځې(دا عذابونه) قَرِيبٗا نيزدې مِّن د دَارِهِمۡ دوی کورونو ته(يعنې،الهې عذابونه لکه زلزلې،سيلابونه ،اور لړيدنه او وباګاني د دوی په ګاونډيو کورونو راځې،يا په ګاونډيو کليو،يا ګاونډيو ښارونو،او يا په ګاونډيو ملکونو راځې،خو که دوی عبرت وانخلې،او الله تعالی ته رجوع ونکړې،نو دوی هم د الله تعالی د عذاب څخه نه بچ کيږي،او دا د مصيبتونو لړی :کله په دوی او کله يې په ګاونډيانو باندې،به تر هغې روانه وي!) حَتَّىٰ تر څوچې يَأۡتِيَ راشي وَعۡدُ وعده ٱللَّهِۚ د الله تعالی إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالی لَا يُخۡلِفُ خلاف نکوي ٱلۡمِيعَادَ د وعدې(خپلې، چې کافران به سزا وينې،مؤمنان به کامياب شي – دا وعده که په دنيا کې وي او که په آخرت کې،خو حتمي ده.) (31)

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ (32)

وَ او لَقَدِ بيشکه ٱسۡتُهۡزِئَ ملندې وهل شوي دي بِرُسُلٖ په رسولانو باندې مِّن د قَبۡلِكَ ستا نه مخکې فَأَمۡلَيۡتُ خو ما مهلت ورکړو لِلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کافران وو(يعنې هغوی چې د پيغمبرانو څخه انکار کړی وو،او مسخرې يې ورپوري کړي وي،ما سمدستي عذاب ورنکړو،بلکې د توبې او

رجوع کولو دپاره مې مهلت ورکړو،خو کله یې چې مهلت پوره شو،او توبه یې ونه ویسته،نو) ثُمَّ بیا أَخَذۡتُهُمۡۖ ما هغوی ونیول(او عذاب مې ورکړ،) فَكَيۡفَ نو څنګه كَانَ وو عِقَابِ عذاب زما (لکه د نوح علیه السلام قوم د اوبو په طوفان هلاک شو،عادیان د باد په طوفان هلاک شول،فرعونیان په اوبو کې غرق شول..........) (32)

أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلۡ سَمُّوهُمۡۚ أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكۡرُهُمۡ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ (33)

أَفَمَنۡ نو آیا هغه څوک چې: هُوَ هغه«جل جلاله» قَآئِمٌ نګران دی عَلَىٰ د كُلِّ هر نَفۡسِۭ شخص (د هر انسان) بِمَا په هغه(اعمالو) باندې كَسَبَتۡۗ چې هغه یې کوي وَ خو جَعَلُواْ دوی ټاکلي دي لِلَّهِ الله تعالی ته شُرَكَآءَ شریکان(الله تعالی هر وخت د هر شخص سره دی،او د هر شخص په هر حرکت او هر عمل یې نظر دی،خو مشرکانو د داسې بصیر،خبیر او « علی كُلِّ شيءٍ قَدیرٌ ذات په مقابل کې داسې ړانده او کاڼه معبودان نیولي دي،چې د خپل ځان څخه هم خبر نه دي،نه ځان ته خیر او شر رسولی شي،او نه بل ته.ای محمد«صلی الله علیه وسلم» مشرکانو ته!) قُلۡ ووایه سَمُّوهُمۡۚ نومونه یې واخلی(یعنې تاسو چې د الله تعالی په مقابل کې کوم معبودان ټاکلي

دي،دا څوک دي،نومونه يې واخلی،که خدايان وي،څه قدرت لرې؟آيا څه شی يې پيدا کړئ دی؟آيا په څه پوهيږي؟) أَمۡ آيا دا تُنَبِّـُٔونَهُۥ تاسو هغه«جل جلاله» ته خبر ورکوئ بِمَا د هغه څه لَا يَعۡلَمُ چې هغه «جل جلاله» يې نه پيژني فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې(ايا تاسو الله تعالی ته داسې څه ښايئ چې هغه«جل جلاله»يې نه پيژني؟يعنې کوم شی چې د الله تعالی په علم کې نشته،هغه اصلاً وجود نلري،دا په دې معنی چې د الله تعالی سره هيڅ شريک نشته) أَم يا دا چې بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ دا يوازې ظاهري خبرې دي(يعنې تشې،بې معنا، او بې ثبوته د ژبې د سر خبرې دي،چې د زړه،عقل او دليل خبرې پکې نشته) بَلۡ بلکې (حقيقت دا دی چې:) زُيِّنَ ښايسته شوي دي لِلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کافران دي مَكۡرُ فريب هُمۡ د هغوی(يعنې دوی ته خپل غلط کارونه،مکرونه او چلونه ښه ښکاري،نو حق نه مني،خپل ځانونه ورته په حقه ښکاري،او نور هم ګمراه کوي) وَصُدُّواْ او(د دې شرک او مکرو فريب په سبب) دوی منع شو(بند شو) عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ د حق لارې نه(ځکه څوک چې پخپله د شرک او کفر لار غوره کړي،نو الله تعالی ورته هدايت نکوي) وَ او مَن څوک چې يُضۡلِلِ ګمراه کړي ٱللَّهُ الله تعالی(ټوله ترجمه:او هر څوک چې الله تعالی يې ګمراه کړي.يعنې د چا د کفر او شرک په سبب چې الله تعالی د چا په زړه مهر و وهي) فَمَا نو نشته لَهُۥ هغه ته مِنۡ د هَادٖ هدايت کوونکې(څخه څوک)«ټوله ترجمه:نو هغه ته هيڅ هدايت کوونکی نشته»چې سمه لار ورته وښايې. (33)

لَّهُمۡ عَذَابٌ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ (34)

کوم کافران او مشرکان چې مخکې ذکر شو:

لَّهُمۡ دوی ته عَذَابٌ عذاب دی فِي ٱلۡحَيَوٰةِ په ژوند کې ٱلدُّنۡيَاۖ د دنیا «د دوی دپاره د دنیا په ژوند کې عذاب شته»(لکه د سیلابونو،زلزلو،طوفانونو،مرضونو،وباګانو،جنګونو.....شکل عذاب ورکول،ځکه دا ټول د الله تعالی مخلوق او د الله تعالی د عذاب ورکولو وسایل دي،او هر طوفان،هر سیلاب او هره وبا صرف د الله تعالی په حکم او د هغه«جل جلاله»د پلان مطابق راځې.) وَ خو لَعَذَابُ یقیناً عذاب ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت أَشَقُّۖ ډېر سخت دی(د دنیا د عذاب څخه،ځکه چې د دنیا عذاب خو موقتي او لنډ مهاله دی،لیکن د آخرت عذاب تل پاتې او همیشه وي.) وَمَا او نشته لَهُم دوی ته مِّنَ د ٱللَّهِ الله تعالی(د عذاب څخه) مِن وَاقٖ ثوک بچ کوونکی. (34)

۞مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ أُكُلُهَا دَآئِمٞ وَظِلُّهَاۚ تِلۡكَ عُقۡبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْۚ وَّعُقۡبَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ (35)

۞مَّثَلُ شان (صفت) ٱلۡجَنَّةِ د جنت ٱلَّتِي کوم چې وُعِدَ وعده شوی دی ٱلۡمُتَّقُونَۖ پرهیزګارانو ته (داسې دی چې:) تَجۡرِي بهیږي مِن تَحۡتِهَا د هغې لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ ویالې أُكُلُهَا میوې یې دَآئِمٞ همیشه دي وَظِلُّهَاۚ او سیورې

يې(هم هميشه دي) تِلۡكَ دا (جنت) عُقۡبَى انجام (او د
رجوع ځای دی،د) ٱلَّذِينَ هغو (خلکو) ٱتَّقَوا۟ۖ چې د الله
تعالی څخه ويريږي وَّ او عُقۡبَى انجام(او د رجوع ځای)
ٱلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو ٱلنَّارُ اور دی (35)

روانه ترجمه

«د هغه جنت مثال(شان) چې پرهيزګارانو ته يې وعده ورکول
شوي،داسې دی، چې:لاندې يې ويالې بهيږي،ميوې يې هميشه دي،او
سيورې يې دوامداره دي،دا جنت د متقيانو انجام دی،خو د کافرانو
انجام (د دوزخ) اور دی.»

وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَۖ وَمِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ مَن يُنكِرُ
بَعۡضَهُۥۚ قُلۡ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ إِلَيۡهِ أَدۡعُوا۟ وَإِلَيۡهِ
مَـَٔابِ (36)

وَ او ٱلَّذِينَ هغه(خلک) ءَاتَيۡنَٰهُمُ چې ورکړی مونږ
هغوی ته ٱلۡكِتَٰبَ کتاب يَفۡرَحُونَ خوشالیږي بِمَآ په
هغه څه(يعني قرآن) أُنزِلَ چې نازل شوی دی إِلَيۡكَۖ تا ته
وَ خو مِنَ ځينې د ٱلۡأَحۡزَابِ (مختلفو) ډلو نه مَن
هغه څوک دي يُنكِرُ چې انکار کوي بَعۡضَهُۥۚ د بعضي
حصو د دي(قرآن) نه قُلۡ (ورته) ووايه إِنَّمَآ بېشکه
خبره دا ده بله نه ده أُمِرۡتُ ما ته حکم شوی دی أَنۡ چې
أَعۡبُدَ زه بندګي وکړم ٱللَّهَ د الله تعالی وَ او لَآ
أُشۡرِكَ او شرک ونکړم بِهِۦٓۚ د هغه«جل جلاله» سره

إِلَيۡهِ هغه«جل جلاله» ته أَدۡعُواْ زه خلک بلم وَإِلَيۡهِ او هغه«جل جلاله» ته مَـَٔابِ زما ورګرځيدل دي (36)

ساده روانه ترجمه:

«او هغه خلک چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی(لکه يهود او نصارا چې حق لټوي،لکه عبدالله بن سلام او د هغه ملګري.....)، دوی خوشالي کوي،په هغه څه چې تا ته نازل شوی دی(يعني قرآن).

خو د مختلفو ډلو څخه ځيني خلک داسې دي،چې د قرآن ځينې برخې نه مني.

ته ورته ووايه:ما ته امر شوی دی،چې يوازې د الله تعالی بندګي او عبادت وکړم،او هيڅ شريک ورسره ونه نيسم.

زه خلک الله تعالی ته رابولم،او بيرته خاص هغه جل جلاله ته زما ورګرځيدل دي»

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ (٣٧)

وَ او كَذَٰلِكَ په همدې ډول أَنزَلۡنَٰهُ نازل کړی دی مونږ دا(قرآن) حُكۡمًا د فيصلې(قضاوت) دپاره عَرَبِيّٗاۚ په عربي ژبه وَ او لَئِنِ قسم دی که چيرته ٱتَّبَعۡتَ ته پيروي وکړې أَهۡوَآءَ د خواهشاتو هُم د دوی بَعۡدَ مَا وروسته د هغه چې جَآءَكَ راغی تا ته مِنَ ٱلۡعِلۡمِ د (وحې)

علم مَا لَكَ (نو) نه به وي ستا دپاره مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی
په مقابل کې مِن وَلِيّٖ هیڅ دوست وَ او لَا وَاقٖ نه بچ
کوونکی(چې د الله تعالی د نیولو څخه دې بچ کړي) (37)

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ او (لکه څنګه چې:پخوا نیو امتونو ته هم د فیصلو دپاره الهي قوانین د پیغمبرانو پواسطه لیږل شوي دي) په همدې ډول مونږ دا قرآن د فیصلې (او د قانون کتاب) په عربي ژبه نازل کړو(تر څو د همدې قانون په اساس د ژوند د مختلفو اړخونو فیصلې وکړی،هغه که اجتماعي وي،که سیاسي وي،که اقتصادي وي،که حقوقي وي..........او که چیرته څوک د الله تعالی د قانون په ځای د خواهشاتو او انسانانو په لاس جوړ شوي قانون باندې فیصلې کوي،نو الله تعالی خپل پیغمبر محمد«صلی الله علیه وسلم» ته فرمایي: ) وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ قسم دی،که چیرته، ته د هغوی(یعنې یهودو،نصاراوو،یا مشرکانو) د شخصي غوښتنو تابع شي(یعنې د هغوی غلط نظر ومنې،د الله قانون پریږدې،او داسې قانون جوړ کړي،چې د هغوی د خواهشاتو مطابق وي)وروسته د هغه چې علم(حق یعنې قرآن)درته راغلی دی(یعنې ښه پوهیږي،چې حق څه شی دی،نو باید چې د خلکو د خوشالولو دپاره نور حق پرې نږدې،صرف د الله تعالی رضاء په نظر کې ونیسه،خو بیا هم که د کفارو پیروي دې وکړه!نو بیا به دې) مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ (37)

د الله تعالی په مقابل کې نه څوک یار او مدد ګار وي،او نه څوک بچ کوونکی (چې د الله تعالی د عذاب څخه دې خلاص کړي،دا

خطاب خو پيغمبر ته دی،خو حکم يې ټول امت ته دی،فکر
وکړی:چې الله تعالی پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته داسې فرمايي،نو
زه او ته څوک يو،چې د الله تعالی قانون به نه منو،فيصلې به د
طاغوت په قانون کوو،او دعوه به د جنت کوو)

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ لِكُلِّ أَجَلٖ كِتَابٞ (38)

وَ او لَقَدۡ بېشکه أَرۡسَلۡنَا ليږلي دي مونږ رُسُلٗا
پيغمبران مِّن د قَبۡلِكَ ستا څخه مخکې وَ او جَعَلۡنَا
ورکړي وي مونږ لَهُمۡ هغوی ته أَزۡوَٰجٗا ميرمنې وَ او
ذُرِّيَّةٗۚ اولادونه وَ او مَا نه كَانَ وو لِرَسُولٍ
پيغمبرانو ته (اختيار) أَن چې يَأۡتِيَ راوړي بِـَٔايَةٍ يوه
معجزه(په خپله خوښه) إِلَّا مګر بِإِذۡنِ په حکم د ٱللَّهِۗ
الله تعالی(به معجزه راتله) لِكُلِّ د هر(کار) دپاره أَجَلٖ يو
ټاکلی وخت كِتَابٞ ليکل شوی (38)

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ

(ای محمد «صلی الله عليه وسلم») بېشکه مونږ د ستا څخه مخکې
هم پيغمبران ليږلي وو،او هغوی ته مو مېرمنې او اولادونه ورکړي
وو.(دا خبره هغو مشرکانو ته ده ،چې ويل يې! ولې پيغمبر عليه
السلام لکه د نورو انسانانو غوندې مېرمنې او اولادونه لري؟نو الله

تعالی فرمايې چې پخواني پيغمبران هم انسانان وو،مونږ ورته مېرمني او اولادونه ورکړي وو.)

وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ

او هيڅ پيغمبر دا اختيار نلري،چې پخپله خوښه کومه معجزه راوړي،مګر دا يوځې د الله تعالی په حکم وي.(مشرکانو غوښتل چې محمد«صلى الله عليه وسلم» دې يوه خاصه معجزه د هغوی په خوښه راوړي،لکه د غرونو روانيدل،د ځمکې نه د اوبو راوتل،يا د مړو ژوندې کيدل او خبرې کول.نو الله تعالی ورته فرمايې دا کار يوازې د الله تعالی په واک کې دی، نه د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» په خوښه.)

لِكُلِّ أَجَلٖ كِتَابٞ (38)

د هر کار دپاره يو ټاکلی وخت ليکل شوی.(يعني معجزه،سزا،فتح،قيامت،عذاب.......دا ټول مقرر او ثبت شوي وختونه لرې.دا خبره هم هغو کافرانو او مشرکانو ته ده،چې؛معجزه او يا د عذاب غوښتنه به يې کوله،او ويل به يې، چې که دا د الله تعالی رسول وي نو ولې نه معجزه راوړی شي،او نه عذاب،او په دې ډول به يې خلکو ته شکونه پيدا کول او ګمراه کول به يې، نو جواب وشو چې:ډېره عجله مه کوی،د امتحان دپاره الله تعالی مهلت درکړی،دا ستاسو خوښه نه ده،هر شی به په خپل مقرر وخت راشي،وبه يې ګوری)

يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ (39)

يَمۡحُواْ ختموي ٱللَّهُ الله تعالی مَا هغه څه چې يَشَآءُ
هغه«جل جلاله يې وغواړي وَيُثۡبِتُۖ او ساتي (هغه څه چې
هغه«جل جلاله» يې وغواړي) وَ او عِندَهُۥٓ د هغه«جل
جلاله» سره أُمُّ اصل ٱلۡكِتَٰبِ كتاب (يعنې لوح محفوظ) دی
(39)

مشركانو اعتراض كولو چې دا څنګه ممكنه ده چې:د محمد«صلی الله عليه وسلم»شريعت د پخوانيو آسماني كتابونو يعنې تورات او انجيل سره فرق لري،مثلاً په پخواني شريعت كې بيت المقدس قيبله وه،خو د محمد «صلی الله عليه وسلم» په شريعت كې كعبه قيبله شوه..........

الله تعالی ورته جواب وركړو:

دا زما واک او اختيار دی چې كوم حكم لغوه(محوه) كړم،او كوم وساتم،

يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ (يعنې الله تعالی پخواني حكمونه چې نور مناسب نه وي ليرې كوي(لغوه كوي)،خو دا د دين د بدلون معنی نلري،بلكې دا د الله تعالی د پريكړې بدلون دی،د وخت،شرايطو او قوم مطابق.

وَيُثۡبِتُۖ يعنې الله تعالی هغه حكمونه نه بدلوي چې اساسي او بنيادي وي، لكه توحيد،عدل،رحم،احسان.....مثلاً د قيبلې د سمت يا طرف حكم بدل شو خو د لمونځ (صلاة) حكم ثابت پاتې شو.

وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ (39) او د الله تعالی سره ام الکتاب (یعني لوح محفوظ دی. هر حکم که ختمیږي یا پاتي کیږي،د همدې کتاب په اساس کیږي،دا په دې معنی چې هر حکم مخکې د ازل څخه د الله تعالی په علم کې ثبت دی.

دا آیات انسانانو ته ښایي چې:

دین یو ژوندی نظام دی چې:الله تعالی یې د وخت،حالاتو او قومونو مطابق اداره کوي.څه احکام د خپل علم او حکمت د مخې لغوه کوي،او څه ساتي.خو دا ټول لغوه کول او ساتل په الهي کتاب «لوح محفوظ»کې د ازل نه ثبت دي.)

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ (40)

وَ او إِن که مَّا نُرِيَنَّكَ مونږ دروښیو تا ته بَعۡضَ ځینې ٱلَّذِي هغه څه نَعِدُ چې مونږ یې وعده ورکړې هُمۡ دوی ته أَوۡ یا نَتَوَفَّيَنَّكَ مونږ تا وفات کړو فَإِنَّمَا نو بېشکه خبره دا ده چې: عَلَيۡكَ په تا باندې(یواځې) ٱلۡبَلَٰغُ تبلیغ کول دي وَ او

عَلَيۡنَا. په مونږ باندې ٱلۡحِسَابُ حساب کول دي (۴۰)

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ

او كه مونږ تا ته يو څه د هغه عذاب ښكاره كړو چې مونږ يې د كافرانو سره وعده كړي(يعني اى محمد «صلى الله عليه وسلم» كه مونږ ستا په ژوند په كافرانو څه عذاب راولو،او ته يې وګوري)

أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ

يا(مخكې د دې چې عذاب راشي)مونږ تا وفات كړو (او د هغوى عذاب ونه ګوري)

فَإِنَّمَا نو بېشكه خبره دا ده بله نه ده چې:

عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ

په تا باندې صرف كافرانو ته پيغام رسول دي(يعني ته تبليغ وكړه،حق ورته وسپاره،نور هدايت او عذاب وركول ستا مسؤليت نه دى.)

وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ (40)

او حساب اخستل زمونږ كار دى (يعني څوک ملامت،څوک كامياب،څوک د سزا او عذاب،او څوک د هدايت مستحق دى،دا ټول كارونه د الله تعالى په واک كې دي،او ته بايد نه انديښنه وكړې،او نه قضاوت.دا مبارک آيت مونږ ته راښيي چې:مونږ بايد خلكو ته حق ورسوو،خو كه څوک يې نه مني دا زمونږ مسؤليت نه دى،الله تعالى ورسره حساب هم كوي،او قضاوت او فيصله هم الله تعالى كوي.)

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ (41)

أَ آیا وَ او لَمۡ نه یَرَوۡاْ پوهیږي دوی( او آیا دوی نه پوهیږي) أَنَّا چې:بېشکه مونږ نَأۡتِي راځو ٱلۡأَرۡضَ ځمکې ته چې نَنقُصُهَا کموو مونږ دا (ځمکه) مِنۡ د أَطۡرَافِهَاۚ اطرافو د هغې څخه وَ او ٱللَّهُ الله تعالی یَحۡكُمُ فیصله کوي،چې لَا نه شته مُعَقِّبَ هیڅ ځوک مخ نیونکی لِحُكۡمِهِۦۚ د هغه«جل جلاله» دفیصلې وَ او هُوَ هغه«جل جلاله» سَرِیعُ ډېر ژر ٱلۡحِسَابِ حساب کوونکی دی. (41)

أَوَلَمۡ یَرَوۡاْ آیا دوی نه ویني؟(آیا کافران نه پوهیږي؟چې:)

أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ مونږ ځمکه د هغې د کنارو څخه کموو؟

علماء د دې څو معناوې کوي،چې هر یوه ان شاءالله دلته تشریح کوو!

اول:-- هغه وخت ته اشاره ده چې:د مکې مشرکانو د نبي علیه السلام دعوت ونه منلو،او د د ښمنی اور یې دومره تیز شو،چې د نبي علیه السلام او مسلمانانو د منځه وړلو فیصله یې وکړه،نو دلته دوی ته اشاره ده!چې تاسو د حق دعوت قبول نکړو او ایمان مو رانوړ،لیکن د مکې څخه دباندې،شاوخوا قبایلو دې دعوت ته لبیک وویلی،ورځ په ورځ خلک ایمان راوړي،او ستاسو د کفر دایره ورځ په ورځ کمیږي دا په دې معنی چې الله تعالی د کفارو خاوره د

کنارو(سرحدونو) راکموي يعنې مسلمانان به د کفر خاوره نيسي.او دا چې څوک غالبه کيږي او څوک مغلوب کيږي،نو:

وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ دا فيصله الله تعالى کوي،چې هيڅوک يې مخه نشي نيولی.(چا ته چې وغواړي،کاميابي او فتحه ورکوي.او چا ته چې وغواړي،مغلوب،خوار او ذليل يې کړي)

دوهم:--يا په دې مبارک آيت کې اشاره، د طبيعي حوادثو پواسطه ځمکه د کنارو څخه کميدل دي.چې د ساينس د علم پواسطه د دې تشريح په دې ډول کوو!

(۱) د ځمکې د قطبي برخو د يخونو ويلې کيدل!

د ځمکې د کنارو يعنې شمالي او جنوبی قطبونو يخونه ويلې کيږي،چې له امله يې د بحرونو سطحه لوړيږي،او ځمکه د اوبو لاندې کيږي،دا يو فزيکي نقص دی چې د اطرافو يا کنارو څخه شروع کيږي،ساينسي شواهد ښيي چې شمالي قطب هر کال په ميليونونو ټنه يخ د لاسه ورکوي.

(۲) د ځمکې اطرافي برخه يا د ځمکې پوستکی يا قشر د ځمکې د داخلي حرارت او فشار د کميدلو په سبب،د ځمکې د مرکز خوا ته ټيټيږي،چې له امله يې د ځمکې حجم او قطر کميږي،دا په دې معنی،چې د ځمکې کناري يا اطراف يا قشر په تدريجي ډول کميږي،يعنې حجم يې وړوکی کيږي،البته دا ډېر زيات وخت نيسي،داسې نه ده چې مونږ په خپل ژوند کې څه تغير وګورو،کيدای شي،چې د ډېر معمولي تغير دپاره ميليونونه او بيليونونه کلونه وخت په کار وي،خو په هرصورت خبره دا ده چې ځمکه د اطرافو څخه کميږي.

(۳)د ځمکې پوستکی یا قشر چې تقریباً د (۱۵ نه ۲۰) پورې،د وړو او غټو ټیکټانیک پلیټونو دپاسه موقیغت لرې،اصلاً د ځمکې پوستکی یا قشر نه خوځیږي،بلکې پلیټونه خوځیږي،ځکه چې د پلیټونو لاندې چې کومه طبقه ده هغه د نیمه جامدو موادو څخه جوړه شوې ده،دا پلیټونه درې ډوله حرکتونه کوي.

اول:کله پلیټونه یو د بل څخه جدا کیږي،چې په دې صورت کې نوی قشر یا نوې ځمکه جوړیږي،

دوهم: پلیټونه سره جنګیږي،او درونړ پلیټ د سپک پلیټ لاندې راځې،چې له امله یې د ځمکې د قشر یا پوستکې یوه برخه د منځ څخه ځي یعنې د اطرافو څخه یې یو څه کمیږي،

دریم:کله پلیټونه یو دبل په څنګ کې ښویږي،چې له امله یې زلزلې پیدا کیږي.ډېره جالبه ده چې: د ځمکې د پوستکې یا اطرافو د زیاتیدلو او کمیدلو دواړه کارونه روان دي،یعنې هم نوې ځمکه جوړیږي،او هم جوړه ځمکه تخریبیږي،لیکن ساینسي تحقیقات وایې چې په مجموع کې د تخریبیدلو عمل زیات دی،یعنې ځمکه د اطرافو یا قشر څخه کمیږي،لکه څنګه چې قرآن عظیم الشان اشاره کړې چې: مونږ ځمکه د اطرافو څخه کموو.

وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ (41)

او الله تعالی ډېر ژر حساب اخسونکی دی.

وَقَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ (42)

وَ او قَدۡ بېشکه مَكَرَ مکرونه (تدبيرونه) کړي وو
ٱلَّذِينَ هغو (کافرانو چې:) مِن د قَبۡلِهِمۡ دوی نه مخکې وو
فَلِلَّهِ ليکن د الله تعالی په اختيار کې دي ٱلۡمَكۡرُ تدبيرونه
جَمِيعٗاۖ ټول يَعۡلَمُ هغه«جل جلاله»پوهيږي،په: مَا هغه څه
تَكۡسِبُ چې کوې يې كُلُّ هر نَفۡسٖۗ څوک وَ او
سَيَعۡلَمُ ژر به پوه شي ٱلۡكُفَّٰرُ کافران لِمَنۡ چې چا ته
عُقۡبَى دآخرت ٱلدَّارِ کور دی. (42)

[ وَ قَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ] اوبېشکه د دوی څخه مخکې کافرانو مکرونه او فريبونه کړي وو(يعني په هر زمانه کې کافرانو د پيغمبرانو د حق د دعوت د مخ نيوي دپاره ډول ډول دسيسي او سازشونه جوړ کړي وو)

[فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ] ليکن ټول تدبيرونه د الله تعالی په اختيار کې دي ( يعني الله تعالی د دوی په ټولو مکرونو او سازشونو مکمله احاطه کړي،د هغه«جل جلاله» په واک کې دي،او پرته د هغه«جل جلاله» د ارادې څخه د دوی يوه دسيسه او سازش نشي کاميابيدلی)

[يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ] هغه«جل جلاله» پوهيږي،چې هر څوک څه کوي(يعني هيڅ يو پټ کار ترې پټ نه دی،ښکاره او پټ،تير شوي،حال او راتلوونکې ټول ورته معلوم دي.)او کافرانو ته به ډېره زر معلومه شي چې د آخرت د کور کاميابي او خوشالي د چا دپاره ده. (42)

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ (۴۳)

وَ او يَقُولُ وايي ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران دي لَسۡتَ چې ته نه یې مُرۡسَلٗاۚ پیغمبر قُلۡ ته (ورته) ووایه كَفَىٰ کافي دی (بس دی) بِٱللَّهِ الله تعالی شَهِيدَۢا شاهد بَيۡنِي په منځ کې زما وَ او بَيۡنَكُمۡ او په منځ د ستاسو کې(زما او ستاسو په منځ کې) وَ او مَنۡ هغه څوک عِندَهُۥ چې: د هغه سره عِلۡمُ علم ٱلۡكِتَٰبِ د کتاب دی. (۴۳)

[وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ] او(ای محمد«صصلی الله علیه وسلم») کافران وایي چې ته (د الله تعالی) رسول نه یې

[قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ] ته ورته ووایه چې زما او ستاسو په منځ کې الله تعالی شاهد، کافي دی(الله تعالی ته معلومه ده،چې زه د هغه«جل جلاله» رسول یم.)

[وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ] (۴۳) او د چا سره چې د کتاب علم دی(هغه هم په دې شاهد دی چې: محمد«صلی الله علیه وسلم» د الله تعالی رسول دی،یعني هر شخص چې د آسماني کتابونو علم لري لکه یهود او نصارا هغه په دې پوهیږي چې محمد«صلی الله علیه وسلم» د الله تعالی رسول دی،لکه عبدالله بن سلام او د هغه ملګري رضی الله عنهم چې په تورات او انجیل کې یې د نبي علیه السلام

صفتونه او پيشګوياني ليدلي وي،کله چې نبي عليه السلام تشريف راوړلو،هغوی وپيژندلو او ايمان يې راوړو)

# سورة ابراهيم

بسم الله الرحمن الرحيم

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ
بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ (1)

**تکی په تکي ترجمه!**

الٓرۚ دا حروف مقطعات دي كِتَٰبٌ «دا يو» كتاب
دی أَنزَلۡنَٰهُ چې مونږ دا نازل کړی دی إِلَيۡكَ تا ته
لِتُخۡرِجَ د دې دپاره چې ته وباسي ٱلنَّاسَ انسانان
مِنَ د ٱلظُّلُمَٰتِ تیارو نه إِلَى طرف ته ٱلنُّورِ
د رڼا بِإِذۡنِ په حکم رَبِّهِمۡ د رب د هغوی إِلَىٰ

طرف ته صِرَٰطِ د لاري «د الله تعالى» ٱلۡعَزِيزِ
چې غالب ٱلۡحَمِيدِ (او) د ستايلو لايق دى (1)

## ترکيبي معنى !

الٓرۚ دا حروف مقطعات دي،په معنى او مطلب يې الله تعالى پوهيږي.

كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ (اى محمد«صلى الله عليه وسلم»)دا کتاب يعني قرآنكريم مونږ تاته د دې دپاره نازل کړ،چې ته انسانان،د هغوى د رب په حکم، د(کفر)د تيارو څخه د (ايمان)د رڼا خوا ته راوباسي.

إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ (1) د هغه ذات د لارې خواته چې غالب او د ستايلو وړ دى.

## نحوي او صرفي تحليل

| |
|---|
| الٓرۚ: دا حروف مقطعات دي،نحوي اعراب نلري،په مطلب او معنى يې الله تعالى پوهيږي |

كِتَٰبٌ: خبر دی،خو مبتدا يې محذوف ده،مفرد،مذكر،مرفوع،نكره اسم دی.
تقديراً: «هذا كتابٌ» دی.
معنى:دا يو كتاب دی.

أَنزَلْنَٰهُ:دا يوه فعلي جمله «جملة فعلية» ده،د كتاب توضيح يا حال دی.
أَنزَلَ: فعل ماديِ
معنى: نازل كړ
نا : ضمير متصل،فی محل رفع فاعل.
معنى: مونږ (الله تعالى).
هُ :الهاء ضمير متصل في محل نصب مفعول به.
معنى :هغه (كتاب)

إِلَيْكَ: جار و مجرور،متعلق بالفعل«انزلنا»
الى : حرف جر.
كَ : ضمير مجرور.
معنى : تا ته

لِتُخْرِجَ : دا كامله فعليه جمله ده،د آيت يوه مهمه برخه ده، د كتاب د نزول سبب بيانوي.
لِ :لام التعليل «لام د مقصد» دی.
معنى: د دي دپاره .

تُخرِجَ : فعل مضارع منصوب «د لام تعليل په سبب)
الفاعل:ضمير مستتر(پټ دی)،تقديره «أَنتَ»
معنی : چې ته وباسې.

ٱلنَّاسَ : اسم منصوب دی،مفعول به د «تُخرِجَ» دپاره.
معنی : انسانان (خلک).

مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ: جار و مجرور متعلق بالفعل «تُخرِجُ»
مِن : حرف جر.
معنی : د «له».
ٱلظُّلُمَٰتِ : اسم مجرور.
معنی : تيارو.
إِلَى ٱلنُّورِ : جار و مجرور متعلق بالفعل «تّخرِجُ»
الی : حرف جر:
ته « طرف ته»
ٱلنُّورِ : اسم مجرور.
معنی: رڼا. د«إِلَى ٱلنُّورِ» : ترکيبي معنی:د رڼا
طرف ته
بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ : جار و مجرور متعلق بالفعل «تّخرِجُ»
بِ : حرف جر.
معنی : په،سره،او باندې،خو دلته يې معنی «په» ده
إِذنِ : اسم مجرور، و هو مضاف.
معنی : حکم،اجازه.

ربِّ : مضاف اليه،و هو مضاف.
معنى : د رب
هًم : مضاف اليه.
معنى :د هغوی (د دوی)

إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ (1) جار و مجرور، او د «الى النُّور» بدل دی.
إِلَىٰ : حرف جر.
معنى: طرف ته.
صِرَٰطِ : اسم مجرور.
معنى : د الله تعالى د لارې (دلته «اللّٰهِ» مضاف اليه محذوف دی،«ابن كثير،رازي...»)
ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ : دواړه د الله تعالى صفتونه(نعتونه) دي
معنى : چې غالب،ستايل شوی.

ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ (2)

تکي په تکي ترجمه:

ٱللَّهِ الله تعالی ٱلَّذِي هغه ذات دی چې: لَهُۥ د هغه«جل جلاله» دي(د هغه ملکیت دی) مَا هغه څه،چې: فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې دي وَ او مَا هغه څه،چې: فِي ٱلۡأَرۡضِۗ په ځمکه کې دي وَ او وَيۡلٞ هلاکت دی(بربادي ده) لِّلۡكَٰفِرِينَ کافرانو ته مِنۡ د عَذَابٖ عذاب شَدِيدٍ سخت نه (کافرانو ته د ډېر سخت عذاب نه هلاکت دی) (2)

تركيبي ترجمه:

ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ الله تعالی هغه ذات دی ،چې: په آسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي.د هغه«جل جلاله» ملکیت دی،

وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ (2) او کافرانو ته هلاکت او بربادي ده،د یو ډېر سخت عذاب څخه.(څوک چې د نبي علیه السلام دعوت قبول نکړي،او د ایمان په رڼا کې داخل نشي،نو داسې کافران د الله تعالی د سخت هلاکوونکي عذاب مستحق ګرځي)

نحوي تحلیل:

ٱللَّهِ: «اسم جلالة» د اول آیت د «رَبِّهِمۡ» بدل دی.چون رَبِّهِم مجرور دی ځکه چې:مضاف الیه دی،فلهذا اللهِ هم

مجرور دی،ځکه «مبدل منه» يې مجرور دی.او
همدارنګه اللهِ په غیري مستقیم ډول د بدل د لارې د اول
آیت د «تخرجَ» د فعل سره تعلق لري.

ٱلَّذِي : اسم موصول دی،او د اللهِ دپاره نعت دی.

لَهُۥ : «لَ» حرف جر «هُ» ضمیر مجرور،جار و
مجرور ،خبر مقدم د «ما» دپاره.

مَا : اسم موصول دی، او مبتدا مؤخر ده د «لهُ» دپاره

فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ : «فِی» حرف جر، «ٱلسَّمَٰوَٰتِ» اسم
مجرور، صله ده د «مَا»

وَ: حرف عطف دی.

مَا : اسم موصول،معطوف دی په« مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ»

فِي ٱلۡأَرۡضِۗ : جار و مجرور،د دوهمي«ما» صله ده.

او دا ټول جمله « لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ» د
«الّذی» صله ده،او «الّذی» د اللهِ «نعت» دی.

دوهمه جمله:

وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ (2)

وَ : دا «وَ» استئنافية دی،ځکه چې ورپسې نوی جمله شروع کيږي.

وَيْلٌ : مبتدا

لِّلْكَٰفِرِينَ «لِ» حرف جر،الکفرين اسم مجرو،جار و مجرو،خبر د«وَيلٌ» دپاره.

مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ (2)

مِن : حرف جر.

عذابٍ : اسم مجرور.

شَدِيدٍ : نعت د عذاب دپاره.

« مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» دا يوه ناقصه جار و مجرور جمله ده،تر څو چې د بل اسم يا فعل يا جملي سره ونه نښلول شي، پوره معنی نه ورکوي،دلته د«ويلٌ» د مبتدا سره تعلق لري،او قيد يې ګڼل کيږي.

//////////////////////////////////////////////////////////////////////

نحوي تحليل:

ٱللَّهِ «اسم جلالـه» بدل دی (د مخکې ایت د ربهم چې
مضاف الیه مجرور دی،نو ځکه الله دلته مجرور دی)
ٱلَّذِي «هغه ذات دی چې:» اسم موصول،او د اللهِ
نعت دی لَهُۥ «د هغه دپاره دي» جار ومجرو،خبر
مقدم د «مَا» دپاره مَا «هغه څه چې» اسم
موصول،مبتدا مؤخر فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ «په آسمانونو کې
دي» جار ومجرور،صلة الموصول د «مَا» دپاره وَ
«او» حرف عطف مَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ «هغه څه چې په
ځمکه کې دي» اسم موصول+جار و مجرور معطوف
دی په « مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ) دا ټوله جمله د دې ځای پورې
صله ده د الّذی دپاره. وَ «او» دلته واو استئنافیې
دی،ځکه چې وروسته نوې جمله شروع کیږي وَيۡلٞ
«هلاکت دی» مبتدا لِّلۡكَٰفِرِينَ «کافرانو ته»
جارومجرور خبر د «وَيلٌ»دپاره مِنۡ « ده،یا له»
حرف جر عَذَابٖ «عذاب» اسم مجرور شَدِيدٍ
«سخت» نعت د عذاب دپاره (2) «مِن عذابٍ
شدیدٍ» دا یوه ناقصه جارومجرور جمله ده،تر څو چې د
بل اسم یا فعل یا جملې سره و نه نښلول شي،پوره معنی
نه ورکوي،دلته د «وَیلٌ» د مبتدا سره تعلق لرې،

ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ (3)

## د (۳) آیت نحوي تحليل:

| ترجمه | کلیمه | نحوي تحليل |
|---|---|---|
| هغه کسان چې: | ٱلَّذِينَ | اسم موصول،او په دوهم آیت کې د الكفرين بدل دی |
| هغوی خوښوي | يَسۡتَحِبُّونَ | فعل مضارع دی،فاعل یکې واو دی،چې الَّذين ته راجع دی |
| ژوند | ٱلۡحَيَوٰةَ | مفعول به منصوب |
| د دنیا | ٱلدُّنۡيَا | نعت دی د الحياة |
| په/مقابل کې د | عَلَى | حرف جر |
| آخرت | ٱلۡأٓخِرَةِ | اسم مجرور(ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ :دا یوه فعلي جمله ده،چې د الَّذين دپاره صلةالموصول ده. |
| او | وَ | حرف عطف |
| او منع کوي هغوی(خلک) | يَصُدُّونَ | فعل مضارع دی،په يَسۡتَحِبُّونَ باندې معطوف دی، فاعل پکې واو دی،چې الَّذين ته راجع دی، |
| د | عَن | حرف جر |
| لارې | سَبِيلِ | اسم مجرور |
| د الله تعالى نه | ٱللَّهِ | اسم الجلاله(عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ جارومجرو متعلق بالفعل) |
| او | وَ | حرف عطف |
| او دوی لټوي په هغې(لار د الله تعالى کې) | يَبۡغُونَهَا | فعل مضارع دی،معطوف على يَسۡتَحِبُّونَ،فاعل پکې واو دی،چې الَّذين ته |

| | | |
|---|---|---|
| | | راجع دی،«ها»ضمیر مفعول به دی،چې« سَبِيلِ ٱللَّهِ» ته راجع دی |
| عیبونه | عِوَجًاۚ | مفعول به دوهم(نو دا دری واړه فعلي جملي يعني« يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ» د ٱلَّذِين دپاره صلة الموصول ده. |
| دغه کسان | أُوْلَٰٓئِكَ | اسم اشاره – مبتدا |
| په | فِي | حرف جر |
| ګمراهی(کي دي) | ضَلَٰلِۭ | اسم مجرور(فِي ضَلَٰلِ:جار ومجرو) خبر د أُوْلَٰٓئِكَ دپاره،او دا یوه اسمي جمله ده |
| لرې | بَعِيدٖ | نعت دی د ضَلَٰلِ دپاره |

ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ (3)

ټکي په ټکي ترجمه:

ٱلَّذِينَ هغه خلک يَسۡتَحِبُّونَ چې دوی خوښوي ٱلۡحَيَوٰةَ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنيا عَلَى په ٱلۡأٓخِرَةِ آخرت باندې (یعې چې د دنیا ژوند د آخرت د ژوند په مقابیل کې خوښوي) وَ او يَصُدُّونَ منع کوي دوی(خلک) عَن د سَبِيلِ لارې ٱللَّهِ د الله

تعالی نه وَ او يَبۡغُونَهَا دوی لټوي په هغې(لار د الله تعالی کې) عِوَجًاۚ عيبونه أُوْلَٰٓئِكَ (نو) دغه خلک فِي په ضَلَٰلِۭ ګمراهۍ (کې دي) بَعِيدٖ لرې (3)

ترکيبي ترجمه:

په مخکې آيت کې ذکر شو چې کافرانو ته هلاکت دی«ويلٌ لِلۡكَٰفِرِينَ»اوس د دوی تشريح کيږي چې دا کافران څه قسم خلک دي.فرمايې:چې دوی:

ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ هغه خلک دي چې د دنيا ژوند د آخرت په مقابل کې خوښوي.

وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ او خلک د الله تعالی د لارې نه منع کوي.

وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ او د الله تعالی په لار کې عيبونه لټوي (نه په خپله د الله تعالی بندګي کوي،نه پخپله د الله تعالی قانون منې،نه پخپله د الله تعالی په قانون عمل کوي،او نه نور خلک د الله تعالی بندګۍ،د الله تعالی د قانون منلو،او

د الله تعالی په قانون عمل کولو ته پرېږدي،او د الله تعالی په بندګۍ،او قانون کې به قسم قِسم عیبونه لټوي،تر څو چې خلک د الله تعالی بندګۍ او د هغه«جل جلاله» د قانون منلو او عملي کولو ته تیار نشي)

أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ (3) نو دغه(خلک چې دنیا ته یې په آخرت باندې ترجع ورکړې،پخپله هم د بې دینۍ ژوند کوي،او نور خلک هم د الله دین او بندګۍ ته نه پرېږدي) په ډېرې لرې ګمراهۍ کې دي(یعنې د حق څخه ډېر لرې،د ګمراهۍ طرف ته تللي دي)

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ (4)

تکي په ټکي ترجمه:

وَ او مَآ نه دی أَرۡسَلۡنَا لیږلی مونږ مِن رَّسُولٍ هیڅ یو پیغمبر إِلَّا مګر بِلِسَانِ په ژبه قَوۡمِهِۦ د خپل قوم«مونږوحې ورلیږلې ده» لِيُبَيِّنَ د دې دپاره چې بیان کړي لَهُمۡۖ هغوی ته «زمونږ

احکام په وضاحت سره» فَيُضِلُّ پس ګمراه کوی
ٱللَّهُ الله تعالی مَن هغه څوک يَشَآءُ چې
هغه«جل جلاله» يې غواړي وَيَهۡدِي او هدايت
ورکوي مَن هر چاته يَشَآءُۚ چې هغه«جل
جلاله» يې غواړي وَ او هُوَ هغه«جل جلاله»
ٱلۡعَزِيزُ غالب ٱلۡحَكِيمُ (او) حکيم دی. (4)

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ : او
هيڅ يو پيغمبر مونږ(داسې) نه دی ليږلی (چې خلک د
هغه په خبرو پوه نشي)،مګر(هر يو ته مونږ) د هغه د
قوم په ژبه(وحې ورليږلي ده) تر څو چې هغوی
ته(زمونږ احکام په ښه توګه)واضح کړي.

فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ: پس الله تعالی
ګمرا کوي هغه څوک چې هغه«جل جلاله» يې
وغواړي،او هدايت ورکوي هغه چا ته چې هغه«جل
جلاله» يې وغواړي.

وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ (4) او هغه«جل جلاله» غالب
(او)حکيم دی.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ (5)

وَ او لَقَدۡ یقیناً أَرۡسَلۡنَا لیږلی وو مونږ
مُوسَىٰ موسی علیه السلام بِـَٔايَٰتِنَآ زمونږ د
معجزو سره (او ورته مو فرمایلي وو) أَنۡ چې
اَخۡرِجۡ وباسه قَوۡمَكَ قوم خپل مِنَ له
ٱلظُّلُمَٰتِ تیارو نه إِلَى ٱلنُّورِ رڼا ته وَ او
ذَكِّرۡ یادونه وکړه هُم دوی ته بِأَيَّىٰمِ د ورځو
ٱللَّهِۚ د الله تعالی إِنَّ بیشکه فِي ذَٰلِكَ په دې کې
لَأٓيَٰتٖ یقیناً نښې دي لِّكُلِّ دپاره د هر یو صَبَّارٖ
صبر کوونکي شَكُورٖ شکر کوونکی (۵)

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ او یقیناً مونږ موسی «علیه السلام» زمونږ د روښانه معجزو سره لیږلی وو( لکه عصا،ید بیضاء.....او ورته مو وحې وکړه)

أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ: چې خپل قوم د(جهل او ګمراهۍ د) تیارو نه د (ایمان او یقین) رڼا ته راوباسه.

وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ: او دوی ته د الله تعالی د ورځو ذکر وکړه(یعني د هغو ورځو یادونه ورته وکړه،چې الله تعالی پکې خپل نعمت یا قهر ښکاره کړی دی،لکه د عادیانو،ثمودیانو،او فرعونیانو هلاکیدل،او بني اسرآئیلو ته نجات ورکول)

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُور (٥) بېشکه چې په دې(تاریخي واقعاتو کې د الله تعالی د وحدانیت او قدرت نښې او دلایل دي) د هر صبر کوونکي او شکر کوونکي دپاره.(صبر او شکر د مؤمن دوه علامې،چې هر وخت د دې دوه حالتونو څخه په یو حالت کې وي،کله چې نعمت راشي،شکر باسي،او کله چې مصیبت او تکلیف راشي صبر کوي)

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ (6)

وَ او إِذۡ کله چې قَالَ وویل مُوسَىٰ موسی «علیه السلام» لِقَوۡمِهِ خپل قوم ته چې: ٱذۡكُرُواْ یاد کړئ نِعۡمَةَ نعمت ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې إِذۡ کله چې: أَنجَىٰكُم هغه«جل جلاله» نجات درکړو تاسو ته مِّنۡ د ءَالِ قوم(پلویانو) فِرۡعَوۡنَ د فرعون نه يَسُومُونَكُمۡ چې رسولو یې تاسو ته سُوٓءَ بدترین ٱلۡعَذَابِ عذاب وَيُذَبِّحُونَ چې حلالول به یې أَبۡنَآءَ ځامن كُمۡ ستاسو وَ او يَسۡتَحۡيُونَ ژوندی به یې پریښودلې نِسَآءَ ښځې كُمۡۚ ستاسو (د خدمت دپاره) وَ او فِي ذَٰلِكُم په دغه(کار) کې بَلَآءٞ یو امتحان وو مِّن د طرفه رَّبِّكُمۡ د رب د ستاسو عَظِيمٞ ډېر لوي (6)

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ: او یاد کړئ! کله چې موسی «علیه السلام» خپل قوم ته وویل: چې په تاسو د الله

تعالی«هغه»نعمت یاد کړئ،چې کله هغه «جل جلاله» د فرعونیانو څخه نجات درکړ.

یَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ چې هغوی یعني فرعونیانو به تاسو ته بدترین عذاب(او تکلیف) درکولو،(داسې چې) ستاسو ځامن به یې حلالول،او ستاسو ښځې(لونړه) به یې (د خدمت دپاره) ژوندی پریښودلې.

وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ (6) او په دې(کار) کې ، ستاسو د رب د طرفه،په تاسو ډېر لوی ازمیښت وو.(د صبر او ایمان)

وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ (7)

وَ او إِذۡ کله چې تَأَذَّنَ اعلان وکړ رَبُّكُمۡ رب ستاسو چې: لَئِن پرته د شک نه،که چیرې شَكَرۡ شُکر وکړی تُمۡ تاسو (زما په نعمتو،نو) لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ خامخا به یې زه زیات کړم تاسو ته وَ او لَئِن پرته د شک نه،که چیرې كَفَرۡ کفر وکړی(ناشکري وکړی) تُمۡ تاسو (زما په

نعمتونو،نو) إِنَّ ببشكه عَذَابِي عذاب زما
لَشَدِيدٌ يقيناً ډېر سخت دی. (7)

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ: او ياد كړی،كله چې ستاسو رب اعلان وكړو،چې په دې خبره كې شك نشته،كه چيرې تاسو (زما په نعمتونو)شكر وكړی،نو خامخا به يې نور هم درته زيات كړم(يعني كه بنده د الله تعالى نعمتونه لكه د علم نعمت،د مال نعمت،د ايمان نعمت...د ريا نه پاک د الله تعالى په اطاعت كې مصرف كړي،نو دا د الله تعالى وعده ده،چې نور به يې هم زيات كړي)

وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ (7): او په دې كې هم هيڅ شک نشته،كه چيرې تاسو كفر او ناشكري وكړی،نو ببشكه،يقيناً زما عذاب ډېر سخت دی.( يعني كه د الله تعالى وركړي نعمتونه مثلاً مال په غرور،قدرت په ظلم او عقل په كفر او ګمراهۍ كې مصرف كړئ،نو دا هم د الله تعالى قانون دی چې:نتيجه به يې په دنيا كې د نعمتونو زوال،او مصيبت او په آخرت كې د جهنم عذاب وي.)

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ (8)

وَ او قَالَ وویل مُوسَىٰٓ موسی «علیه السلام»
إِن که چیرې تَكۡفُرُوٓاْ کفر وکړی أَنتُمۡ تاسو
وَ او مَن څوک چې فِي په ٱلۡأَرۡضِ
ځمکه(کې دي) جَمِيعٗا ټول فَإِنَّ نو بېشکه ٱللَّهَ
الله تعالی لَغَنِيٌّ یقیناً ډېر بې پروا حَمِيدٌ (او)
ستایل شوی دی (8)

وَقَالَ مُوسَىٰٓ او موسی«علیه السلام»(خپل قوم ته)
وویل إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا که
چیرې تاسو کافران شی،او د ځمکې ټول اوسیدونکي هم
کافران شي فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ (8) نو بېشکه الله تعالی
بې پروا (او) ستایل شوی دی.(د خلکو کفر د هغه«جل
جلاله» د حمد ارزښت نه کمزوری کوي)

د دې مبارک آیت هدف: د انسانانو د دې غرور ماتول
دي،چې:اکثره خلک چې عبادت کوي،احسان یې په الله
تعالی کوي،په خاص ډول بني اسرائیل او په عام ډول په
هره زمانه کې ځینې خلک فکر کوي،چې ګنې الله تعالی

د دوی عبادت ته احتیاج دی.لیکن حقیت دا دی چې الله تعالی د مخلوق عبادت ته محتاج نه دی،عبادت د الله تعالی فضل دی،عبادت د انسان د نجات دپاره دی،په عبادت باندې غرور کول حماقت دی،کفر پخپله انسان ته ضرر رسوي.

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ (9)

تکي په تکي ترجمه:

أَ آیا لَمۡ نه دی يَأۡتِكُمۡ راغلی تاسو ته نَبَؤُاْ خبر ٱلَّذِينَ د هغو خلکو چې: مِن د قَبۡلِكُمۡ ستاسو نه مخکې وو قَوۡمِ قوم نُوحٖ د نوح «علیه السلام» وَ او عَادٖ عادیانو وَ او ثَمُودَ ثمودیانو وَ او ٱلَّذِينَ د هغو (خلکو) چې: مِنۢ د بَعۡدِهِمۡ هغوی نه وروسته وو چې لَا يَعۡلَمُهُمۡ هیڅ چاته هغوی معلوم نه دي إِلَّا پرته ٱللَّهُۚ د الله

تعالى «یعنې پرته د الله تعالی څخه بل چا ته معلوم نه
دي،او» جَآءَتۡهُمۡ راغلي وو هغوی ته رُسُلُهُم
پیغمبران د هغوی بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه معجزو سره
فَرَدُّوٓاْ خو هغوی ګرځول أَيۡدِيَهُمۡ خپل لاسونه
فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ په خپلو خولو کې(یعنې د غصي نه یې
خپلې ګوتي وچیچلې) وَ او قَالُوٓاْ ویې
ویل(رسولانو ته) إِنَّا بېشکه مونږ كَفَرۡنَا کفر
کوو(انکار کوو) بِمَآ په هغه څه باندې أُرۡسِلۡتُم
چې تاسو رالیږل شوي یاست بِهِۦ په هغه سره(یعنې
تاسو چې کوم دین راوړی،مونږ یې نه منو) وَإِنَّا او
بېشکه مونږ لَفِي شَكّٖ یقیناً په شک کې یوو مِّمَّا
د هغه(دین په اړه) تَدۡعُونَنَآ چې تاسو دعوت راکوی
مونږ ته إِلَيۡهِ هغه (دین) ته مُرِيبٖ شک
کوونکي(مُرِیب: د شک صفت دی،د ریب نه اخستل
شوی،معنی یې ده:شک،اندیښنه،بې باوري) (9)

<u>ترکیبي ترجمه:</u>

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ آیا تاسو ته د هغو خلکو(د
عبرت نه ډک) خبر نه دی رسیدلی چې ستاسو څخه
پخوا تیر شوي دي.

قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ

د نوح علیه السلام قوم،عادیان،ثمودیان،او د دوی څخه وروسته تیر شوي خلک(چې په اړه یې معلومات)پرته د الله تعالی څخه بل هیڅ چا ته نشته.

جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ: دوی (ټولو خلکو ته چې ستاسو څخه مخکې تیر شوي دي) د هغوی پیغمبران د واضحه دلایلو او معجزو سره راغلي وو.

فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ (لیکن هغوی د پغمبرانو پورې مسخرې وکړې،اعتراضونه یې ورباندې وکړل،او د غصې څخه یې) خپلې ګوتې وچیچلې.

وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ: او(رسولانو ته یې) وویل چې:پرته د شک څخه مونږ د هغه پیغام(دین) څخه انکار کوو،د کوم سره چې تاسو مونږ ته رالیږل شوي یئ.

وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ (9): او په هغه(توحیدې عقیده) هم شکمن یوو،چې تاسو ورته مونږ رابلی.

<u>پیغام:</u>

هغه څوک چې نن هم د حق،عدالت،او رښتيا غږ.
ردوي،او د حق د داعيانو خولې بندوي ،د پخوانيو هلاک
شوو قومونو د لارې پيروي کوي.او په دې کې شکه
نشته چې د هماغو په انجام به هم اخته شي.

۞قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ
يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ
قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ
يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ (10)

تکی په تکي ترجمه:

۞قَالَتۡ وويل رُسُلُهُمۡ رسولانو د هغوی أَ آيا
فِي په (هغه) ٱللَّهِ الله تعالی کې شَكّٞ شکي یاستئ
فَاطِرِ چې پیدا کوونکی ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَ
او ٱلۡأَرۡضِۖ ځمکې دی يَدۡعُو هغه«جل جلاله»
رابلي كُمۡ تاسو لِيَغۡفِرَ د دې دپاره چې بخښنه
وکړي لَكُم تاسو ته مِّن د ذُنُوبِكُمۡ ګناهونو د
ستاسو وَ او يُؤَخِّرَ او مهلت درکړي كُمۡ
تاسو ته إِلَىٰٓ تر أَجَلٖ یوې نیټې مُّسَمّٗىۚ
معلومې پورې. قَالُوٓاْ هغوی(یعنې خلکو رسولانو ته)

وویلي إِنْ نه يئ أَنتُمْ تاسو(فريښتې يا کوم خاص
مخلوق) إِلَّا مګر (تاسو خو) بَشَرٌ انسانان يئ
مِّثْلُنَا زمونږ په شان تُرِيدُونَ (او) تاسو غواړئ
أَن چې تَصُدُّونَا منع کړئ مونږ عَمَّا د هغه
څه نه كَانَ يَعْبُدُ چې عبادت يې کولو ءَابَآؤُنَا
پلرونو او نيکونو زمونږ فَأْتُونَا پس راوړئ مونږ ته
بِسُلْطَٰنٍ يو دليل(معجزه) مُّبِينٍ ښکاره. (10)

ترکيبي ترجمه:

۞قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي ٱللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ: د
هغوی پيغمبرانو ورته وويلي،آيا تاسو د هغه الله تعالی په
باره کې شک کوی،چې د آسمانونو او ځمکې پيدا
کوونکی دی؟

يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّىۚ:
هغه «جل جلاله» خو تاسو ته د دې دپاره بلنه
درکوي،چې ستاسي ګناهونه وبخښي او د يو ټاکلي وخت
پورې مهلت درکړي.

قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا هغوی(رسولانو ته)جواب ورکړ، چې تاسو (ملایکي یا کوم خاص مخلوق) نه یئ، مګر تاسو خو زمونږ په شان انسانان یئ(او انسان څنګه د الله تعالی رسول کیدلای شي؟ بس)

تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ (10) تاسو غواړی چې مونږ د هغو معبودانو د عبادت څخه منع کړئ،چې زمونږ پلرونو او نیکونو به یې عبادت کولو(خو که بیا هم تاسو وایئ چې مونږ رسولان یو)نومونږ ته داسې یو واضحه دلیل او معجزه راوړئ(چې زمونږ یقین وشي چې تاسو د الله تعالی پیغمبران یئ،دا د دوی بهانې وې،ځکه چې هر پیغمبر مخکې د مخکې څخه د کافي دلایلو او معجزو سره راغلی وو)

پیغام

(نن هم ډېر خلک د حق خبرې ځکه نه مني،چې خبرې کوونکی یا دعوت ګر یې یو معمولي انسان دی،یا ځکه چې: د دوی کورني او کلتوري رواجونه بدلوي.ځینې به وایې چې: «ثابت کړه» ،خو کله چې دلیل وړاندې شي،بیا یې د تعصب او ځان غوښتنې له امله نه مني.)

قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ
عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ (۱۱)

تکي په تکي ترجمه:

قَالَتۡ وويل لَهُمۡ هغوی ته رُسُلُهُمۡ پيغمبرانو د هغوی إِن نه يو نَّحۡنُ مونږ(فريښتې او نه کوم خاص مخلوق) إِلَّا مګر بَشَرٞ انسانان يو مِّثۡلُكُمۡ ستاسو غوندې وَ خو لَٰكِنَّ ليکن ٱللَّهَ الله تعالی يَمُنُّ احسان کوي عَلَىٰ په مَن هغه چا يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» يې وغواړي مِنۡ د عِبَادِهِۦۖ خپلو بندګانو وَ او مَا كَانَ ممکن نه ده(اختيار نشته) لَنَآ مونږ ته أَن چې نَّأۡتِيَكُم مونږ راوړو تاسو ته بِسُلۡطَٰنٍ کوم دليل(معجزه) إِلَّا مګر بِإِذۡنِ په حکم سره ٱللَّهِۚ د الله تعالی (يعنې معجزه په حکم د الله تعالی راځي) وَ او عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی فَلۡيَتَوَكَّلِ بايد توکل وکړي ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان. (۱۱)

تركيبي ترجمه:

قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ: پیغمبرانو هغوی ته وویل،په رښتیا سره چې مونږ ستاسو پشان انسانان یو،نور څه نه یو(نه فریښتې یو او نه بل کوم مخلوق یو)

وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ: لیکن الله تعالی چې کله د خپلو بندګانو څخه په هر چا وغواړي،احسان کوي(نبوت او رسالت ورکوي)

وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ: او دا زمونږ په واک کې نه ده چې تاسو ته کوم دلیل (معجزه) راوړو،معجزه خو یوازې د الله تعالی په حکم راتلای شي.

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ (١١) او مؤمنان باید(په هر کار کې)په الله تعالی توکل وکړي.(ځکه چې د کامیابۍ راز یوازې په الله تعالی باندې په رښتینې توکل کې دی،نه په مخلوقاتو باندې په تکیه کولو کې)

«اکثره خلک د حق او د حق خبرې ځکه ردوي،چې د دوی د شخصي ګټو او رواجونو سره ټکر لرې.او دا آيت مونږ ته خبرداري راکوي،چې خارق العاده کارونه د انسان په لاس کې نه دي،که نبي وي يا ولي،هر ډول معجزه او کرامت يوازې د الله تعالی په اراده او حکم تر سره کيږي.»

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ (12)

ټکي په ټکي ترجمه:

او پيغمبرانو عليهم السلام به خلکو ته فرمايل:

وَ او مَا څه (يعني څه عذر دی) لَنَآ مونږ ته أَلَّا نَتَوَكَّلَ چې مونږ توکل ونکړو عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی وَ حال دا چې قَدۡ په رښتيا سره هَدَىٰنَا هغه «جل جلاله» ښودلي دي مونږ ته سُبُلَنَاۚ لارې زمونږ(د کاميابۍ) وَ او لَنَصۡبِرَنَّ مونږ به خامخا صبر کوو عَلَىٰ په مَآ هغه څه ءَاذَيۡتُمُونَاۚ چې تاسو تکليف راکوئ مونږ ته وَ او

عَلَى پـه ٱللَّهِ الله تعالى فَلۡيَتَوَكَّلِ بايد توكل وكړي
ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ توكل كوونكي (12)

تركيبي ترجمه:

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ: ( پيغمبرانو عليهم السلام به خلكو ته فرمايل:) او مونږ څه عذر لرو چې په الله تعالى باندې توكل ونه كړو (يعني هيڅ عذر نلرو)،په داسې حال كي چې «هغه جل جلاله»(د خپل تقرب او زمونږ د كاميابۍ ټولي)لارې او طريقي مونږ ته ښودلي دي.

وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ او مونږ به خامخا په هغو تكليفونو صبر كوو چې تاسو يې مونږ ته رسوی.

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ (12)او په الله تعالى باندې بايد توكل كوونكي توكل وكړي.

«نن هم كه څوک د حق دپاره كار كوي،بايد د خلكو د نيوكو،تمسخر او دښمنۍ په وړاندې زړورتيا او صبر ولري،او خپل باور يوازې په الله تعالى تكيه كړي،نه په انساني ملاتړ.»

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ (13)

وَقَالَ ٱلَّذِينَ او هغو خلکو وويل كَفَرُواْ چې کافران وو لِرُسُلِهِمۡ خپلو پيغمبرانو ته(چې يا خو به) لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ مونږ خامخا تاسو د خپلې ځمکې نه وباسو أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ او يا خوبه خامخا بيرته زمونږ دين ته راګرځئ(بايد واضح شي،چې د بيرته راګرځيدو مطلب دا نه دی چې ګنې پيغمبران مخکې د دوی په غلط دين وو،بلکې د وحې د نزول څخه مخکې پيغمبران نه د هغوی غلط دين تعقيبولو،او نه يې هغوې ته څه ويلي،چپ وو،نو کافرانو د دوی د چپتيا څخه فکر کولو چې ګنې دوی د کافرانو په دين دي،نو ځکه يې ورته وويل چې بيرته زمونږ دين ته راشئ.نو کله چې کافرانو پيغمبرانو ته دا اخطار ورکړو،چې يا به د خپل ملک نه وځئ،او يا به زمونږ دين ته بيرته راګرځئ.) فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ نو هغوی يعنې پيغمبرانو ته خپل رب وحې وکړه لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ چې مونږ به خامخا ظالمان هلاک کړو(يعنې تاسو مه

وارخطا کيږی،د کافرانو ګواښونه بي ځايه دي،ځکه وروستنۍ پريکړه ستاسو د رب په لاس کې ده،او ستاسو د رب نصرت حتمي دی.) (13)\

«اوس هم د حق داعيانو ته همدا قسم اخطارونه ورکول کيږي،ليکن دا د الله تعالی وعده ده چې ورستۍ فتح د حق د داعي ده،او د حق دښمنانو ته ناکامي او هلاکت دی.»

تکی په تکي ترجمه:

وَ او قَالَ وويل ٱلَّذِينَ هغو خلکو كَفَرُواْ چې کافران وو لِرُسُلِهِمۡ خپلو رسولانو ته لَنُخۡرِجَنَّكُم خامخا به مونږ وباسو تاسو مِّنۡ د أَرۡضِنَآ خپلي ځمکې نه(د خپل ملک نه) أَوۡ يا لَتَعُودُنَّ خامخا به بيرته راګرځئ فِي مِلَّتِنَاۖ زمونږ دين ته فَأَوۡحَىٰٓ نو وحې وکړه إِلَيۡهِمۡ هغوی ته(يعني پيغمبرانو ته) رَبُّهُمۡ رب خپل لَنُهۡلِكَنَّ خامخا به مونږ هلاک کړو ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمان. (13)

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ (14)

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ او مونږ به خامخا تاسو په ځمکه کې اباد کړو مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ وروسته د هغوی نه(یعنې کافران به هلاک کړو او د هغوی د هلاکت نه وروسته به تاسو په په ځمکه کې اباد کړو،خو!) ذَٰلِكَ دا وعده لِمَنۡ د هغه چا لپاره ده خَافَ مَقَامِي چې زما په مخکې د ودریدلو نه ویریږي(یعنې چې دا ویره ورسره وي چې یوه ورځ به د الله تعالی په مخکې د حساب د ورکولو دپاره ودریږم) وَخَافَ وَعِيدِ او زما د (عذاب) د وعدې نه ویریږي(یعنې دا وعده صرف د مؤمنانو دپاره ده،چې:د الله تعالی په حضور کې،په ودریدلو،حساب ورکولو،او جزا او سزا ورکولو یې باور وي،ویریږي،او تیاری ورته نیسي.نه د هغه چا لپاره چې نوم یې د مسلمان وي، او اعمال یې د کافرانو ښخه هم بدتر وي.) (14)

لفظي ترجمه:

وَ او لَنُسۡكِنَنَّكُمُ مونږ به خامخا اباد کړو تاسو
ٱلۡأَرۡضَ په ځمکه کې مِنۢ د بَعۡدِهِمۡۚ هغوی نه
وروسته(یعنې د کافرانو د هلاکت نه وروسته) ذَٰلِكَ
دا (یعنې دا وعده) لِمَنۡ د هغه چا لپاره ده خَافَ
چې ویریږي هغه مَقَامِي زما مخکې د ودریدلو نه
وَ او خَافَ ویریږي هغه وَعِيدِ زما د وعدې
نه(یعنې زما د عذاب د وعدې نه ویریږي) (14)

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ (15)

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ (16) يَتَجَرَّعُهُۥ
وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍۖ
وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٌ (17)

ترکیبي ترجمه:

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ او هغوی د فیصلې غوښتنه وکړه(یعنې کله
چې پخوانیو قومونو د پیغمبرانو دعوت په مطلق ډول رد
کړو،نو پیغمبرانو د الله تعالی څخه د نصرت غوښتنه

وکړه،او کافرانو په دې خاطر چې په عذاب یې یقین نه
وو،نو د استهزا او ریشخند په ډول یې د فیصلې غوښتنه
وکړه،داسې چې:که مونږ په حقه نه یوو،نو په مونږ
عذاب راوله) وَ او(کله چې د الله تعالی د عذاب
فیصله وشوه،نو) خَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ نو هر
سرکش،ظالم ضدې ناکام(او هلاک) شول.( مثلاً د نوح
علیه السلام قوم د اوبو په طوفان هلاک شول،عادیان په
سخت باد،ثمودیان،د شعیب علیه السلام قوم او فرعونیان
ټول الله تعالی په مختلفو عذابونو هلاک کړل،لیکن
یوازې په دې عذابونو خو خلاص نشو،بلکې !) (15)

مِّن وَرَآئِهِۦ وروسته د دې (دنیایې عذاب نه،په آخرت
کې هم دوی ته په) جَهَنَّمُ جهنم (کې عذاب ورکول
کیږي) وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ (چې په جهنم کې به) د
دوزخیانو د زخمونو د وینو او زووو اوبه ور څکول
کیږي (16) يَتَجَرَّعُهُۥ چې په زوره به یې ګوټ ګوټ
څکې(ځکه چې ډېرې بد بویه او مردارې به وي،زړه به
یې نه منې، خو د دوزخیانو تنده دومره ډېره زیا ته وي،
چې بیا یې هم په زوره زوره څکې وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ
خو په اسانه یې د ستونې څخه نه تیریږي وَيَأْتِيهِ
ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ او مرګ به ورته د هر طرف نه

راځيې وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ خو هغه به نه مړ کيږي (يعني هر عذاب به داسې سخت وي،چې:سړی وژني،د ځنکدن نه پرې ډيره سختې تيريږي،خو مړ کيږي به نه،بيا هم داسې نه ده خبره په دې هم نه ختميږي،بلکې !) وَمِن وَرَآئِهِۦ د دې پسې به عَذَابٌ غَلِيظٌ يو بل سخت عذاب وی(يعني عذاب سپکيږي نه،بلکې هر نوی راتلونکی عذاب به د مخکيني عذاب نه سخت وي) (17)

پيغام:

« د حق غوښتل او د ظالم په وړاندې ودريدل د ايمان نښه ده.

ظلم،تکبر او د الله تعالی د حکمونو مخالفت،که د دنيا هرڅه هم ولرې،نتيجه يې ناکامي او د آخرت تباهي ده.

په هر کار کې بايد د آخرت حساب او کتاب په ذهن کې وي،ځکه هلته نه زور چليږي،نه مال او نه واسطه.»

لفظي ترجمه

وَ او ٱسۡتَفۡتَحُواْ هغوی د فيصلې غوښتنه وکړه

وَ او خَابَ نامراده(ناکام) شو كُلُّ هر جَبَّارٍ سرکش(ظالم) عَنِيدٍ ضدې (15)

مِّن د وَرَآئِهِۦ دې پسې(يعنې پس د مرګه،په آخرت
کې ورته) جَهَنَّمُ جهنم دى وَسُقَىٰ چې ورڅښل
کيږي به مِن د مَّآءٍ اوبو صَدِيدٍ د وينو او
زوو نه (16) يَتَجَرَّعُهُۥ چې په زوره به ګوټ ګوټ
څکى وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ خو په آسانه به يې نه تيريږي
وَيَأۡتِيهِ او راځې به ورته ٱلۡمَوۡتُ مرګ مِن د
كُلِّ هر مَكَانٍ ځاى نه وَ خو مَا هُوَ هغه
به نه بِمَيِّتٍۖ مړ کيږي وَمِن او د وَرَآئِهِۦ دې
پسې(يعنې د دې عذاب نه مخکې بل) عَذَابٌ يو
عذاب غَلِيظٌ ډېر سخت دى (يعنې هر وروستنى
عذاب به د مخکيني عذاب څخه سخت وي) (17)

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ لَّا يَقۡدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ (18)

لفظي ترجمه:

مَّثَلُ مثال ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْ چې کفر يې کړى دي
بِرَبِّهِمۡۖ په خپل رب باندې (داسې دى) أَعۡمَٰلُهُمۡ چې اعمال د
دوى كَرَمَادٍ لکه د (هغې) ايرې دى ٱشۡتَدَّتۡ چې په شدت
سره راوالوزي بِهِ په هغې(ايرې باندې) ٱلرِّيحُ باد فِي
په يَوۡمٍ يوه ورځ عَاصِفٖۖ طوفاني کې(نو د قيامت په ورځ)

لَّا يَقۡدِرُونَ دوی به نشي موندلای مِمَّا د هغو(اعمالو نه)
كَسَبُواْ چې دوی کړي وي عَلَىٰ شَيۡءٖۚ هيڅ شی ذَٰلِكَ دا (چې
ذکر شو) هُوَ همدا ٱلضَّلَٰلُ ګمراهي ده ٱلۡبَعِيدُ د حق نه
ډېره لرې (18)

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ مثال د هغو خلکو چې: كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ پخپل رب
باندې يې کفر کړی(يعنې ايمان يې نه دی راوړی،نو د دوی مثال
داسې دی،چې) أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ د دوی اعمال د (هغې) ايرې
پشان دي ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ چې په يوه طوفاني
ورځ کې ،ورباندې سخت باد راشي(او ټوله ويسي،هيڅ پاتې
نشي،همدارنګه د کفارو اعمال هم دي،هر څومره خيراتونه،او
بشري خدمتونه يې چې کړي وي،خو چې ايمان نه وي،هيڅ عمل يې
قبول نه دی،د قيامت په ورځ کله چې حساب ورکوي !) لَّا يَقۡدِرُونَ
مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ هيڅ شی به د هغو اعمالو څخه نشي
موندلای چې دوی په دنيا کې کړي وي(يعنې څومره خيريه کارونه
يې چې په دنيا کې کړي وي،خو چې ايمان يې نه وي راوړی،يو
عمل يې هم قبول نه دی،او نه يې د حساب په وخت کې په
کارېږي)

ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ (18) دا (کار يعنې بې ايمانه اعمال چې دوی
کوي،همدا (د حق نه ډېره) لرې ګمراهي ده.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ
بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ (19) وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ (20)

أَ آيا لَمۡ نه تَرَ ګورې(اې انسانه آيا ته نه ګورې) أَنَّ چې
پرته د شک څخه ٱللَّهَ الله تعالى خَلَقَ پيدا کړي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
آسمانونه وَ او ٱلۡأَرۡضَ ځمکه بِٱلۡحَقِّۚ په حق سره إِن
که يَشَأۡ هغه«جل جلاله» وغواړي يُذۡهِبۡكُمۡ تاسو به د منځه
يوسي وَ او يَأۡتِ را به ولي بِخَلۡقٖ يو مخلوق جَدِيدٖ
نوى (19) وَ او مَا نه دى ذَٰلِكَ دا (کار) عَلَى ٱللَّهِ الله
تعالى ته بِعَزِيزٖ سخت (20)

أَلَمۡ تَرَ (اې انسانه) آيا ته نه پوهيږي(بلکې پوهيږي) أَنَّ ٱللَّهَ
چې پرته د شک څخه الله تعالى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ
آسمانونه او ځمکه په حق سره پيدا کړي دي إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ او
که چيرته هغه«جل جلاله» وغواړي،تاسو ټول به د منځه ويسې
وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ او پر ځاى به مو نويې خلک راولي. (19) وَمَا
ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ او دا (کار يعنې ستاسو د منځه وړل،او په
ځاى مو د نوو خلکو راوستل) الله تعالى ته کوم سخت کار نه دى.
(20)

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعًا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا مِنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ قَالُواْ لَوۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيۡنَٰكُمۡۖ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٖ (21)

تکي په ټکي ترجمه:

وَ او بَرَزُواْ حاضر به شي لِلَّهِ الله تعالی ته جَمِيعًا ټول (مخلوق) فَقَالَ نو وبه وايي ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ کمزوري خلک (پيروان) لِلَّذِينَ هغو خلکو ته ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ چې کبرجن وو إِنَّا چې بېشکه مونږ كُنَّا پرته د شک څخه وو مونږ لَكُمۡ د ستاسو تَبَعًا تابع (پيروان) فَهَلۡ نو آيا أَنتُم تاسو مُّغۡنُونَ لرې کولای شئ( دفع کولای شئ) عَنَّا زمونږ نه مِنۡ د عَذَابِ عذاب ٱللَّهِ د الله تعالی نه مِن کوم شَيۡءٖۚ يو شي قَالُواْ هغوی به ووايي لَوۡ که چيرې هَدَىٰنَا لار ښودلي وه مونږ ته ٱللَّهُ الله تعالی لَهَدَيۡنَٰكُمۡۖ نو مونږ به هم تاسو ته لار ښودلي وه سَوَآءٌ يو شان ده (يو برابر ده) عَلَيۡنَآ مونږ ته أَجَزِعۡنَآ که مونږ بي صبري وکړو أَمۡ يا صَبَرۡنَا

مونږ صبر وکړو مَا لَنَا مونږ ته مِن
هيڅ مَّحِيصٍ د خلاصون لار (21)

تركيبي ترجمه:

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا او ټول (مخلوق) به الله تعالى ته حاضر شي (دا د قيامت د ورځې يو منظر دی.انسانان د قبرو څخه راجګيږي،د حشر ميدان ته ځي،د الله تعالى په حضور کې د حساب دپاره حاضريږي،کله چې حقيقت ورته معلوم شي،او د الله تعالى عدالت او انصاف،د حشر د ميدان ګرمې او عذاب،د جنت ښايست،او د جهنم ويرونکې اوازونه،او د بيلډينګونو په شان سپرغۍ وګوري)

فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ نو کمزورې خلک يا پيروان به هغو خلکو ته وايي چې کبرجن وو(يعنې ټول عوام چې په پټو سترګو يې د هغو مشرانو پيروي کوله ،چې د تکبر او غرور نه يې په ځمکه کې د الله تعالى قانون،د عزت،شهرت،دولت او قدرت د حاصلولو دپاره نه منلو،او د الله تعالى ورکول شوی عقل او استعداد يې د دې دپاره استعمالولو،چې د هغه«جل جلاله» د قانون په خلاف د خپلي خيټې قانون جوړ کړي، د هغه په بندګانو

يې نافذ کړي،او خپله مشري،سرداري اوليډري په خلکو ومنې،نو د دې مشرانو،او ليډرانو نه به عوام راتاو وي،او ورته به وايې چې: إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعًا چې بېشکه مونږ ستاسو پيروان وو ( يعنې د نوح عليه السلام قوم به د خپلو مشرانو نه راتاو وي،عاديانو او ثموديانو به خپل مشران راګير کړي وي،يهوديان او نصارا به د خپلو پيرانو او پاپانو څخه تاو وي،د مکې مشرکان به د ابو جهل او د هغه غوندې نورو مشرانو نه تاو وي،د محمد«صلى الله عليه وسلم» امتيانو به خپل مشران په منځ کې راګير کړي وي چې: مونږ خو په دنيا کې ستاسو هره خبره په پټو سترګو منله،مونږ خو تاسو خپل مشران او ليډران منلي وئ،مونږ تا سو ته وټونه درکول،مونږ ستاسو دپاره د مرده باد او زنده باد نارې وهلې،ستاسو بيرغونه مو ګرځول..........

فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا مِنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ نو ايا اوس تاسو زمونږ څخه د الله تعالى د عذاب څه برخه لرې کولای شئ قَالُواْ لَوۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيۡنَٰكُمۡۖ دوی به ورته ووايې که الله تعالى مونږ ته هدايت کړی وو،نو مونږ به تاسو ته هم لاره ښودلې وه (يعنې مونږ خپله هم ګمراهان وو،او تاسو مو هم ګمراهان کړی،خو اوس:)

سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ زمونږ دپاره يوشان ده أَجَزِعۡنَآ أَمۡ
صَبَرۡنَا كه بي صبري وكړو او كه صبر مَا لَنَا مِن
مَّحِيصٖ ځو زمونږ دپاره د تيښتي او خلاصيدو لار
نشته. (21)

«د قيامت په ورځ به هيڅوک ستا مرسته ونكړي،نو نن د بل چا
ړوند تقليد مه كوه،او د حق پيروي وكړه»

وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ
وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن
دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠
بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ
مِن قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ (٢٢)

تكي په تكي ترجمه:

وَ او قَالَ وبه وايي ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان لَمَّا كله
چې قُضِيَ فيصله وشي ٱلۡأَمۡرُ د كار(يعني كله
چې حساب او د جنت او دوزخ فيصله وشي،نو شيطان
به خپلو پيروانو ته وايي:) إِنَّ ببشكه ٱللَّهَ الله
تعالى وَعَدَكُمۡ وعده كړي وه ستاسو سره وَعۡدَ

ٱلۡحَقِّ رېښتيني وعده وَ او وَعَدتُّكُمۡ او ما ستاسو
سره وعده کړي وه فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ خو ما ستاسو سره
وعده خلافي وکړه وَ او مَا نه كَانَ وو لِيَ
ما ته (زما) عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّن هيڅ
سُلۡطَٰنٍ زور(طاقت) إِلَّآ مګر أَن دا چې
دَعَوۡتُكُمۡ ما تاسو ته دعوت درکړو فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ او
تاسو ومنلو لِيۖ زما (دعوت) فَلَا نو مه
تَلُومُونِي ملامتوئ ما وَ او لُومُوٓاْ ملامت کړئ
أَنفُسَكُمۖ ځانونه خپل (نو اوس) مَّآ نه أَنَاْ زه
بِمُصۡرِخِكُمۡ ستاسو مرسته کولای شم وَ او مَآ
نه أَنتُم تاسو بِمُصۡرِخِيَّ زما مرسته کولای شئ
إِنِّي پرته د شکه زه كَفَرۡتُ زه انکار کوم (زه بې
زاره يم) بِمَآ د هغه څه نه أَشۡرَكۡتُمُونِ چې تاسو
زه شريکولم (د الله سره) مِن قَبۡلُۗ د دې نه مخکې
إِنَّ بېشکه ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمان چې دي لَهُمۡ د دوی
دپاره عَذَابٌ عذاب أَلِيمٞ درد ناک دی (٢٢)

ترکيبي ترجمه او تفسير:

هر کله چې کشران او مشران يو د بل سره ښه بحث او
جګړې وکړي،نو بيا به ووايې چې زمونږ د ټولو د

ګمراه کولوسردار شيطان وو،راځی چې د هغه خوا ته ورشو،نو ورته به ووايي چې:تا ولي مونږ ګمراه کړو؟اوس مونږ د الله تعالی د عذاب څخه خلاص کړه نو! (حکمت القرآن)

وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ

کله چې: فيصله وشي،نو شيطان به ووايې:(يعني د قيامت په ورځ چې کله حساب وشي، او د جنت او دوزخ فيصلې وشي،نو شيطان به خپلو پيروانو ته ووايې:

إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ ببشکه الله تعالی ستاسو سره رښتيني وعده کړې وه (يعني تاسو سره چې الله تعالی د پيغمبرانو پواسطه کومې وعدې کړې وي،لکه د قيامت،پس د مرګ څخه بيا راژوندې کيدل،د حساب کولو،د جنت د نعمتونو او د جهنم د عذاب وعده،ټولې رښتيني وي،او ټولې الله تعالی پوره کړې،چې تاسو هر څه په سترګو وليدل.

وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ : او ما چې ستاسو سره وعده کړې وه،نو ما درسره وعده خلافې وکړه(يعني ما چې درسره کومې وعدې کړې وې چې:د مرګ نه وروسته بيا

راژوندې کيدل نشته،حساب،سزا او جزا نشته،او که وي هم نو بتان به مو سفارش وکړي.......و غيره و غيره، ټولي دروغ او ستاسو د ګمراه کولو دپاره وي.

وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ او زما خو په تاسو څه زور نه وو(چې خپله خبره مې په زوره په تاسو منلي وه،ځکه چې الله تعالی ما ته دا اختيار راکړی نه وو).

إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ پرته د دې چې ما دعوت درکړی،او تاسو زما دعوت قبول کړی دی(يعني ما په تاسو کوم زور او جبر نه دی کړی،چې په جبرې توګه مې خپله خبره په تاسو منلي ده،ما خو صرف د ګناه،د الله تعالی د نافرمانی او بې حيايۍ خوا ته دعوت درکړی او تاسو په خپله خوښه زما خبره منلي ده.)

فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ نو (اوس) ما مه ملامتوی،او خپل ځانونه ملامت کړئ (ځکه چې د الله تعالی ټول احکام ستاسو مخکې وو،او د هغه «جل جلاله» د لارې واضحه دلايل او نښې درسره وي،خو تاسو د واضحه دلايلو سره سره د الله تعالی لار پريښوده،او په خپله خوښه مو زما لار ونيوله،سره د دې چې کوم دليل هم درسره نه وو.نو ما تاسو په زوره دې

طرف ته نه يئ راوستي،پس نن زما په ځای خپل ځانونه ملامت كړئ.

مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ اوس نه زه ستا سو سره څه مرسته كولای شم ،او نه تاسو زما سره څه مرسته كولای شئ.

إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُۗ ببشكه زه انكار كوم(زه بي زاره يم) د هغه څه نه چې تاسو به د دې نه مخكې، زه د (الله تعالی سره) شريكولم.(يعني تاسو چې په دنيا كې څه كړي ،غلط مو كړي دي،تاسو بايد د الله تعالی په احكامو عمل كړی وو،او د هغه«جل جلاله» په وعدو مو باور كړی وو،خو تاسو د الله تعالی احكام شا ته واچول،اوزما خبره مو ومنله،نو نن زه ستاسو د دې عقايدو څخه د بيزاری اعلان كوم.

إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ (٢٢) ببشكه د ظالمانو دپاره درد ناک عذاب دی.

وَأُدۡخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡۖ تَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌ (23)

تکي په تکي ترجمه:

وَ او أُدْخِلَ داخل به کړل شي ٱلَّذِينَ هغه خلک
ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړی وي وَ او عَمِلُواْ
عملونه يې کړي وي ٱلصَّٰلِحَٰتِ نيک ( داخل به
کړل شي،داسې) جَنَّٰتٍ جنتونو ته تَجْرِي چې
بهيږي به مِن د تَحْتِهَا هغوی لاندې ٱلْأَنْهَٰرُ
نهرونه (ويالې) خَٰلِدِينَ هميشه به وي فِيهَا په
هغوی کې(يعنې هميشه به جنتونو کې وي) بِإِذْنِ په
حکم سره (په اجازه سره) رَبِّهِمْۖ د رب خپل
تَحِيَّتُهُمْ د دوی ستړي مشي (يعنې يو د بل سره د
مخامخ کيدلو په وخت کې هرکلی،به) فِيهَا په هغې
(جنتونو) کې سَلَٰمٌ سلام وي (23)

ترکيبي ترجمه:

وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او هغه خلک
چې ايمان يې راوړی وي او نيک اعمال يې کړي
وي،دوی به داخل کړئ شي:

جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ (داسې) جنتونو ته چې د
هغوی لاندې به نهرونه بهيږي

خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡۖ (او) دوی به د خپل رب په
حکم په هغوی کې د تل دپاره اوسیږي (او کله چې یو د
بل سره مخامخ کیږي) تَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌ د دوی
سترېي مشي يا هرکلی به هلته سلام وي (23)

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ
أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ (24) تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ
بِإِذۡنِ رَبِّهَاۗ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ
(25)

تېکي په ټکي ترجمه:

أَلَمۡ تَرَ آیا تا غور نه دی کړی كَيۡفَ چې څنګه
ضَرَبَ بیان کړی ٱللَّهُ الله تعالی مَثَلٗا مثال
كَلِمَةٗ د کلیمه طَيِّبَةٗ طیبه(لا اله الا الله محمد رسول
الله) كَشَجَرَةٖ چې پشان د یوې ونې طَيِّبَةٍ پاکي ده
أَصۡلُهَا چې ریښې یې ثَابِتٞ محکمي وي وَ او
فَرۡعُهَا خانګي یې فِي په ٱلسَّمَآءِ آسمان کې وي
(24)

تُؤۡتِيٓ ورکوي أُكُلَهَا ميوه خپله كُلَّ هر حِينِۢ
وخت بِإِذۡنِ په حکم سره رَبِّهَاۗ د رب خپل وَ
او يَضۡرِبُ بيانوي ٱللَّهُ الله تعالى ٱلۡأَمۡثَالَ
مثالونه لِلنَّاسِ خلکو ته لَعَلَّهُمۡ تر څو چې هغوی
يَتَذَكَّرُونَ نصيحت واخلي (25)

تركيبي ترجمه:

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ آيا تا غور نه
دی کړی چې الله تعالى د كليمه طيبه(كليمه د توحيد)
ځنګه مثال بيان کړی كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ أَصۡلُهَا ثَابِتٞ
كليمه طيبه(كليمه د توحيد) د داسې يوې پاکي ونې پشان
ده چې ريښې يې (په ځمکه کې داسې)کلکي وي(چې
هيڅ باد او طوفان نشي کولای ،چې د هغې ريښې د
ځمکې نه راوباسي،او چپه يې کړي)

وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ او څانګي يې په آسمان کې
وي(بايد ذکر شي چې په عامه ژبه کې د آسمان تصور د
ځمکې د سطحې څخه پورته شروع کيږي) (24)

تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۢ بِإِذۡنِ رَبِّهَاۗ (دا پاکه ونه چې ريښې
يې په(ځمکه کې) کلکې دي او څانګي يې په آسمان کې
دي،هر وخت او هر فصل کې د الله تعالى په حکم سره

میوه ورکوي(همدارنګه د لااله الا الله محمدرسو الله ونه چې د مؤمن په زړه کې راشنه شي،نو د باور او ایمان ریښې یې دومره په زړه کې ژورې لاړي شي.چې یو باطل او یو طاقت یې هم بیا د مؤمن د زړه څخه نشي راویستلای، تاریخ شاهد دی،چې مؤمنانو مرګ قبول کړی،خو نه یې د زړه نه د ایمان ریښې وتلي،او نه یې د کلیمه طیبه ونه چپه شوي ده.

همدارنګه کوم نیک اعمال چې د دې ایمان په بنسټ او اساس منځ ته راځې،هغه د دې ونې څانګې(شاخونه) دي،چې بلاخره الله تعالی ته رسیږي.

همدارنګه د لا اله الا الله د ونې میوه همیشه هم ځانته او هم د نورو خلکو دپاره وي،ځکه انسان د دوه حالتونو څخه همیشه په یو حالت کې وي،یا به په تکلیف او مصیبت کې وي،او یا به په نعمتونو کې وي،چې نوموړي ونه په دواړو حالتونو کې هر وخت میوه ورکوي،د تکلیف په وخت کې د صبر میوه،او د نعمتونو په وخت کې د شکر میوه ورکوي،او همدارنګه د اخلاقو او انسانیت میوه یې ټول خلک هر وخت خوري.

وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ (25) او الله تعالی انسانانو ته مثالونه بیانوي تر څو چې هغوی نصیحت واخلي.

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ (26)

وَ او مَثَلُ مثال كَلِمَةٍ د کلیمي خَبِيثَةٖ زیانمنې (او بي ګټي يعني د کفر د خبرې مثال !) كَشَجَرَةٍ په شان د یوې ونې خَبِيثَةٍ زیانمنې(او بي ګټي) دی ٱجۡتُثَّتۡ چې راختلي وي مِن د فَوۡقِ پاسه ٱلۡأَرۡضِ د ځمکې(یعني چې ریښې یې د ځمکې دپاسه ښکارې،او په ځمکه کې ژورې نه وي تللي،او) مَا نه وي لَهَا هغې(ونې) ته مِن هیڅ قَرَارٖ کلکوالی (26)

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ او د کفر د خبرې مثال د یوې زیانمنې او بي ګټې ونې پشان دی.کومه ونه!

ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ (26) چې د
ځمکې د پاسه راختلي وي،او بالکل محکمه نه وي(یعنې
ریښې یې د ځمکې دپاسه ښکارې، په ځمکه کې ژورې
نه وي تللي،کلک بیخ او بنیاد نلرې،او په لږ زور سره د
ځمکې څخه راوزي،همدارنګه نه تنه او څانګې لري چې
د سیورې څخه یې ګټه واخستل شي،او نه ګټوره میوه
ورکوي،برعکس که میوه یې وخوړل شي،ضرر رسوي.
همدارنګه د کفر کلیمه هم هغه که الحاد وي،که شرک،که
شکي یا اګناستیک ،دا ټولې کفرې کلیمې بې بنیاده
دي،صرف د ژبې په سر وي،ریښې یې زړه ته نه
کوزیږي،یعنې حقیقی ایمان او یقین په خپل شرک او
الحاد نلرې،یوه ورځ وایې ملحد یم، بله ورځ وایې
ایګناستیک یا شکي یم،، نه پوهیږم چې الله شته که نه،بله
ورځ وایې نیچرالیست یم،یعنې کله مشرک شي کله
ملحد.....دا په دې معنې چې د یو کمزورې دلیل په
مقابیل کې خپله عقیده بدلوي ځکه چې عقیده یې په زړه
کې بنیاد او ژورې ریښې نلري،په خپل باور او یقین
باندې شکمن دي.همدارنګه لکه څنګه چې شجرة خبیثة
څانګې یا شاخونه نلرې،او پرته د ضرر ناکي میوې
څخه ګټوره میوه هم نه ورکوي.همداسې د کفر کلیمه لکه

الحاد او شرک هم داسې خاڼکې يعنې اعمال نلرې چې د آسمان خوا ته پورته شي او الله تعالی ته ورسيږي،او نه د صبر او شکر ميوه لرې چې د مصيبت او نعمتونو په وخت کې وخوړل شي،او نه داسې اخلاق او انسانيت لرې چې شا او خوا خلکو ته فايده ورسوي،بلکې داسې اخلاق او انسانيت لرې چې هم پخپله د شخص او هم د شا او خوا خلکو دنيا او آخرت خرابوي. )

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ (27)

يُثَبِّتُ استقامت ورکوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړی بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ د کليمه توحيد او ايمان پواسطه فِي په ٱلۡحَيَوٰةِ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنيا کې وَ او فِي په ٱلۡأٓخِرَةِۖ آخرت کې وَ او يُضِلُّ ګمراه کوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلظَّٰلِمِينَۚ ظالمان وَ او يَفۡعَلُ کوي ٱللَّهُ الله تعالی مَا هغه څه يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» يې وغواړي (27)

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ الله تعالى استقامت او ثبات ورکوي ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ هغو خلکو ته چې ایمان يې راوړی وي
بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ د کلیمه توحید«لااله الا الله محمد رسول
الله» او ایمان پواسطه فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا په دنیایې
ژوند کې (د فتنو،وسوسو،او ازمیښتونو په وخت کې)
وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ او په آخرت کې (په قبر کې د سوال او
جواب په وخت کې او د قیامت په ورځ د حساب په
وخت کې ) وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ او الله تعالى ظالمان
ګمراه کوي وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ او الله تعالى هغه څه
کوي چې هغه«جل جلاله» يې غواړي(یعنې د بل چا د
حکم تابع نه دی،د ټولو کارونو اختیار صرف یوازې د
هغه«جل جلاله سره دی) (27)

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ كُفۡرٗا وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ
دَارَ ٱلۡبَوَارِ (28) جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ (29)

۞أَلَمۡ تَرَ آیا ته نه وینې إِلَى ٱلَّذِينَ هغو (مشرانو)
ته بَدَّلُواْ چې هغوی بدل کړ نِعۡمَتَ نعمت ٱللَّهِ
د الله تعالی كُفۡرٗا په کفر وَأَحَلُّواْ او داخل یې کړ
قَوۡمَهُمۡ قوم خپل دَارَ کور ٱلۡبَوَارِ د هلاکت ته
(28) (چې دا کور د هلاکت ) جَهَنَّمَ جهنم دی
يَصۡلَوۡنَهَاۖ چې دوی به په کې داخلیږي وَبِئۡسَ او
(جهنم) ډېر بد ٱلۡقَرَارُ ځای د اوسیدو دی (29)

مستقیم خطاب نبي علیه السلام ته دی،او مقصد د مکې د مشرکانو مشران دي،خو د قیامته پورې هر داعي ته خطاب او د مشرکانو او کافرانو ټولو مشران مقصد دی..

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ آیا ته نه وینې هغه(مشران) بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ كُفۡرٗا چې د الله تعالی نعمت یې په کفر بدل کړ(یعني د عزت، دولت او قدرت دپاره یې خپل عقلونه او استعدادونه د الله تعالی د قانون په ځای د طاغوت دپاره استعمال کړل،او دایمان او هدایت نعمت یې په کفر بدل کړ،یعني د شکر په ځای یې ناشکري وکړه)
وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ ٱلۡبَوَارِ او خپل خلک یې د اوسیدلو ډېر بد ځای ته داخل کړل(یعني ګمراه مشرانو هغه

کشران چې په ړندو سترګو يې د دوی پيروي کوله،دوی
يې هم د ځان سره يو ځای د تباهۍ او هلاکت کور ته
داخل کړه) (28) جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ (29) دا د
هلاکت او تباهۍ کور جهنم دی،چې دوی(يعني مشران
او کشران) به پکې داخليږي،کوم چې د اوسيدلو دپاره
ډېر بد ځای دی.

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ
مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ (30)

وَ او جَعَلُواْ هغوی جوړ کړه لِلَّهِ د الله تعالی په
مقابل کې أَندَادٗا شريکان لِّيُضِلُّواْ د دې دپاره
چې بې لارې کړي(خلک) عَن سَبِيلِهِۦۗ د هغه(جل
جلاله» د لارې نه قُلۡ (ورته) ووايه تَمَتَّعُواْ
واخلئ موقتي ګټه فَإِنَّ خو پرته د شک څخه
مَصِيرَ عاقبت كُمۡ ستاسو إِلَى ٱلنَّارِ د اور طرف
ته دی(يعني انجام ستاسو اور دی) (30)

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا: او دوی د الله تعالی په مقابل کې
شریکان جوړ کړه(د نیکانو بتان او قبرونه یې د الله سره
شریکان کړل،د الله تعالی په قانون کې یې شرک
وکړ،یعني د هغه«جل جلاله»د قانون په ځای یې خپل
قانون جوړ کړ)

لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ تر څو چې خلک د الله تعالی د
لارې څخه بې لارې کړي( دا هر څه دوی د دنیا د
عزت،دولت،شهرت او قدرت دپاره کوي) قُلۡ تَمَتَّعُواْ
(ورته) ووایه (د لږ وخت دپاره د دنیا) موقتي ګټه واخلئ
فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ خو په دې کې هیڅ شک نشته
چې ستاسو انجام اور دی(یعني د جهنم په طرف روان
یئ) (30)

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا
رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا
خِلَٰلٌ (31)

قُل ووایه(ای پیغمبر«صلی الله علیه وسلم») لِّعِبَادِيَ
زما بندګانو ته ٱلَّذِينَ کومو چې ءَامَنُواْ ایمان
راوړی يُقِيمُواْ چې قائم کړي (چې وکړي)

ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَ او يُنفِقُواْ او مصرف وکړي(د الله تعالی په لار کي) مِمَّا د هغه څه نه رَزَقۡنَٰهُمۡ چي مونږ هغوی ته رزق ورکړی سِرًّا په پټه وَ او عَلَانِيَةٗ په ښکاره مِّن قَبۡلِ مخکي د دي نه أَن چي يَأۡتِيَ راشي يَوۡمٞ هغه ورځ چي: لَّا نشته بَيۡعٞ اخستل او خرڅول فِيهِ په هغي (ورځ) کي وَ او لَا نه خِلَٰلٌ دوستي (31)

دلته خطاب نبي علیه السلام ته دی،خو په غیري مستقیم ډول حکم ټول امت ته دی.

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ (الله تعالی نبي علیه السلام ته فرمایي) زما هغو بنده ګانو ته ووایه چي

ایمان يې راوړی!

يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ چي لمونځ وکړي وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ او د هغه څه نه چي مونږ هغوی ته رزق وکړی،د الله تعالی په لار کي مصرف وکړي سِرًّا وَعَلَانِيَةٗ پټ او ښکاره مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ مخکي د دي چي هغه ورځ یعني د قیامت

راشي چې نه پکې اخستل او خرخول شته،او نه پکې
دوست(په کار راځې) (31)

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ
فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ (32) وَسَخَّرَ لَكُمُ
ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ (33)

<u>تکي په ټټټکي ترجمه:</u>

ٱللَّهُ الله تعالى ٱلَّذِي هغه ذات دى خَلَقَ چې پیدا
يې کړل ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَ او ٱلۡأَرۡضَ
ځمکه وَ او أَنزَلَ نازل يې کړي مِنَ د
ٱلسَّمَآءِ آسمان نه مَآءٗ اوبه فَأَخۡرَجَ بیا يې را
وویستلي بِهِۦ په هغي(اوبو) سره مِنَ له
ٱلثَّمَرَٰتِ میوو نه رِزۡقٗا رزق لَّكُمۡۖ تاسو ته وَ
او سَخَّرَ تابع يې کړي لَكُمُ تاسو ته ٱلۡفُلۡكَ
کشتۍ لِتَجۡرِيَ دې دپاره چې رواني شي(چې ګرځي
راګرځي) فِي ٱلۡبَحۡرِ په بحر کې(په سمندر کې)
بِأَمۡرِهِۦۖ د هغه«جل جلاله» په امر سره وَ او
سَخَّرَ تابع يې کړل لَكُمُ تاسو ته ٱلۡأَنۡهَٰرَ
نهرونه (32) وَسَخَّرَ او تابع يې کړل لَكُمُ تاسو ته

ٱلشَّمۡسَ لمر وَ او ٱلۡقَمَرَ سپوږمۍ دَآئِبَيۡنِۖ همیشه روان وَ او سَخَّرَ تابع يې کړه لَكُمُ تاسو ته ٱلَّيۡلَ شپه وَ او ٱلنَّهَارَ ورځ. (33)

ترکيبي ترجمه او تفسير:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ الله تعالى هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي( د دې مبارک آيت د حکمتونو څخه يو حکمت د هغو ملحدينو ساينسدانانو د دې سوال جواب دی،کوم چې وايي: کائنات(آسمانونه او ځمکه) د يوې واحدې کتلي(سينګولاريټي)د چاودني پواسطه منځ ته راغلي دي،خو په دي باره کې چې دا اوله کتله څنګه پيدا شوي وه،مونږ نه پوهيږو ځکه چې ساينس فعلاً د دې جواب څخه عاجز دی.ليکن قران فرمايي چې هغه اوله کتله(سينګولاريټي)الله تعالى پيدا کړي وه، چاودنه هم الله تعالى کړي وه،او په يوه کتله کې يو ځای نښتي آسمانونه او ځمکه هم الله تعالى بيل کړل.د سورة النبيا په ۳۰ ايت کې فرمايي: أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ : آيا کافران نه پوهيږي(بلکې بنه

پوهيږي) چې:آسمانونه او ځمکه سره يوځاى نښتي وو،او بيا مونږ سره بيل کړل.

اوس خو کافران دومره منې چې په اول کې کائنات يعني آسمانونه او ځمکه سره يو ځاى نښتي وو،او بيا د يوى چاودني پواسطه بيل شول،د دې منلو ته تيار دي چې دا نښتي کتله پخپله پيدا شوي وه،او پخپله پکې چاودنه وشوه،او په خپله کنټرول شوه.خو دا نه منې چې الله تعالى پيدا کړي وه،او الله تعالى سره جدا کړل،يعني د عقل،منطق او ساينس خلاف خبره منې،خو د عقل،منطق او ساينس مطابق خبره نه منې،ځکه عقل،منطق او د فزيک د ترموډيناميک اول او دوهم قانون قطعاً د يوې کتلې په خپل سر پيدا کيدل،او د چاودنې او د کائناتو په خپل سر کنټرولول او چليدل نه منې.)

وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً: او د آسمان نه يې اوبه نازلې کړې. (لکه څنګه چې په ٧ مه ميلادې پيړۍ کې خلکو فکر کولو،چې باران د وريځو د تصادفي يو ځاى کيدلو په نتيجه کې منځ ته راځي ،بلکې دي مبارک آيت دا نظر رد کړ،او د يو پلان شوي،منظم او قصدي نظام ښکارندوى دى،دا آيت ښايي چې باران د اوبو د طبيعي

دوارانې سيستم(هايدرولوجيکل سيستم) يو مرحله ده،يعنې د بحرونو او د ځمکې د سطحې اوبه د لمر د حرارت پواسطه تبخير کيږي،بادونه يې پورته وړي،بلاخره وريځې جوړيږي،او د باران په شکل بيرته ځمکې ته راځي،بايد ووايو چې د اوبو طبيعي دورانې سيستم په قرآن کې په مختلفو آيتونو کې په تفصيل سره لړ لړ ذکر شوئ دی،زه به انشاء د مختلفو آياتونو څخه مکمل دورانې سيستم راواخلم،او بيا به يې،د نوې يعنې شلمې پيړی د ساينسي تحقيقاتو سره مقايسه کړم،او بيا فيصله په تاسو چې په ۷ مه پيړی کې چې نه ساينس او ټيکنالوجې وه،نو قرآن د کوم ځای څخه هغه معلومات ذکر کړو چې د ۲۰ مې پيړی څخه يې پخوا امکان نه وو،صرف يو جواب دی چې قرآن د الله تعالی کلام دی.اوس توجه وکړئ په قرآن کې د اوبو طبيعې دورانې سيستم ته (هايدرولوجيکل سيستم) ،او د عصرې ساينس سره يې مقايسه کولو ته.

د قرآن او ساينس د اوبو طبيعي دوراني جدول

| ساينسي تشريح | ترجمه: | قرآني آيت | مرحله |
|---|---|---|---|
| ساينس وايې:د لمر د تودوخی پواسطه د | الله تعالی هغه ذات دی چې بادونه ليږي او | ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ | (۱) تبخير |

| | | | |
|---|---|---|---|
| بحرونو،سیندونو او جهیلونو اوبه بخاريږي او د بادونو پواسطه پورته کيږي،دا مرحله د اوبو د دوران شروع ده | وريځې راپورته کوي | سَحَابًا(الروم-۴۸) | |
| ساینس وايي:بخارات په لوړو طبقو کې يخيږي او په وړو څاڅکو بدليږي،چې بيا سره يو ځای کيږي،او درنده باراني وريځ جوړوي. | آيا ته نه ګورې چې الله تعالی وريځ ورو ورو خوځوي،بيا د هغې توټې سره يو ځای کوي،بيا د هغې په راغونډولو سره يوه درنده وريځ جوړوي. | أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزۡجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيۡنَهُۥ ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ رُكَامًا(النور-۴۳) | (۲) وريځ جوړيدل |
| ساینس وايي:کله چې د وريځو څاڅکي درانه شي،د ثقل يا ګراويټي په سبب ښکته | قرآن په ساده جمله کې فرمايي:الله تعالی د آسمان څخه اوبه نازلوي( ښکته کوي) | وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ (ابراهيم -۳۲): | (۳) باران |

| | | | |
|---|---|---|---|
| راځې او باران کيږي | | | |
| ساينس وايي:باران ځکې ته ورننوځي،او د ځمکې لاندې د اوبو ذخيره جوړوي،چې همدا ذخيره شوي اوبه د څکلو،سيندنو او کرنې سرچينه کيږي. | قرآن فرمايي:آيا ته نه ګورې چې الله تعالی د آسمانه اوبه نازلوي،او بيا يې د ځمکې په چينو کې ځای په ځای کوي،(يعني ذخيره کوي يې) | أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلْأَرْضِ(الزمر-٢١) | (۴) اوبه ځمکې ته ننوځي |
| ساينس وايي اوبه د نباتاتو د ريښو د لارې جذبيږي،بيا د فوټوسينتيز د عمل پواسطه نبات ميوه او دانه توليدوي،چې همدا د انسان د رزق اساسي سرچينه ده | قرآن فرمايي:الله تعالی د باران د اوبو پواسطه د ميوو نه ستاسو د رزق ذپاره راوباسي | فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ | (۵) نباتات او ميوې |

نو که د اوبو دوران یا واټر سایکل د قرآن په رڼا کې وګورو،په څو ځایونو کې بیان شوی دی،لکه چې ذکر شو، تبخیر،د وریځو جوړیدل،د باران نزول،د اوبو ذخیره کیدل او د میوو او نباتاتو را ټوکیدل،چې دا ټولي مرحلي نن د ساینس په ژبه د اوبو د طبیعي دوراني سیستم(یا هایرولوجیکل سایکل) په نوم یادیږي،قران په ۷ مه پیړۍ کې د دغو مرحلو یادونه کړي ده،په داسي حال کې چې ساینس د یوازې په ۱۷ مه پیړۍ کې په دې حقیقت پوه شو.

فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ: بیا یې راوویستلي په هغې اوبو سره،د میوو نه رزق ستاسو دپاره (اوس دا خبره چې اوبه د میوو په جوړولو او راویستلو کې څه رول لري،د ساینس د علم پواسطه تشریح کوو:اوبه د نباتاتو د ریښو د لارې جذبیږي،بیا د هغو کارخانو پواسطه چې د نباتاتو په شنو پاڼو کې دي،د لمر د انرژي په واسطه د اوبو او کاربن ډای اوکساید څخه ګلوکوز یعنې غذا جوړوي،چې نوموړي غذا پخپله پاڼه هم استعمالوي،او د نبات تنې ته یې هم لیږي،او د میوو د جوړولو دپاره یې هم لیږي،دې عمل ته د ساینس په ژبه فوتوسنتیز وایي.چې همدا د انسان د رزق اساسي سرچینه ده،ځکه انسانان مستقیماً میوې او ترکارۍ هم استعمالوي،او په غیرې مستقیم ډول یې د غوښو په شکل هم استعمالوي،ځکه حیوانات لکه پسه ،غوا وغیره هم نباتات(واښه) خوري، او انسان د هغوی غوښې خوري،دا په دې معنې چې:په حقیقت کې هماغه خواږه(ګلوکوز) چې د اوبو او کاربن ډای اوکساید څخه نباتات

جوړوي،انسانان يې په مستقيم او غيرې مستقيم ډول اخلي،نو ځکه وايو چې همدا د رزق اساسي سرچينه ده.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦۖ: او تابع کړي يې دي،تاسوته کشتۍ،د دې دپاره چې په بحر کې رواني وي(ګرځې را ګرځې ستاسو د فايدې دپاره) د هغه«جل جلاله» په امر سره ( يعنې الله تعالی داسې قوانين،او خاص مواد جوړ کړي دي،که تاسو عقل استعمال کړۍ،او دا قوانين وپيژنی،او خاص مواد د دې قوانينو مطابق يو ځای،شکل او صورت ورکړۍ،کشتۍ به جوړه شي،او ستاسو په خوښه به په بحر کې روانه وي،خو که د الله تعالی د قوانينو(فطرې قوانينو)خلاف يا کشتۍ جوړه کړی،او يا يې بار زيات کړۍ،نو کشتۍ به مو په بحر کې ډوبه شي.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ (32) او الله تعالی تاسو ته سيندونه تابع کړي دي (يعنې سيندونه کوم تصادفي شی نه دی،بلکې دا د هايدرولوجيک سايکل يا د اوبو د دوراني سيستم برخه ده،چې د باران او واورې اوبه د غرونو څخه د ثقل په سبب ځمکې ته راښکته کيږي،او د سمندرونو خوا ته ځې،انسانان ترې د

زراعت،ځکلو،بريښنا.......دپاره ګټه اخلي،خو دا ټول د الله تعالى په حکم او اجازه کيږي.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ او الله تعالى تاسو ته لمر او سپوږمۍ تابع کړي دي،چې هميشه په حرکت کې دي.(لمر د انسان د ژوند تابع دی،دومره رڼا،تودوخه او انرژي توليدوي،چې ژوند ته ضرورت وي،نه زيات نه کم.د نباتاتو پواسطه د انسانانو رزق جوړيدل د لمر د انرژۍ پواسطه کيږي.

د سپوږمۍ د جاذبي په اثر د بحرونو اوبه پورته او ښکته کيږي،دې ته مد او جذر وايې،مد او جذر د بحرونو اوبه تازه ساتي،او اوکسيجن زياتوي،د بحري ژوند دپاره ډير ضرور دی،په معاصر وخت کې د بريښنا په توليد کې هم کاريږي.

همدارنګه سپوږمۍ د وخت د حساب وسيله ده،

ډيره مهمه ده چې د لمر او سپوږمۍ دپاره د «دَآئِبَيۡنِۖ» کليمه راغلي ده، يعنې دوامداره روان دي يا دوامداره په حرکت کې دي،په داسې حال کې چې د لمر حرکت د ۱۸ مې پيړۍ ځخه مخکې سايسندانانو ته معلوم نه

وو،یعني د قران د نزول نه ۱۱۰۰ کاله وروسته ساینسي تحقیقاتو معلومه کړه چي لمر هم ګرځي،نوي تحقیقات وایي چې:«۷۲۰۰۰۰» کیلو متره په یو ساعت کې د ملکي وې کهکشان د مرکز په مدار ګرځي،چې یو پوره مدار یا اوربیټ یې تقریباً «۲۵۰» میلیونه کاله وخت نیسي.او په ۲۵ ورځو کې په خپل محور باندې یو وار ګرځي(البته په استوایي برخه کې)

همدارنګه سپوږمۍ د ځمکې په مدار تقریباً په «۲۷.۳» ورځو کې یو ځل په دوامدار ډول ګرځي

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ (33) او تابع کړي یې ده تاسو ته شپه او ورځ (یعني الله تعالی شپه او ورځ ستاسو د خدمت دپاره تابع کړي دي،شپه د استراحت او ارام دپاره،او ورځ د کار،کسب او د ژوند د فعالیتونو دپاره.خو که یوازې شپه وه یا یوازې ورځ وه یا شپه او ورځ ډېر اوږده وو،لکه په زهره او مریخ کې نو بیا به ژوند ناممکن شوئ وو،چون ورځ او شپه په خپل محور باندې د ځمکې د ځرخیدو څخه پیدا کیږي،نو الله تعالی د ځمکې د ځرخیدلو سرعت داسې ټاکلی دی چې په ۲۴ ساعتو کې یو ځل وځرخي،کوم چې د ژوند دپاره مناسب

دی،او ځمکه همیشه د الله د حکم متابعت کوي،نه خپل سرعت ،د الله تعالی د ټاکلي سرعت څخه زیاتولی شي او نه يې کمولی شي(یعنې ۱۰۰۰ مایلز په یو ساعت کې ثابت ساتي)

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ (34)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَ او ءَاتَىٰكُم درکړي يې دي تاسو ته مِّن د كُلِّ هر مَا هغه څه نه سَأَلۡتُمُوهُۚ چې تاسو ورته حاجت لرئ وَ او إِن که تَعُدُّواْ تاسو وشمیرئ نِعۡمَتَ نعمتونه ٱللَّهِ د الله تعالی لَا تُحۡصُوهَآۗ «نو» هغه به و نشئ شمیرلی إِنَّ بېشکه ٱلۡإِنسَٰنَ انسان لَظَلُومٞ ډېر ظالم كَفَّارٞ ناشکره دی. (34)

ترکیبي ترجمه او تفسیر:

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُۚ: او الله تعالی تاسو د هر هغه څه څخه درکړي چې تاسو ورته ضرورت لرئ.(مثلاً انسان:

سترګو،پوزې،غوږونو،خولې،لاسونو،پښو،عقل،هوا،اوبو،سبزیجاتو،غوښو،میوو،لمر،سپوږمي،ځمکې.........ته ضرورت لرې،او الله تعالی دا ټول نعتونه ورکړي دي)

وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ : خو که تاسو د الله تعالی د نعمتونو شمیرل وغواړی،نو هیڅکله به یې ونشئ شمیرلی. ( که انسان یوازې په خپل بدن کې د الله تعالی نعمتونه حسابول وغواړي،ناممکنه ده،ځکه چې د انسان بدن تقریباً د «۳۰» ټریلیون حجرو څخه جوړ شوی دی،

سوال:-باید پوه شو چې یو ټریلیون څومره دی،او انسان ته څومره وخت د یو ټریلیون د حسبوولو د پاره ضرور دی.؟

جواب:-یوټریلیون «۱۰۰۰» میلیارده(بیلیونه) کیږي،او یو میلیارد «۱۰۰۰» میلیونه کیږي،او یو میلیون «۱۰» لکهه کیږي.اوس راځو دې ته:که مونږ حساب داسې شروع کړو چې یو،دوه،درې.........تر یو ټریلیون

پورې،په دې ډول چې په يوه ثانيه کې مو يو عدد ويلی وي،او هيڅ وقفه مو هم نه وي کړي،خوب،خوراک او څښاک مو هم نه وي کړی،نو «۳۱۷۰۹»کاله وخت به يې نيولی وي،دا په دې معنی چې د يو ټريليون د حسابولو دپاره «۳۱۷۰۹» کلونه په کار دي«يا ضرور دي» اوس فکر وکړئ،چې د ټول بدن يعنې «۳۰» ټريليون حجرو د حسابولو دپاره څومره وخت په کار دی،معلومه خبره ده چې: ۹۵۱۲۷۰=۳۰×۳۱۷۰۹

سبحان الله: صرف يوازې د حجرو د شميرلو دپاره «۹۵۱۲۷۰» کاله يا تقريباً يو ميليون کلونه په کار دي چې حساب شي،او بيا هم خبره خو په دې نه خلاصيږي،د هرې حجرې په داخل کې هم بې حسابه شيان دي،مثلا ډي اين اې چې بيا هر ډي اين اې کې «۳.۲» ميلياردہ پرزې«بيس پيېر» يا جينټيک کوډز موجود دي،چې د ژوند ټول معلومات پکې خوندې شوی.،« وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ-الذاريات:۲۱» او ستاسو په ځانونو کې «هم د الله تعالی نښې دي» نو آيا نه يې وينی؟

همدارنګه په هر يوه حجره کې د ډي اين ای نه سربيره لسګونه ماشينونه موجود دي،لکه د انرجۍ فابريکې«مايتوکاندريا»،د پروتين جوړولو ماشينونه «رايبوزومز»،د موادو پروسس او بسته بندې «اينډوپلازميک ريټوکولم»،د کثافاتو د پاکولو سيستم «لَيزوسومز»،او په لکهاوو پروتينونه او انزايمونه هم په دوامداره توګه کار کوي.يعنې په يوه کوچنۍ حجره کې دومره پيچلی نظام ځای په ځای شوی دی،چې د انسانې عقل څخه ډېر پورته دی.

همدارنګه ځيګر د الله تعالی هغه نعمت دی،چې د «۵۰۰» څخه زياتي کارخانې پکې موجو دي،دا په دې معنی چې د «۵۰۰» څخه زياتي دندې يا وظيفي اجرا کوي،چې ذکر کول يې ناممکنه دي،خو بايد ووايم چې ځيګر يوازينۍ عضوه ده،چې که يو څوک يې نيمه برخه د لاسه ورکړي ،په څو مياشتو کې بيرته وده کوي .،« وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ-الذاريات:۲۱» او ستاسو په ځانونو کې «هم د الله تعالی نښې دي» نو آيا نه يې وينی؟« وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ : او که تاسو د الله تعالی د نعمتونو شميرل وغواړی،نو هيڅکله به يې ونشئ شميرلی».

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ ببښکه انسان ډېر ظالم،ناشکره دی (34)

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ (35) رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ وَمَنۡ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ (36) رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ

د بنه پوهیدلو دپاره یو څه معلومات ته توجه وکړئ!

کعبه شريفه د اول ځل دپاره د آدم علیه السلام په لاس د الله تعالی په حکم سره جوړه شوي وه،خو د سیلابونو پواسطه يې دیوالونه د منځه لاړل او بنیادونه (بنسټونه)يې پاتي شو(بیان القرآن)،بیا الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته د کعبي د بیا جوړولو حکم وکړو،نو ابراهیم

علیه السلام د الله تعالی په حکم خپله ښځه هاجره«رضی الله عنها» او د هغې په غیږ کې ماشوم ځوی اسمعیل علیه السلام مکې ته چیرته چې د کعبې بنیادونه وو،راوستل،په هغې زمانه کې،چیرته چې کعبه ده ،دا ځای یوه وچ وادې یا دره وه،نه پکې زراعت وو،او نه اوبه،نو کله چې ابراهیم علیه السلام ښځه او ماشوم بچی د یو څه خرماوو او اوبو سره په دې وچه دره کې پریښودل،او روان شو،نو هاجرې«رضی الله عنها»پسې درې ځله اواز وکړو،چې مونږ دې چاته دلته پریښودو،مګر ابراهیم علیه السلام هیڅ جواب نه ورکولو،خو په آخر ځل بي بي ورته وویل:چې آیا تا د الله تعالی په امر مونږ دلته پریښودو؟ابراهیم علیه السلام جواب ورکړو،هو.نو هاجرې «رضی الله عنها»ورته وویل:چې د الله تعالی حکم دی،بیا خو څه لاړ شه،الله تعالی به مونږ نه ضایع کوي،نو ابراهیم علیه السلام چې لږ وړاندې لاړو نو مخ یې کعبې ته راواړلو،او دعا یې وکړه:

وَإِذۡ او یاد کړه کله چې قَالَ وویل إِبۡرَٰهِيمُ
ابراهیم علیه السلام رَبِّ ای زما ربه ٱجۡعَلۡ
وګرځوه هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ دا وادي (یعنې د مکې ښار)
ءَامِنٗا خوندي(د امن ځای) وَٱجۡنُبۡنِي او وساته ما
وَبَنِيَّ او زما اولادونه (د دې نه) أَن چې: نَّعۡبُدَ
ٱلۡأَصۡنَامَ مونږ د بتانو عبادت وکړو. (35) رَبِّ ای
زما ربه إِنَّهُنَّ بېشکه دې (بتانو یعنې بت پرستی)
أَضۡلَلۡنَ ګمراه کړي كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِۖ ډېر د انسانانو
څخه فَمَن تَبِعَنِي نو چا چې زما پیروي وکړه(یعنې د
بتانو عبادت پرېږدي) فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ پس بېشکه هغه زما
د ډلې څخه دی وَمَنۡ عَصَانِي او چا چې زما
نافرماني وکړه(یعنې د بتانو عبادت پرې نږدي) فَإِنَّكَ
نو بېشکه ته غَفُورٞ ډېر بخښونکی رَّحِيمٞ (او)
مهربان یې. (36)

رَّبَّنَآ ای زما ربه إِنِّيٓ بېشکه ما أَسۡكَنتُ اباد
کړل (مېشت کړل) مِن ذُرِّيَّتِي ځینې د خپل اولاد
څخه بِوَادٍ په داسې یو(وچ)وادي کې(په داسې یوه
وچه دره کې) غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ چې کرونده(زراعت)
نلري عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ ستا د عزتمند کور سره
رَبَّنَا ای زمونږ ربه (ما دا کار وکړ) لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ

د دې دپاره چې دوی لمونځ قایم کړي(چې لمونځ وکړي)
فَٱجۡعَلۡ نو(ای ربه) وګرځوه أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ زړونه
د خلکو تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ چې دوی ته میلان وکړي(
محبت ورسره وکړي) وَٱرۡزُقۡهُم او رزق ورکړه
دوی ته مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ د میوو څخه لَعَلَّهُمۡ بنایې
چې دوی يَشۡكُرُونَ شکر وباسي (۳۷)

رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن
شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ (38)
ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ
رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ (39) رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن
ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ (40) رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ
وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ (41) وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا
عَمَّا يَعۡمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ لِيَوۡمٖ تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ
(42) مُهۡطِعِينَ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ
وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٞ 43

رَبَّنَآ ای زموږ ربه إِنَّكَ بېشکه ته تَعۡلَمُ
پوهیږي مَا په هغه څه نُخۡفِي چې موږ یې پټوو
وَمَا او په هغه څه نُعۡلِنُۗ چې موږ یې ښکاره کوو

وَمَا يَخۡفَىٰ او نه شي پټېداى عَلَى ٱللَّهِ د الله تعالى نه
مِن شَيۡءٖ هيڅ يو شى فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمكه كې
وَلَا او نه فِي ٱلسَّمَآءِ په آسمانونو كې . (38)

كله چې اسماعيل عليه السلام تولد شو نو د ابراهيم عليه السلام عمر «٨١» كاله وو،او بيا يو څو كلونه وروسته اسحاق عليه السلام هم تولد شو.نو ابرهيم عليه السلام فرمايې:

ٱلۡحَمۡدُ ټولې ستاينې لِلَّهِ خاص د الله تعالى دپاره دي
ٱلَّذِي هغه ذات چې وَهَبَ لِي رايې كړل ما ته
عَلَى ٱلۡكِبَرِ په زړښت كې إِسۡمَٰعِيلَ اسماعيل عليه السلام وَإِسۡحَٰقَۚ او اسحق عليه السلام إِنَّ رَبِّي
بېشكه زما رب لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ د دعا اوريدونكى دى.
(39) رَبِّ اى زما ربه ٱجۡعَلۡنِي و ګرځوه ما مُقِيمَ
ٱلصَّلَوٰةِ قايموونكى د لمونځ(كوونكى د لمونځ،ادا كوونكى د لمونځ) وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ او زما د اولادونو نه
(هم) رَبَّنَا اى زمونږه ربه وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ زما دعا
قبوله كړه (40) رَبَّنَا اى زمونږه ربه ٱغۡفِرۡ لِي
بخښنه وكړه ما ته وَلِوَٰلِدَيَّ او زما مور او پلار ته

وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ او ټولو مؤمنانو ته يَوۡمَ په هغه ورځ
يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ چې حساب قايمېږي. (41)

وَلَا تَحۡسَبَنَّ او ګمان مه کوه ٱللَّهَ چې الله تعالی
غَٰفِلًا بې خبره دی عَمَّا د هغه څه نه يَعۡمَلُ
ٱلظَّٰلِمُونَۚ چې ظالمان يې کوي(يعنې اکثره خلک سره د
دې چې د الله تعالی نافرماني هم کوي،ظلمونه هم
کوي،دين د دنيا دپاره استعمالوي،خو بيا هم ژوند يې ښه
جوړ وی،مال،شهرت او اقتدار هم لري،نو دا فکر مکوه
چې ګنې دوی دالله تعالی هير دي،يا پرې خبر نه
دی،بلکې:) إِنَّمَا پرته د شک نه حقيقت دا دی چې:
يُؤَخِّرُهُمۡ هغه«جل جلاله» مهلت ورکوي دوی ته
لِيَوۡمٖ د هغې ورځې دپاره تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ
چې په هغې کې به(د انسانانو) سترګې غړولې پاتې
وي(يعنې د قيامت د ورځې د وېرې او هيبت نه به د چا
سترګې نه رپيږي) (42)

د قيامت په ورځ،کله چې د شپيلۍ په اواز سره مړي د
قبرونو نه راپورته کيږي،نو د الله تعالی حضور ته به د
حساب دپاره د حشر ميدان ته په بيړه روان وي.

مُهۡطِعِينَ په منډو به وي مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ سرونه به
يې پورته وي لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ سترګې به يې
بیرته ځانونو ته نه راګرځي ( یعنې نه ښي لوري ته،نه
چپ لوري ته،نه لاندې،بلکې یوازې مخکې د محشر خوا
ته به حیرې پاتې وي،یو خوا بل خوا به کتلای نشي.)
وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٞ اوزړونه به يې(د ویرې په سبب د هر
قسم ډاډ،عقل او فکر نه) خالي وي(یعنې په زړونو کې
به پرته د ویرې او هیبت څخه بل هیڅ نه وي) (43)

وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوۡمَ يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رَبَّنَآ
أَخِّرۡنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَۗ أَوَلَمۡ
تَكُونُوٓاْ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٖ (44) وَسَكَنتُمۡ فِي
مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ
وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ (45)

وَأَنذِرِ او خبر کړه ٱلنَّاسَ خلک يَوۡمَ د هغې
ورځې نه يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ چې دوی ته به«په هغې
کې» عذاب راشي (یعنې د قیامت ورځ) فَيَقُولُ نو
وایې به ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هغه خلک چې ظلم يې کړی
رَبَّنَآ ای زمونږه ربه ! أَخِّرۡنَآ مونږ ته مهلت راکړه
إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ د یو لږ وخت پورې (یعنې ای زمونږه

ربه لږ مهلت نور راکړه) نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ مونږ به ستا
دعوت قبول کړو وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَۗ او د پیغمبرانو پیروي
به وکړو (ورته به وویل شي) أَوَلَمۡ تَكُونُوٓاْ آیا تاسو
هغه خلک نه یئ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ چې د دې نه
مخکې مو (په دنیا کې) قسمونه خوړل مَا لَكُم مِّن
زَوَالٍ چې تاسو ته هیڅ زوال نشته(یعني کله چې هم،
رسولانو او د حق داعیانو مشرکینو او ملحدینو ته د الله
تعالی په نعمتونو باندې د شکر کولو،او ایمان ته دعوت
ورکړی،او د مرګ نه وروسته د بیا ژوندې
کیدلو،حساب،جنت او دوزخ څخه یې خبر کړي دي،نو
دوی په ډېره متکبرانه او ریشخندانه توګه جواب
ورکړی،چې دا هر څه زمونږ د خپل کوشش او کمال
نتیجه ده،نه د مرګ نه وروسته بیا ژوند شته.نه حساب
شته،نه جنت، نه دوزخ،او نه عذاب،او په ځای د دې چې
د الله تعالی پیغام ته یې لبیک ویلی وي،برعکس د
رسولانو او داعیانو پورې یې ټوقې او مسخرې کړې
دي)

(44) وَ او(الله تعالی به ورته فرمایي) چې سَكَنتُمۡ
اوسیدلی تاسو فِي مَسَٰكِنِ په کورونو کې ٱلَّذِينَ د
هغو خلکو (یعني تاسو خو د هغو خلکو په کورونو او

ښارونو کې اوسیدلی) ظَلَمُوٓاْ چې ظلم یې کړی وو
أَنفُسَهُمۡ په خپلو ځانونو(باید واضح شي،چې په نورو
خلکو ظلم په حقیقت کې په خپل ځان ظلم کول دي) وَ
او(د رسولانو،قرآن،او تاریخ پواسطه،ښه) تَبَيَّنَ
څرګنده(معلومه) شوي وه لَكُمۡ تاسو ته كَيۡفَ فَعَلۡنَا
چې مونږ څه وکړل بِهِمۡ د هغوی سره(لکه د نوح
علیه السلام قوم،عادیان ثمودیان،فرعونیان،او په هره
زمانه کې الله تعالی د وخت فرعونیان او ظالمان
هلاکړي،او هلاکوي یې،خلک یې ګوري،خو نه د قرآن
او تاریخې معلومات او نه د پخپلو سترګو د لیدلي حال
څخه عبرت اخلې،بلکې اکثریت خلک هماغه څه کوي
چې ظالمانو کړي،او څنګه چې هغوی هلاک شوي
همداسې دوی هم هلاکیږي،خو حق نه منې) وَضَرَبۡنَا
لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ او مونږ درته «ډېر» مثالونه وړاندې کړل
(د عبرت دپاره،تر څو له هغوی نه عبرت واخلی،او د
کفر او ظلم لاره پرېږدئ) (45)

وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ
لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ (46)

وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ او یقیناً هغوی«کفارو» خپل
تدبیرونه(د الله تعالی د دین د منځه وړلو دپاره) کړي (او
کوي یې) وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ خو د هغوی«ټول»
تدبیرونه د الله تعالی په علم کې دي وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ
اګر که د هغوی تدبیرونه داسې «هم» وي لِتَزُولَ مِنۡهُ
ٱلۡجِبَالُ چې:د هغوی په واسطه غرونه وخوځیږي(لیکن
د الله تعالی دین ته هیڅ ضرر نشي رسولای) (۴۶)

فَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ رُسُلَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٖ
(47)

فَلَا تَحۡسَبَنَّ نو ته دا فکر مه کوه ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ
رُسُلَهُۥٓۚ چې الله تعالی به د خپلې هغې وعدې خلاف
وکړي،چې د خپلو رسولانو سره یې کړي ده. إِنَّ ٱللَّهَ
عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٖ بېشکه الله تعالی ډېر زورور انتقام
اخستونکی دی.(یعنې الله تعالی چې څومره وعدې د خپلو
پیغمبرانو،خصوصاً د محمد«صلی الله علیه وسلم» په
ذریعه،په قرآنکریم کې د خپلو بندګانو سره کړي دي،هغه
ټولې پوره کوي،یعنې پس د مرګ نه بیا راژوندي

کيدل،د قيامت قايميدل،زره په زره حساب کول،نيکانو ته جنت ورکول،او مجرمانو ته په جهنم کې عذاب ورکول.......) (47)

يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ (48)

يَوۡمَ په هغه ورځ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ چې بدله به شي ځمکه غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ

په بله ځمکه وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ او اسمان(هم)

(يعنې د ځمکې او آسمان موجوده شکلونه به بيخي بدل شي،انسانان،نباتات،حيوانات ښارونه،بلډنګونه،اوغرونه به ټول ختم شي،بحرونه به اور واخلي، اوبه او هوا به وسوځې،او د ځمکې لوړي او ژوري به په داسې هوار او پاک ميدان بدلي شي،چې د حساب او عدالت دپاره به مناسب وي.د دنيا نظام به ختم شي،اوسنی آسمان او ځمکه به په بل اسمان او ځمکه بدل شي .

ابن عباس«رضی الله عنهما» فرمايې:ځمکه به په داسې ځمکه بدله شي چې:پاکه او هواره به وي،غرونه غوندۍ،غارونه او ودانۍ به پکې نه وي.

اوس په دې اړه يو څه ساينسې تحقيقات ذکر کوو،خو اول بايد د قرآن او ساينس په باره کې په ځنې ضرورې خبرو پوه شو:

قرآن د الله تعالی قول دی،او کائينات د الله تعالی فعل دی،او ساينس د کائيناتو مطالعه ده،نو لکه څنګه چې د الله تعالی په قول او فعل کې اختلاف نشته،همدارنګه په قران او حقيقي ساينس کې هم اختلاف او ټکر نشته،البته که په کوم ځای کې اختلاف او ټکر راځې،غلطي يا په ساينسدان کې ده،او يا د هغه کشف(ډيسکورې) غلط دی.بايد پوه شو چې قرآن د ساينس تفصيلي کتاب نه دی،بلکې د هدايت،ايمان او اخلاقو دپاره نازل شوی دی،قرآن عمومي حقيقتونو ته اشاره کوي،او ساينس د قرآن د عمومي حقيقتونو د تحقق يو احتمالي تفصيل دی.

ساينس د مشاهدې او تجربې په بنسټ ولاړ دی،هره ورځ نوي تيوري راځې،او زړې بدليږي،نو که مونږ

قران مستقيماً د يوي تيورۍ سره وتړو،ممكن سبا هغه تيوري رد شي،

نو غوره دا ده چې:ووايو!

ساينس د قرآن د عمومي حقيقتونو يوه تشريخ وړاندې كوي،افراط او تفريط دواړه غلط دي.

افراط: د قرآن هر آيت په زوره د ساينسي اصطلاحاتو سره تړل(حتى كه مناسب هم نه وي).

تفرط:داسې ويل چې قرآن هيڅكله د طبيعت په حقله خبرې نكوي.

اعتدال: قرآن د طبيعت د لويو حقايقو يادونه كوي،ساينس يې تفصيل ښيې.

قرآن د قيامت د صحنې عمومي تصوير وړاندې كوي،ساينس ښيې چې په فزيكي دنيا کې دا څنګه كيداى شي.دواړه سره ټكر نلرې،خو په دې شرط چې ساينس د ساينسدانانو او د هغوى د كشفياتو د غلطيو او افراط او تفريط څخه پاک وي.

نو د ذکر شوي معلومات په نظر کې نیولو سره د ځمکې
او د آسمان د بدلیدلو... په اړه د یو څه ساینسي تحقیقاتو
یادونه کوو!

(۱)

قرآن فرمايي:

وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ" (التکویر:۳) او کله چې غرونه
وخوځول شي

معنا: غرونه چې نن ورځ کلک او ثابت ښکاري، د
قیامت پر ورځ به داسې بې‌ثباته شي چې د خپل ځایه به
پورته او خوځنده شي

ساینس وایې:چې د ځمکې قشر یا سطحه د غټو غټو
تختو څخه جوړه شوی ده،چې ټیکټونیک پلیټونه وررته
وایې،د نوموړو پلیټونو داخلي خوا د «مګما» یعنې د
ویلي شوو تیږو څخه د جوړې شوي مایع دپاسه
خوږېږي،او خوځیږي،چې له امله یې زلزلې،اتش فشانونه
او د غرونو خوځیدنه منځ ته راځې،خو د قیامت په کچه
د خوځښت په سبب چې د ډېر قوي آسماني ټکر یا د

ځمکې د داخلي سیستم د ګډوډیو نه منځ ته راځي،غرونه د خپل ځایه پورته کیدلای،او بې ځایه کیدلای شي.

📚 ریفرنس: National Geographic – Plate Tectonics Evidence

(۲)

قرآن فرمايي:

يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ( طه ۱۰۵ ) د قیامت په ورځ به الله تعالی غرونه ونړوي(چپه به يې کړي)

كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ" (القارعة:۵)

د رنګه ډاندس شووو وړیو پشان(به توټې توټې شي)

ساینس وایي:غرونه د لویو زلزلو، د آسماني اجسامو د ټکر یا د قوي چاودنو پر مهال نړیږي  یا چپه کیږي،کله چې چپه شي بیا د طبیعي فشارونو پواسطه په لویو تیږو او کوچنیو ټوټو ویشل کیږي.

ریفرنس: Encyclopaedia Britannica – Mountain Erosion

(۳)

قرآن فرمايي:

وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنبَثًّا" (الواقعة:۶-۵)"

غرونه به داسې میده میده شي، چې د دوړو په شان به خپاره شي.

یعنې د غرونو ټوټې به دومره وړې شي چې د دوړو په شان به په فضا کې خپرې شي

ساینس وایي:

کله چې دا لویې تیږې او وړې ټوټې په چاپیریال کې پاتې شي،د وخت په تیریدو سره لا کوچنۍ او سپکیږي،د باران او سندونو د اوبو بهیر د تیږو ټوټې کوچنۍ کوي،او په شګو بدلیږي،همدارنګه د باد پواسطه زرات د تیږو په سطحه لرېږي،او ورو ورو یې په دوړو بدلوي،دا په دې معنی،غرونه په وړو زراتو او دوړو بدلیږي،چې د باد پواسطه فضا ته پورته کیږي او

خپریږي،نن ورځ هم د صحرايي دوړو طوفانونه د غرونو د تخریب نتیجه ده.

📚 ریفرنس: NASA Earth Observatory – Dust Storms and Erosion

(۴)

قرآن فرمايي:

وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا" (النبأ: ۲۰)"

.غرونه به وخوځول شي او د سراب په شان به شي

یعني د غرونو د منځه تللو څخه وروسته به داسې ښکاري چې غرونه شته،خو په حقیقت کې به نه وي،دا به د ډېر شدید حرارت له امله د سراب په شان ښکاري.

ساینس وايي: کله چې لمر د خپل ژوند آخرنۍ مرحلو ته ورسیږي،د سوځیدو مواد(یعني هایدروجن) به يې خلاص شي،لمر به په «ریډ جاینټ» بدل شي، یعنې لوی به شي، او حجم به يې دومره زیات لوی شي چې اندازه به يې د ځمکې مدار ته راورسیږي،د سطحې حرارت به يې ۳۰۰۰-۴۰۰۰ سانتیګیریډ وي، رڼا به يې سره نارنجي وي،او د ځمکې د سطحې سره د ډېر نزدې والي

په سبب به د ځمکې تودوخه هم زرګونو درجو سانتي ګيريد ته ورسيږي،چې په دومره لوړه تودوخه کې به ټول غرونه ،تيږي او فلزات ويلي شي،

بحرونه خو په عادي حالت کې اور نه اخلي،ليکن د لمر د ريډجاينټ په مرحله کې د زرګونو درجو حرارت په سبب به د اوبو ماليکول مات شي، اکسجن او هايدروجن به جدا شي ،خو بيا چې کله سره تماس کوي،نو بيخي شديده چاودنه به منځ ته راځي،هايدروجن به د اکسيجن په موجوديت کې سوځي،او د اور لمبې به جوړوي.بحرونه به د اور په شان ښکاري،نو ساينس وايي چې په ډېره لوړه تودوخه کې واقعاً د اوبو څخه اور راپورته کيدای شي،خو قرآن دا خبره ۱۴۰۰ کاله مخکې په سورة التکوير کې کړي ده.

وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ (التکوير-۶) او کله چې بحرونه( لکه د اور په شان) لمبه کړل شي.

يعني دا خبره چې بحرونه اور اخلي ۱۴۰۰ کاله مخکې قرآن فرمايلي،خو تفصيل يې نن ساينس کوي چې څنګه يې اخلي.

📚 ريفرنس: NASA – The Future of the Sun

ریفرنس: Harvard-Smithsonian Center for Astrophysics – Planetary Evaporation

(۵)

قران فرمايي:

فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا" (طه:۱۰۶)"

ځمکه به د يوې هوارې سطحې په شان پاتې شي (يعني غرونه به د منځه لاړ شي او ځمکه به هوار ميدان پاتي شي)

ساينس وايي: كه غرونه تباه شي، د ځمکې قشر به هوار شي،يعني د ځمکې د پليټونو خوځښت بنديږي،مواد يعنې زرات او دوړي په ټيټو ځايونو کې کېني،او ځمکه هوار ميدان کيږي

ریفرنس: Geology Texts on Planetary Surface Evolution

لکه چې مخکې ذکر شو چې يو وخت د لمر د سوخت مواد خلاصيږي، او په ريډ جاينټ بدليږي ،لويږي،او حجم يې دومره زياتيږي چې د ځمکې سطحې ته رارسيږي،د ځمکې تودوخه زرهاوو درجو سانتي ګيريد

ته رسيږي،او رڼا به سره نارنجي شي.يعني کله چې لمر
د ريډ جاينټ مرحلي ته ورسيږي،رڼا به يې سره نارنجي
شي،فضا به دشديد حرارت او پلازما له امله سور
انعکاس وښيې،د ځمکې نه به داسې ښکاري چې ټول
آسمان سور يا ګلابي رنګ لري.چې دا حقيقت قرآن
۱۴۰۰ کاله مخکې په سورةالرحمن کې داسې بيان کړی
دی!

فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ (الرحمن-۳۷)
آسمان به د ګلاب پشان سور وي.

او دا خبره چې:کله لمر په ريډ جاينټ بدل شي،لمر به
دومره غټ شي چې د ځمکې د مدار پورې به
راورسيږي،يعني د ځمکې سطحې ته به بيخي نژدې
شي،د پغمبر عليه السلام په حديث کې داسې ذکر شوي
ده!

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ
قال رسول الله ﷺ:

تَدْنُو الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ، فَيَكُونُ النَّاسُ عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ

(رواه مسلم، كتاب المساقاة، حديث: ٢٨٦٤)

ابو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايي:

د قيامت په ورځ به لمر له مخلوق سره دومره نژدې شي چې يوازې د يوه ميل په اندازه به ترې لرې وي. نو خلک به د خپلو اعمالو په اندازه په خولو کې ډوب وي.

په یاد کې باید وواېو چې:قرآن د قیامت د صحنې عمومي تصویر وړاندې کوي،(غرونه به وخوځيږي،وبه نړیږي،ټوټې ټوټې به شي،میده میده او په دوړو به بدل شي،لمر به د ځمکې د سطحې سره ډېر نژدې شي«حدیث شریف»د ځمکې سطحه به ډېره زیاته ګرمه او هوار میدان شي،بحرونه به اور واخلي،او د آسمان رنګ به سور شي.او په ځمکه او اسمان کې به د لیدو وړ بدلون راشي)

خو ساینس بنيي:چې په فزیکي دنیا کې دا څنګه کیدای شي چې:غرونه وخوځيږي،ونړیږي،ټوټې ټوټې او په دوړو بدل شي،ځمکه ګرمه او هوار میدان شي،لمر ځمکې ته نژدې،بحرونه د اور لمبه شي ،او د آسمان

رنګ سور ګلابي شي،او په ځمکه او آسمان کې د ليدلو وړ بدلون راشي.

بيا هم بايد ووايو،چې د قرآن خبره هميشه ثابته او حق ده،بدلون په کې نه راځي،خو ساينس اکثره بدليږي،که کله هم د ساينس او قران په کومه خبره کې ټکر راشي،د قران خبره بالکل حق او صحيح ده،غلطي يا په ساينسدان کې ده،او يا د ساينس کشف غلط دی،ځکه چې قران او حقيقي ساينس هيڅکله ټکر نه کوي،او نه په کې اختلاف شته،ځکه چې قرآن د الله تعالی قول او ساينس د الله تعالی د فعل يعني کائناتو مطالعه ده،او د الله تعالی په قول او فعل کې ټکر او اختلاف نشته.

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ (48) او ټول خلک به د واحد القهار الله تعالی په وړاندې حاضر شي.

وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ (49)
سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ (50) لِيَجۡزِيَ
ٱللَّهُ كُلَّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ (51) هَٰذَا بَلَٰغٞ

لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ وَلِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ
ٱلۡأَلۡبَٰبِ (52)

وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٍ او ته به د قيامت په ورځ
مجرمين وګورې مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ چې په
ځنځيرونو کې به تړل شوي وي(هم به يې د اوسپني په
ځنځيرونو پښې او لاسونه د غاړو سره تړلي وي،او هم
به يو دبل سره تړل شوي وي) (49) سَرَابِيلُهُم مِّن
قَطِرَانٍ جامې به يې د قطران وي(قطران داسې توره او
سريښناکه مواد دي،چې د پوستکي پورې نښلي او
سوري يې بندوي،چې د درد او تکليف د زياتوالي سبب
کيږي،زر لمبه کوي،اور يې تيز وي،لوګى يې زهرجن
او بد بويه وي) وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ او مخونه به
يې د اور( لمبې) پټوي(يعنې په بدن به يې د قطران
جامې وي،او د مخونو څخه به يې د اور لمبې راتاو وي)
(50) لِيَجۡزِيَ ٱللَّهُ (او دا ټول عذابونه لکه زنځيرونه،د
قطران کالي او نور.....بې هدفه نه دي،بلکې د دې دپاره
دي) چې الله تعالى بدله ورکړي كُلَّ نَفۡسٍ هر انسان
ته مَّا كَسَبَتۡۚ د هغو اعمالو چې هغه(په دنيا کې)
کړي دي إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ

ډېر زر حساب اخستونکی دي.(مونږ په دنيا کې ګورو
چې:که «د بيګ ډاټا سيستم» يا غټ معلوماتي سيستم په
ثانيو کې په مليااردونو «ډاټا» يا معلومات محاسبه کولای
شي،نو د الله تعالی: لا محدود علم ته د ټول مخلوق
محاسبه په سکينډونو کې هيڅ مشکل کار نه دی،بلکې که
الله تعالی وغواړي: هغه«جل جلاله» کولای شي چې د
آدم عليه السلام څخه د قيامت پورې د ټولو انسانانو
حساب د سيکنډ څخه هم په ډېر زيات کم وخت کې
وکړي.) (51) هَٰذَا دا (قرآن) بَلَٰغٌ يو پيغام دی
لِّلنَّاسِ ټولو انسانانو ته (يعنې يوازې د عربانو دپاره نه
دی،بلکې د دنيا په ګوټ ګوټ کې د هرانسان دپاره
دی،هغه که تور وي که سپين،مسلمان وي که ملحد
وي،که مشرک،چې نن په ريښتيا هم د ټيکنالوجې
پواسطه د قران پيغام د دنيا هر ګوټ ته رسيدلی دی)
وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ تر څو چې هغوی(يعنې انسانان) د دې
قرآن پواسطه سره خبر شي وَلِيَعۡلَمُوٓاْ او چې پوه شي
أَنَّمَا چې حقيقت دا دی هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ چې يوازې
هغه«جل جلاله» د عبادت (او بندګۍ) لايق دی وَلِيَذَّكَّرَ
او د دې دپاره چې نصيحت واخلي أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ د
عقل خاوندان(يعنې د قرآن د پيغام څخه يوازې هغه

خلک ګڼه اخلي چې عقلونه استعمالوي،تدبر او تفکر
کوي،نه دا چې د خلکو ړوند او کوڼ تقلید کوي)
(۵۲)

# سورة الحجر

بسم الله الرحمن الرحيم

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ (1)

الٓرۚ دا د حروفو مقطعاتو څخه دي،مطلب او معنی یې
یوازې الله تعالی ته معلومه ده تِلۡكَ دا ءَايَٰتُ
آیاتونه دي ٱلۡكِتَٰبِ د الکتب وَ او قُرۡءَانٖ د
قرآن مُّبِينٖ روښانه (1)

الٓرۚ دا د حروفو مقطعاتو څخه دي،معنی یې یوازې الله
تعالی ته معلومه ده

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ (1) دا د لوح محفوظ (او
د لوح محفوظ څخه د نازل شوي) روښانه قرآن آیاتونه
دي.(دا مبارک آیت د قرآن او د قرآن د آیاتونو سرچینه
او عظمت ښیي،یعني د انسان پواسطه نه دي جوړ
شوي،بلکې د لوح محفوظ څخه د جبریل علیه السلام

پواسطه په محمد«صلی الله علیه وسلم» باندې نازل شوي دي).

## بسم الله الرحمن الرحیم

## څورلسمه (۱۴) سیاره

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ (2)

رُّبَمَا ډېر ځله يَوَدُّ به ارزو کوي ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کفر يې کړی لَوۡ کاش كَانُواْ چې:وای هغوی مُسۡلِمِينَ مسلمانان. (2)

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ډېر ځله به کافران ارزو کوي(يعنې په ډېرو ځايونو کې به کافران ارمان کوي!) لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ چې کاشکې دوی(هم) مسلمانان وای(کله چې د مرګ په وخت کې د عذاب فريښتې وګورې،په قبر کې:کله چې د عذاب نښې وويني،د قيامت په ورځ چې د مؤمنانو نجات او د کافرانو عذاب وګورې،کله چې:مسلمانان د جنت خوا ته روان شي نو دوی به ووايې چې کاش چې مونږ هم مسلمانان وای،او

کله چې ګنهګار مسلمانان د څه وخت نه وروسته الله تعالی د دوزخ څخه وباسي،نو دوی به وايي چې کاش چې مونږ هم مسلمانان وو،چې يو وخت د اور څخه وتلای وای.) (2)

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ (3)

ذَرۡ ته پرېږده هُمۡ هغوی يَأۡكُلُواْ چې وخوري وَيَتَمَتَّعُواْ او خوندونه(او مزې) وکړي وَيُلۡهِهِمُ او غافل يې کړي ٱلۡأَمَلُۖ اوږده اميدونه فَسَوۡفَ خو ډېر زر به يَعۡلَمُونَ دوی پوه شي (3)

که مشريکان او کفار د واضحه دلايلو او نښو سره بيا هم د قران او ايمان دعوت ردوي،نو !

ذَرۡهُمۡ هغوی پرېږده يَأۡكُلُواْ چې دوی وخوري وَيَتَمَتَّعُواْ او خوندونه (او مزې)وکړي وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ او(اوږده اوږده) اميدونه يې غافله کړي (د آخرت څخه) فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ خو ډېر زر به پوه شي (3)(يعني که کافرانو د قرآن د روښانه دلايلو او معجزو سره سره بيا هم د قرآن او ايمان دعوت رد کړو،او ايمان نه

راوړي،نو ته مه خفه کیږه چې ولې ایمان نه راوړي؟تا
خپل مسؤلیت سر ته ورسولو،ته د چا د زړه دروازې
نشي خلاصولای،نو يې پرېږده،چې خورې او
څکې،خوندونه او مزې کوي،او د دنيا اوږدې اوږدې
خيالي ارزوګانې يې د خپل رب او آخرت څخه په غفلت
کې کړي،خو ډېر زر به په حقيقت پوه شي،کله چې د
مرګ فرېښتې په سترګو وګورې،کله چې د خرورونو
خاورو لاندې شي،کله چې د قبرونو څخه راپورته شي
او د حشر ميدان ته د حساب دپاره لاړ شي،نو پخپله به
يې عقل سر ته راشي او په هر څه به ډېر ښه پوه
شي،خو ډېر به ناوخته وي.)

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ (4)

وَ او مَآ نه دی أَهۡلَكۡنَا هلاک کړی مونږ مِن
هيڅ قَرۡيَةٍ يو کلی إِلَّا مګر(هر کلی چې هلاک
کیږي) وَلَهَا د هغه دپاره كِتَابٞ يو تقدير وي
مَّعۡلُومٞ معلوم . (4)

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا او مونږ نه دي هلاک کړي مِن قَرۡيَةٍ (اوسيدونکي) د هيڅ يو کلي إِلَّا مګر(د هر کلي اوسيدونکي چې هلاک کيږې) وَلَهَا د هغوی دپاره كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ يو معلوم تقدير وي (چې د الله تعالى د علم څخه په لوح محفوظ کې داسې ليکل شوي وي،چې:د فلانکي کلي خلک به په خپل اختيار داسې عملونه وکړي،چې د هغې په سبب به د عذاب او هلاکت مستحق شي،او په فلان وخت کې به د الله تعالى په عذاب باندې هلاک شي) (4)

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ (5)

مَّا تَسۡبِقُ مخکې د منځه نه ځي (نه ختميږي) مِنۡ هيڅ أُمَّةٍ يو امت أَجَلَهَا د خپل ټا کلي وخت څخه وَ او مَا نه يَسۡتَـٔۡخِرُونَ وروسته کيږي. (5)

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا هيڅ يو امت د خپل مقرر وخت
څخه مخکې د منځه نه ځي وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ او نه(د
خپل مقرر وخت څخه) وروسته پاتې کيدای شي.( يعني
يو ملت يا قوم په لوح محفوظ کې د تقدير د ليکل شوي
نيټې څخه مخکې نه د منځه ځي،او نه وروسته پاتې
کيدای شي.بايد واضح شي چې تقدير د الله تعالی د علم
څخه ليکل شوی دی،يعني دا د الله تعالی په علم کې دي
چې فلان امت يا قوم به پخپله خوښه او اختيار سره
داسې داسې اعمال وکړي،چې د هغې په سبب به په فلان
وخت کې پرې عذاب راشي،او ختم به شي.) (5)

وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ (6)

وَ او قَالُواْ هغوی وويل(کافرانو ويل) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي
ای هغه سړيه نُزِّلَ چې نازل شوی عَلَيۡهِ په
هغه باندې ٱلذِّكۡرُ قرآن (يعني چې په تاباندې قرآن
نازل شوی دی) إِنَّكَ بېشکه ته لَمَجۡنُونٞ
(نعوذبالله) خامخا ليونی يې. (6)

وَقَالُواْ او(کافرانو رسول الله «صلی الله علیه وسلم ته)
وویل يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي اى هغه سړيه نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ
چي په تا باندي قرآن نازل شوی دی إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ
بېشکه ته خو(نعوذبالله) لیونی یې (د یوې خوا نه اعتراف
کوې،چې په تا قران نازل شوی،او بیا د مخالفت او ضد
په سبب په تمسخر سره وایې چې،نعوذبالله ته لیونی
یې.دا په هره زمانه کي د حق ویونکو د دښمنانو طریقه
ده:چي دلیل ته جواب نشي ورکولای،نو د شخصیت
سپکاوی کوي.) (6)

لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ (7)

لَّوۡ ولې مَا نه تَأۡتِينَا راولې مونږ ته
بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فرېښتې إِن كه كُنتَ یې ته مِنَ
د ٱلصَّٰدِقِينَ رېښتیا ویونکو څخه (7)

همدارنګه کافرانو به نبي علیه السلام ته ویل:

لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ ته ولې مونږ ته فرښتې نه راولې
إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ که ته په رښتيا پيغمبر يې(چې
ستا د نبوت تصديق وکړي.دا د کافرانو عادت دی،کله
چې:دليل نه منې،نو د عجيبه شيانو غوښتنه کوي.نن سبا
هم ملحدين او شکمن«ايتېيس او ايګناسټيک» وايې که
دين رښتيا وي،ولې فرېښتې ښکاره نه راځې؟ ولې مونږ
الله تعالی په سترګو نه وينو؟خو منطق دا دی چې ايمان د
امتحان په اساس دی،که فرېښتې ښکاره شي،او خلک الله
تعالی په سترګو وګوري،نو بيا خو ايمان په زور يعني
جبري کيږي،هيڅ څوک انکار نشي کولای،ازادي،اختيار
او امتحان ختميږي.) (7)

مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ (8)

مَا نه نُنَزِّلُ نازلوو مونږ.(نه ښکته کوو مونږ.)
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ فريښتې إِلَّا مګر بِٱلۡحَقِّ د حق
سره(يعنې د وحې يا عذاب سره) وَ او (که
فريښتې ښکاره شي،نو!) مَا نه كَانُوٓاْ به وي
دوی(يعنې کافران) إِذٗا په هغه وخت کې(چې
فريشتې ورته ښکاره شي) مُّنظَرِينَ مهلت ورکول
شوي (8)

الله تعالی کافرانو ته په ځواب کې فرمايي:

مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ مونږ فريښتې(د دې دپاره) نه نازلوو(چې خلک د ایمان په راوړلو مجبور کړي،ځکه بيا خو د انسان ازادي،اختيار او امتحان ختميږي)

إِلَّا مګر(هرکله چې فريښتې ښکته کيږي نو!) بِٱلۡحَقِّ د حق سره(ښکته کيږي يعنې يا د وحې د وړلو دپاره، او يا د سزا ورکولو دپاره ښکته کيږي،او څه وخت چې انسانانو ته فريښتې ښکاره شي،نور نو د هغوی ازادي،اختيار او امتحان ختميږي،او سمدستي جزا شروع کيږي.) وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ او په هغې وخت کې به هغوی یعنې کافرانو ته نور هيڅ مهلت نه ورکول کيږي.(لکه په عاديانو،فرعونيانو،او په هره زمانه کې يې خلک په سترګو ګورې کله چې د الله تعالی عذاب راشي،بيا نو پکې مهلت نه وي،طوفانونه،سيلابونه،زلزلې،وباګانې......دا ټول د الله تعالی عذابونه دي،دا چې خلک يې په ځان نه راوړي،او

یوازې د طبیعي افتونو په نوم خبره ختموي،دا نو بیله
خبره ده....) (8)

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ (9)

| |
|---|
| إِنَّا ببشكه مونږ نَحۡنُ مونږ(د تاكيد دپاره) نَزَّلۡنَا نازل كړى ٱلذِّكۡرَ دا قرآن وَ او إِنَّا ببشكه مونږ لَهُۥ د هغه (يعني قرآن) لَحَٰفِظُونَ خامخا ساتونكي يو. (9) |

الله تعالى فرمايي:

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ ببشكه مونږ پخپله قرآن نازل كړى دى.

وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ (9) او ببشكه مونږ يې ساتونكې يوو.(نور آسماني كتابونه لكه تورات او انجيل د خلكو په لاسونو تحريف شول،ليكن د دشمنانو د كوششونو سره سره بيا هم الحمد لله قرآنكريم د الله تعالى د وعدې له مخې خوندې پاتې دى،او څنګه چې د نبي عليه السلام او

صحابه کرامو رضی الله عنهم په وخت کې وو،اوس هم په ټوله